# حجاب او شرعي لباس

## د قرآن او حديث په رڼا کي

صحابه، ائمه، فقهاء، محدثين او مفسرين څه وايي؟

کومه رأی سمه او غوره ده؟

**حکمتيار**

# حجاب او شرعي لباس

## د قرآن او حديث په رڼا کي

### صحابه، ائمه، فقهاء، محدثين او مفسرين څه وايي؟

### کومه رأى سمه او غوره ده؟


حکمتيار

د حزب اسلامي افغانستان امير

**د کتاب پېژندنه:**

نوم: حجاب او شرعي لباس

لیکوال: حکمتیار

د حزب اسلامي افغانستان امیر

لومړی چاپ: جوزا ۱٤۰۱ هـ ش

د چاپ شمېر: ۵۰۰۰ ټوکه

قیمت: ۵۰ افغانۍ

**د چاپ ټول حقوق محفوظ دي**



بسم الله الرحمٰن الرحیم

# تمهید

الله تعالی موږ ته د ژوند په ټولو فردي او اجتماعي برخو کې داسي جامع لارښووني کړې چي زموږ فطرت یې تقاضی کوي او سعادت مو ورپوري تړلی؛ د لباس په اړه یې هم موږ ته ټولي لازمي لارښووني کړې دي.

لباس د انساني ژوند یوه مهمه قضیه ده؛ هم له طبیعي او اجتماعي پلوه او هم له دیني او مذهبي پلوه؛ هر دین او مذهب به حتماً دې اړخ ته توجه کوي او په دې ارتباط به د انسان پوښتنو ته ځواب وایي. اساسي پوښتني او مسائل دا دي:

- د انسان او نورو ژویو تر منځ د لباس په ارتباط دا اوسنی توپیر څنگه او ولي راپیدا شوی؟ ولي له انسان پرته بل هر ژوی د پیدایښت له لومړیو ورځو د ښکلې او مناسبي فطري جامې خاوند شي؛ هم یې له تودوخي ساتي او هم له یخني؛ نه شړېږي او نه زړېږي او نه یې بدلولو ته اړ کېږي؛ اما انسان د پیدایښت له لومړۍ ورځي چي بربنډ پیدا کېږي؛ تر پایه له فطري او طبیعي جامې بربنډ او مصنوعي جامې ته اړ وي؟ د دې توپیر عامل او سبب څه دئ؟
- انسان ځانته د خپلي خوښي جامه جوړوي؛ دا اختیار به څنگه کاروي؟ محدودیتونه یې کوم دي او د اختیار دائره یې څومره پراخه او تنگه ده؟ آیا فقط همدومره ده چي په یخني کي به بېله او په تودوخي کي بېله جامه اغوندي؟ آیا د نارینه او ښځینه په لباس کي توپیر ضروري دئ؟ په نورو ژوو کي

دا توپیر په څرګنده توګه ګورو؛ داسي چي په ټولو کي نارینه تر ښځینه ډېر او په بارزه توګه ښایسته وي؛ توپیر ئې هم ډېر څرګند؛ نارینه رنګین او ښځینه ساده؛ آیا انسانان هم دې فطري توپیر ته اړ دي او دا ئې د فطرت مقتضیٰ ده؟

• د نورو ژوو او انسان تر منځ د جامې په ارتباط دا توپیر هم ګورو چي د نورو ژوو جامه ثابته وي؛ له خپل فطري جوړښت سره متناسبه؛ اما انسان خپله جامه بدلولی شي؛ څوك له جامې پسه برېښي خو په سینه کي به ئې د لېوه زړه وي؛ څوك زمری برېښي خو په حقیقت کي به د ګېدړ په څېر ډارن وي، ښځه کولی شي د نارینه جامه واغوندي او نارینه د ښځې؛ په جامې سره خلك غولولی شي. د پولیس په جامه کي به غله ګورو او د قاضي په جامه کي ظالمان. دا ټول د دې غوښتنه کوي چي جامه او څرنګوالی ئې جدي وګڼل شي او په اړه ئې سطحي او عادي چلن ونه شي.

• دا هم د قرآن یو ستر علمي إعجاز دئ چي وايي: إنسان له خپلي فطري جامې؛ د یوې ممنوعه ونې د مېوې په خوړلو سره محروم شوی؛ او د دې غلطي عامل شیطان او د هغه وسوسه وه؛ هغه پوهېدو چي له طبیعي جامې د انسان محرومېدا او په دوی کي د مصنوعي جامې رائجېدا؛ له شیطان سره د خپلو خطرناکو منصوبو په پلي کېدا کي څومره مرسته کوي. نن ئې موږ بدي پايلي په خپلو سترګو ګورو.

• غربي سیکولر افکار بربنډتوب خوښوي؛ مخصوصاً د مېرمنو لپاره؛ هیڅ محدودیت هم نه مني؛ حتی په دوبي کي بشپړه کورنۍ کولی شي ملر ته د کوم پارك چمن کي یا د ساحل شګو کي په بشپړه توګه لوڅ او بربنډ څملي؛ نه څوك د اعتراض حق پرې لري او نه ئې بد او کرکجن عمل ګڼي!! اما ټول الهي دینونه او په سر کي ئې اسلام؛ دې ته د شیطاني عمل په سترګه ګوري او د لباس په اړه داسي لارښووني او احکام لري چي هم به نارینه هغه مراعاتوي او هم ښځینه.

• پر دې پوښتنو سربېره؛ له هر هغه مسلمان سره چي غواړي د ژوند په ټولو برخو کي د شریعت له حکم او غوښتنو سره سم عمل وکړي؛ دا پوښتنه راولاړېږي چي د نارینه او ښځینه شرعي او ضروري لباس په اړه د اسلام حکم

څه دئ؟ د نارینه لباس به څنګه او د ښځو جامه به څنګه وي؟ آیا هغه جامه چي ښځي او سړي يې د حج په دوران کي پر اغوستو مکلف شوي؛ نارینه یو څادر او لونګ؛ چي نه به په وَرْس او زعفران رنګ او معطر کړی شوي وي، نه به ګنډل شوي وي، سر به يې لوڅ وي، په پښو به يې پڼې یا پڼو ته ورته څپلۍ چي د پښو ښېډۍ په کي پټې نشي؛ او ښځي به نه مخ پټوي او نه لاسونه؛ یعني نه به نقاب پر مخ اچوي او نه لاس پوښي (دستکش)؛ دا د حج جامه داسي ده چي نه به څه ترې کموي او نه به څه پرې زیاتوي. آیا په نورو حالاتو کي همدومره جامه کافي ده؟

متأسفانه د نارینه او ښځینه شرعي لباس او د حجاب په اړه هم په امت کي د اختلاف شاهد یو؛ ځیني خاص لباس ته د سنت په سترګه ګوري، د نارینه لپاره سر لوڅول او د ښځو لپاره مخ لوڅول هم ګناه ګڼي، د نارینه او ښځینه فرضي لباس په اړه بېل بېل حدود لري او بېل بېل معیارونه کاروي. ځیني بیا داسي دي چي خپل کلیوال لباس ته د سپېڅلي او شرعي لباس په سترګه ګوري؛ واسکټ به جائز او د ثواب وړ جامه ګڼي؛ خو کرتۍ او کوټ به انګرېزی او غیر اسلامي بولي؛ په داسي حال کي چي واسکټ نه یوازي انګرېزی لباس دئ بلکي نوم يې هم انګرېزی (waist coat) دئ چي موږ ترې واسکټ جوړ کړی!! څوك به افغاني کمیس او پرتوګ غوره او د مذهب له معیارونو سره سمه جامه ګڼي او څوك به اروپايي دریشي، شپو، نیکټايي او مفلر خوښوي او د مېرمنو لپاره میني ژوپ!! د جامې په اړه به مو انتخاب د کوم معیار له مخي وي؟! طبیعي ده چي د هر مسلمان ځواب به دا وي چي همغه جامه چي رسول الله صلی الله علیه و سلم او صحابه وو او د دوی مېرمنو اغوستې وې. خو که ورته وویل شي: د رسول الله صلی الله علیه و سلم په شمول ټولو صحابه وو او د حجاز اکثر خلکو داسي جامه درلوده چي نن يې حاجیان په احرام کي اغوندي: یو څادر او لونګ؛ ډېرو يې د فقر او مسکنت له کبله یوازي یو لونګ درلود؛ آیا چمتو یې خپله اوسنۍ او کلیواله جامه په څادر او لونګ بدله کړې؟ جواب

که ئې په خوله هر څه وي خو عملاً تغییر ته چمتو نه دئ!!

دې ته په پام سره چې رسول الله صلی الله علیه و سلم خپله جامه بدله کړې، له یمن او نورو سیمو راغلې جامه ئې اغوستې؛ صحابه وو خپلې جامې بدلې کړې او کله چې نورو سیمو ته تللي؛ تر خپلو جامو ئې غوره او ښایسته جامې موندلې؛ نو هغه ئې غوره کړې؛ له دې معلومېږي چې د جامو په اړه اسلام خاص اهداف او اصول وضع کړي؛ څه چې د اسلام له نظره اهمیت لري همدا اهداف او اصول دي؛ اما د جامو ډول، جوړښت، رنګ، د ټوکر څرنګوالی (دا چې د وړۍ وي، یا مالوچ، سنډ او نیلون)؛ دا ئې د مسلمان خوښې او د هغه ظروفو او شرائطو ته پرېښې؛ ویلي ئې دي: نارینه دې ورېښمنې جامه او د سرو زرو ګوتې او لوښي نه کاروي او مېرمنې دې نازکې او داسې تنګې جامې نه اغوندي چې بدن یا د خاصو غړو لوړې ترې جوتې شي.

نن موږ له دې جدي پوښتنې سره مخامخ یو او دې ته اړ چې ووایو؛ د افغان نارینه او ښځینه جامه به څنګه وي؟ له بېلو بېلو آدرسونو بېل بېل ځوابونه او فتوی ګانې اورو؛ کومه به غوره کوو او د کومو دلائلو له مخې؟ ما دا رساله د همدې پوښتنې په ځواب کې لیکلې؛ د هغو لپاره ئې خلاصه په همدې تمهید کې وړاندې کوم چې د ټولې رسالې د ویلو فرصت هم نه لري.

ځواب دا دئ:

د قرآن له لارښوونو، د رسول الله صلی الله علیه و سلم له احادیثو، د صحابه وو له ویناوو او منهج، د ائمه وو، فقهاءو، مفسرینو او محققینو له آراءو په څرګنده توګه معلومېږي چې په حج کې د نارینه او ښځینه حاجیانو د احرام جامه معیاري ده؛ او مسلمان په همدومره جامه مکلف شوی؛ په احرام کې د نارینه لپاره یو لونګ او څادر کافي دئ، نه به سر پټوي او نه پښې تر ښنګریو پورې؛ دا جامه به ئې نه ګنډل شوې وي او نه په ورس او زعفران معطره او رنګینه شوې؛ او مېرمنې به نه پر مخ نقاب اچوي او نه به لاس

پوښي (دستکش) اغوندي؛ له احرام بهر او له دې لازمي حد آخوا، د نارينه او ښځينه جامې هر څه په فضائلو او مستحباتو کې راځي او د انسان خوښې، ظروفو او شرائطو ته پرېښودل شوي؛ هغه چې له دې پرته بله رأی لري؛ د خپلې رأی د اثبات لپاره هيڅ دروند او د منلو وړ دليل نه لري؛ نه په قرآن کې کوم شاهد؛ نه کوم موثق او معتبر صحيح حديث؛ نه د مشهورو صحابه وو کومه وينا او منهج، نه د ائمه وو، فقهاءو، مفسرينو او محققينو له آراءو او اقوالو کوم مضبوط قول او سند. تفصيل به يې په رسالې کې وګورئ.

زموږ دا ځواب فقط يوه رأی وګڼئ؛ دا او دې ته ورته هره رأی او فتوی له هغه وروسته ومنئ چې کافي او قانع کوونکې دلائل ولري؛ مشوره مو دا ده چې له رسول الله صلی الله عليه و سلم پرته د هيچا رأی او فتوی له دلائلو پرته؛ مه منئ، مه عمل پرې کوئ او مه يې بل ته وايئ؛ که اهل تحقيق نه يئ يا د تحقيق لپاره کافي فرصت او امکانات نه لرئ؛ نو په هغه صورت کې يې ومنئ چې د مفتي او رأی ورکوونکې د ايمان، علم او تقوی په اړه ډاډه وئ؛ که داسې ونه کړئ نو اشتباه مو کړې او د قرآني لارښوونو خلاف مو عمل کړی. څکه قرآن فرمايي:

وَلا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولا ﴿٣٦﴾ الإسراء ٣٦

او په هغه څه پسې مه ځه چې پرې نه پوهېږې؛ دا ځکه چې غوږ، سترګې او زړه داسې دي چې د هر يوه پوښتنه کېږي.

په دې آيت سره موږ ته ويل شوي چې له غور او دقت پرته هيڅ خبره ونه منو، د غوږ دړه د هرې خبرې اورېدو ته داسې پرانيستې پرېنږدو چې د زړه تل ته مو لار ومومي؛ پرته له دې چې زموږ عقل يې وڅېړي او د صحت او سموالی پرېکړه يې وکړي. يوازې هغه مهال بايد يوې خبرې ته په خپل زړه

کې ځای ورکړو چې پرې پوه شوي يو، که د کوم شي په اړه څه اورو نو هغه مهال ئې ومنو چې يا ئې په خپلو سترګو وګورو او يا زموږ عقل او زړه ګواهي ورکړي چې دا خبره رښتيا ده. الله تعالی موږ ته غوږونه، سترګي او زړه د دې لپاره راکړي چې د سم او ناسم په پېژندو کې ترې استفاده وکړو، د قيامت په ورځ پوښتل کېږو چې دا د معرفت او پېژندو استعدادونه مو څنګه کارولي، مهمل او بې استفادې مو پرېښي وو او که مو سمه استفاده ترې کړې وه. الله تعالی به پوښتنه کوي چې ولې مو غلطي خبري ته غوږ کښېښود، له تحقيق پرته مو ومنله، عمل مو پرې وکړ او بل ته مو وکړه.

هغه خبره ومنه چې په حقانيت ئې پوه شوی يې، له تحقيق وروسته په يوې خبري باور کوه، په پټو سترګو په هري خبري پسي مه درومه.

زموږ د ځواب؛ تفصيل او دلائل به په رسالې کې ومومئ.

وَكَفَى بِاللَّهِ هَادِيًا وَنَصِيراً

بسم الله الرحمٰن الرحيم

## د لباس په اړه د قرآن لارښووني څه دي؟

د لباس د څرنګوالي، فضيلت، وجوب او حرمت معلومولو لپاره بايد تر هر څه وړاندي قرآن ته مراجعه وکړو او وګورو چي الله تعالی موږ ته څه لارښووني او سپارښتني کړي.

د قرآن له لارښوونو په څرګنده توګه معلومېږي چي انسان په لومړي سر کي داسي ښکلې او فطري جامه درلوده چي دی ئې هم له يخني ساتلو او هم له تودوخي، نه ئې اوبدل غوښتل او نه ګنډل، نه زړېده او نه شړېده؛ د نورو ژوو په څېر فطري الهي جامه؛ خو انسان له دې الهي جامې د يوې اشتباه له کبله محروم او مصنوعي جامې ته اړ شو؛ د لومړنۍ مصنوعي جامې په اړه ئې د قرآن وينا دا ده: کله چي انسان له فطري الهي جامې محروم شو نو لومړی ئې د ونو په پاڼو ځان پټول پيل کړل؛ يعني د ده لومړنۍ مصنوعي جامه د ونو پاڼي وې؛ نوري جامې ئې وروسته وروسته جوړي کړې. قرآن فرمايي:

فَدَلاهُمَا بِغُرُورٍ فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ بَدَتْ لَهُمَا سَوْآتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَرَقِ الْجَنَّةِ وَنَادَاهُمَا رَبُّهُمَا أَلَمْ أَنْهَكُمَا عَنْ تِلْكُمَا الشَّجَرَةِ وَأَقُلْ لَكُمَا إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمَا عَدُوٌّ مُبِينٌ ﴿٢٢﴾ الأعراف: ۲۲

نو په دوکې سره ئې دواړه وغولول، کله چي ئې د هغي ونې (مېوه) وڅکله بدنونه ئې ورته بربنډ شول او لګيا شول په ځانونو باندي ئې د باغ پاڼي نښلولې او خپل رب ورته غږ کړ: آيا تاسو مي له دغي ونې نه وئ منع کړي؟ او نه مي

وو درته ويلي چي شيطان مو څرګند دښمن دئ؟

يعني شيطان د انسان لومړنۍ جوړه؛ آدم او حواء عليهما السلام وغولول، ممنوعه مېوه ئې وخوړه، په همدې سره جامه ترې وايستل شوه، بربنډ شول، لګيا شول چي ځان په پاڼو پټ کړي، د آيت الفاظ داسي دي چي ښيي ټول ځان ئې لوڅ شوی او د ټول ځان د پټولو لپاره ئې پاڼي په ځان نښلولې. د دې معنی دا ده چي له لوڅېدو وروسته د انسان لومړۍ جامه پاڼي وې، نوري جامې ئې ډېر وروسته جوړي کړې دي. د علمي تحقيقاتو په نتيجه کې څېړونکي همدې نتيجې ته رسېدلي چي لومړنيو انسانانو د ونو له پاڼو د جامې په توګه استفاده کړې، وروسته ئې د حيواناتو له څرمنو او بيا ئې له نورو شيانو جامې جوړي کړې. له الهي جامې محرومېدا انسان ته يوه داسي سزا وه چي تر نن پوري ئې عذاب څکي، د انسان په لاس جوړه شوې جامه د تبعيض وسيله شوه، دوی ئې سره بېل کړل، يوه له خپلي جامي د خلکو د غولولو وسيله جوړه کړه، بل په نورو د برلاسي او لويي ذريعه.

ځيني داسي انګېري چي ښايي د انسان لومړنۍ جامه به هم د اوس په څېر کومه مصنوعي جامه وه؛ دوی د قرآن صراحتونو ته له پام پرته د خپلو انګېرنو له مخي دا خبره کوي؛ حال دا چي د قرآن له وينا په بشپړ صراحت سره معلومېږي چي دا فطري او د انسان له بدن سره پيوست جامه وه؛ ځکه قرآن فرمايي:

إِنَّ لَكَ أَلَّا تَجُوعَ فِيهَا وَلَا تَعْرَىٰ﴿١١٨﴾ طه ١١٨

يقيناً چي په دې کې به تا ته دا درېه برخه وي چي نه به وږی کېږې او نه به بربنډ کېږې؛

د دې آيت له وروستۍ فقرې په ډېر وضاحت او صراحت سره معلومېږي چي دا جامه کومه مصنوعي جامه نه وه؛ ځکه په مصنوعي جامه کې انسان حتماً او په وار وار بربنډ کېږي؛ د غسل په وخت کې، د جامې د زړښت په

صورت کې، د شړېدو او شلېدو په نتیجه کې او په بلې د بدلولو په وخت کې. خو دا آیت آدم علیه السلام ته وایي: چې ته به په دې موقت جنت کې هیڅکله نه بربنډ کېږې؛ نو د دې معنی یوازې دا کېدی شي چې دا جامه یوه داسې طبیعي جامه وه چې د دوی له بدن سره نښتې وه، همغسې لکه چې الله تعالی ټولو نورو ژوو ته ورکړې.

په ټول قرآن کې داسې آیت نه مومو چې صراحتاً یا اشارتاً دا ترې معلوم شي چې: ۱- ښځې باید په عادي حالت کې، یا په لمانځه، حج او احرام کې؛ مخ، لاسونه، رغوي او پښې پټې وساتي؛ ۲- او نارینه باید په عادي حالت، یا لمانځه، حج او احرام کې خپل سر په څادر یا لونګۍ یا بل څه سره؛ پټ کړي؛ داسې څه هم په ټول قرآن کې نه مومو چې وښیي د مېرمنو مخ لوڅولو حرمت ترې معلوم شي؛ اصولاً د وجوب او حرمت پرېکړه د صریح نص له مخې کېدی شي؛ خو په دې اړه نه صریح قطعي نص لرو او نه ظني. په دې اړه په قرآن کې د څرګند حکم او لارښوونې نشتون ښیي چې: دا د اسلام له نظره په داسې مسائلو کې نه راځي چې د فرض او واجب په سترګه ورته وکتل شي؛ او عدم مراعات ئې ګناه او د عذاب باعث وي. دا ځکه چې د شریعت له نظره فرائض او واجبات هغه دي چې منشأ ئې نص (د قرآن لارښوونه او حدیث ئې شرح او تفسیر) وي او نه مراعات ئې د سزا وړ ګناه ګڼل شوې وي. په داسې حال کې چې په قرآن کې د لمانځه د یوه ضمیمه کار (اودس) او د اودس د یوه جزء (د سر مسح)؛ یادونه په صراحت سره شوې؛ خو د پورتنیو غړو د پټولو په اړه نه په څرګنده توګه یادونه شوې او نه اشارتاً!! همدا کافي ده چې ووایو: دا مسکوت عنه شیان د نورو په څېر په فرائضو او واجباتو کې نه راځي.

قرآن د لباس په اړه وایي:

يَا بَنِي آدَمَ قَدْ أَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُوَارِي سَوْآتِكُمْ وَرِيشًا وَلِبَاسُ

التَّقْوَى ذَٰلِكَ خَيْرٌ ذَٰلِكَ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴿٢٦﴾ الأعراف: ۲٦

اې د آدم اولاده! يقيناً چې تاسو ته مي داسي لباس درولېږو چې بدن مو پټوي او د ښايست وسيله ده او غوره ئې د تقوی لباس دئ، دا الهي آيتونه دي؛ ښايي پند واخلي.

دلته د لباس په اړه څو خبري په پام کې ولرئ:

۱. پر انسانانو باندي د لباس د نزول معنی دا نه ده چې الله تعالی له آسمان ورته لباس رالېږلی، بلکي معنی ئې دا ده چې د الله تعالی په حکم انسان ته د لباس انتظام شوی، د لباس توکي هم الله تعالی ورته پيدا کړي او له دغو توکو د لباس جوړولو هنر او استعداد هم الله تعالی ورکړی.

۲. د لباس يو ډول هغه دئ چې انسان پرې خپل ځان پټوي، له يخني او تودوخي ئې ژغوري، او په جګړو کې ئې زغره وي؛ بل ډول ئې د سينګار او ښايست وسيله ده، خو دلته د يوه بل ډول لباس هم يادونه شوې او تر دغو دواړو غوره ګڼل شوی؛ د تقوی لباس؛ خو د دې معنی څه ده؟ آيا تقوی ته د لباس نوم ورکړی شوی او که ځيني لباس د تقوی د لباس په نامه ياد شوي؟ په الفاظو کې د دواړو تعبيرونو مجال شته؛ خو وروستۍ توجيه په دې دليل غوره ده چې د بحث موضوع لباس دئ؛ نه تقوی؛ په دې توجيه سره د انسان لباس درې ډوله کېدی شي: د ځان پټولو لباس، د سينګار او ښايست جامه او د تقوی لباس؛ دا ځکه چې عملاً ګورو ځيني لباس د ګناه وسيله وي او ځيني له ګناه د مخنيوي وسيله.

له کومي ورځي چې انسان له لومړنۍ الهي جامې محروم شوی او په خپل لاس د جامو جوړولو ته اړ شوی؛ نو همدا جامه د انسانانو تر منځ د تفريق، تبعيض او يو پر بل د لويي او تېري وسيله ګرځېدلې؛ نه ګورئ چې په دغه جامه کې څومره ظلمونه کېږي؟ په عسکري او پوليسي جامو کې هره ورځ څومره بې ګناه انسانان ځورول کېږي؟ څومره شريف انسانان د خړو جامو په

سبب تحقیر کېږي؟ څومره ذلیل انسانان په فاخره جامو کې تر نورو ځان لوړ ګڼي؟ نه ګورئ چې یوه له خپلي جامې د ګیدړي پوستکی جوړ کړی خلك پرې غولوي، بل له جامو د پسه په څېر بې آزاره برېښي خو په سینه کې ئې د لېوه زړه او هغه بل به په خپلو جامو سره ځان داسي ښیي چې زمری دئ خو تر ګیدړ به زیات بې زړه او جبون وي. الله تعالی انسان ته د جامو جوړول ورښودلي، د دې لپاره چې ځان له تودوخي او یخنۍ پرې وژغوري او د هغه لباس ئې په درېو ډولونو وېشلی: د ځان پټولو لباس، د ښایست لباس او د تقوی لباس؛ خو انسان له خپلي جامې یا د غولولو وسیله جوړه کړې، یا د ظلم او تېري وسیله، یا یو پر بل د تفاخر، لویي او تکبر ذریعه!!

قرآن د مېرمنو د ستر په اړه د خِمار، جلباب او حجاب یادونه کوي:

## خِمار

هغه واړه ټیکري ته وایي چې مېرمني ئې پر سر اچوي او غاړه، ګرېوان او سینه هم پرې پټوي. قرآن فرمایي:

... وَلا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ ... النور ۳۱

... او خپله ګاڼه دې نه ښکاره کوي؛ مګر هغه ئې چې څرګنده وي او خپل ټیکري دې پر خپلو ګرېوانونو واچوي ...

دلته دوه لارښووني زموږ مخي ته ځلېږي:

۱. مېرمني د خپلي ګاڼې له ښودلو منع شوې؛ مګر له هغه څه ئې چې څرګندي وي؛ د مَا ظَهَرَ مِنْهَا په اړه ځیني مفسرین وایي: مراد ئې د مخ او لاسونو اړوند ګاڼه؛ لکه ګوتې، رانجه او په نکریزو سره نوکان دي؛ یعني ګاڼه او اړوند محل او غړی ئې، ځیني غاړګۍ او غوږۍ هم پرې اضافه کوي او ځیني ئې هغه جامه ګڼي چې له جلباب بهر پاته وي؛ لکه د اوږده کمیس لمن او

پرتوګ.

۲. د واړه ټیکري (خِمار) په اړه ویل شوي: وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ او خپل ټيکري دي پر خپل ګرېوان واچوي؛ له دې الفاظو په څرګنده توګه معلومېږي چې د ټیکري یوه پیڅه به پر سر پرته وي او بله ئې پر غاړي، ګرېوان او سینه؛ جیوب د جیب جمع ده؛ معنی ئې د کمیس هغه چاود او پرانستې برخه ده چې سر او غاړه ترې راوځي؛ د ټیکري یوه پیڅه باید داسي پر دې برخي واچول شي چې غاړه او سینه پټه کړي؛ لکه چې ګورئ دلته او د قرآن په بل هیڅ آیت کې د مخ هیڅ یادونه نه ده شوې او دا ښيي چې مخ په پټولو کې شامل نه دئ؛ که شامل وی نو لومړی به ئې مخ یادولو او بیا ګرېوان؛ متأسفانه ځیني مغالطه کوي او وايي: د سر یادونه هم نه ده شوې؛ دوی ته وایو: مېرمنو به خمار کارولو خو یوازي وېښتان به ئې پرې پټول؛ په دې آیت کې ورته ویل شوي چې ګرېوان، غاړه او سینه هم پرې پټ کړئ؛ او دا ښيي چې مخ شامل نه دئ. د حلال او حرام، جائز او ناجائز پرېکړه؛ په هر څه او هر کار کې؛ الله تعالی ته مختص ده؛ هیڅوك حق نه لري هغه څه حرام کړي چې الله تعالی نه دئ حرام کړی؟!! او داسي څه ووايي چې الله تعالی نه دي ویلي؟! د اسلام له نظره یوازي هغه څه حرام دئ چې الله تعالی حرام کړی وي؛ او پیغمبر ئې ویلي وي چې دا د الله تعالی له لوري حرام شوی؛ یعني حرام فقط هغه دئ چې د حرمت په اړه ئې صریح نص راغلی وي.

## جِلْبَاب

جلباب لوی پړوني او ټکري ته وايي چې مېرمنو به پر خپل سر او اوږو اچولو او خپله جامه به ئې په کې پټوله؛ د پښتنو لوی پړوني ته ورته. د جلباب په اړه قرآن فرمايي:

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ

جَلَابِيبِهِنَّ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ أَنْ يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا ﴿٥٩﴾ الأحزاب ٥٩

اې نبي! خپلو مېرمنو، خپلو لوڼو او د مؤمنانو مېرمنو ته ووايه چې خپل پړوني پر خپلو ځانونو راتاو کړي؛ همدا دې ته نږدې ده چې وپېژندی شي او ونه ځورول شي؛ او الله مهربان بخښونکی دئ.

دلته د جلباب په اړه د (يدنين) لفظ کارول شوی؛ چې معنی ئې ځان ته نږدې کول دي؛ باید وگورو چې ولې د (يلبسن، يضربن او يغطين)؛ الفاظ نه دي کارول شوي؟ د دغو الفاظو له نه کارولو معلومېږي چې جلباب نه د کميس په څېر دئ چې اغوستل کېږي؛ نه د چادري په څېر دئ چې ټول ځان په کې پټېږي او نه د خمار په څېر دئ چې يوه پيڅه ئې پر سر اچول کېږي او بله پر گرېوان؛ بلکې له دې ټولو توپير لري؛ له (يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيبِهِنَّ) معلومېږي چې د جلباب پيڅې ئې پر ځان راتاوېږي؛ ځکه (من جلابيب) ويل شوي؛ دې مطالبو ته په پام سره ويلی شو چې دا لوی څادر او ټيکری دئ چې د جامې له پاسه اچول کېږي او پيڅې ئې ځان ته نږدې نيول کېږي.

د آيت له وروستۍ برخي (وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا) معلومېږي چې: الف- که مېرمني د کوم دليل له مخې؛ له جلباب پرته ووځي نو الله تعالی به بخښونکی وومي. ب- که تر دې وړاندي له جلباب پرته وتلې؛ نو غفور او رحيم خدای به ورته مغفرت وکړي؛ خو دوهم تعبير ځکه ډېر دقيق نه دئ چې تر حکم او لارښووني وړاندي عمل گناه نه گڼل کېږي او په ايمان سره ئې الله تعالی معاف کوي.

د خمار او جلباب په اړه دا مطلب په پام کې ولرئ چې دا نومونه مخکني دي؛ دواړه تر اسلام وړاندي رائج وو؛ مېرمنو هم خمار درلود او هم جلباب؛ د اسلام او مسلمانانو له لوري نه دي اختراع شوي؛ د (خُمُرِهِنَّ) او (جَلَابِيبِهِنَّ) له صيغو په څرگنده توگه همدا معلومېږي؛ قرآن يوازي دومره کړي چې هغوی

ته ووايي: خمار او جلباب به څنګه کاروي؛ خمار داسي چي پر وېښتانو سربېره غاړه او سينه هم پرې پټ شي؛ او جلباب داسي چي پيڅي ئې پر ځان راتاو کړی شي او د مېرمنو جامه او د بدن راوتلي حساس غړي پټ کړي. او له دې الهي لارښووني معلومېږي چي د جامې په اړه ئې د خلکو خپل مخکنی انتخاب تأييد کړی؛ فقط دومره ئې ورته ويلي چي د بدن هغه غړي بايد پرې وپوښي چي څرګندېدا او جوتېدا ئې ستونزي زېږوي. يعني د لباس دا برخه مهمه ده چي څنګه وکارول شي؛ چي د تقوی لباس ترې جوړ شي؛ او د مېرمنو پت او عزت خوندي وساتي. که نن کومه مېرمن د جلباب معادل لباس واغوندي؛ او همغه هدف تر لاسه شي چي په جلباب تر لاسه کېږي؛ له شرعي پلوه هيڅ مانع نه لري.

## حجاب

حجاب هغه څه ته وايي چي د دوو تر منځ حائل شي او د هغه له کبله يو بل ونهويني؛ اطلاق ئې هم په دېوال کېږي، هم په دروازې او دړي او هم په پردې؛ يوه مشهوره غلطي دا ده چي موږ حجاب د پړوني او ټيکري په معنی نيسو چي دا يوه اشتباه ده، د مېرمنو پړوني او ټيکري ته د حجاب نوم ورکول او هغي مېرمني ته چي پړونی ئې پر سر وي د محجبه اصطلاح کارول؛ هم له ادبي پلوه غلطه کارونه ده او هم د قرآني اصطلاحاتو او قاموس له مخي مغالطه ده.

په ټولو هغو آيتونو کي چي د حجاب لفظ راغلی؛ په هيڅ يوه کي ئې د جامې په معنی نه دئ راغلی؛ آيتونه دا دي:

فَٱتَّخَذَتۡ مِن دُونِهِمۡ حِجَابٗا فَأَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡهَا رُوحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرٗا سَوِيّٗا ١٧

مريم ۱۷

فَقَالَ إِنِّيٓ أَحۡبَبۡتُ حُبَّ ٱلۡخَيۡرِ عَن ذِكۡرِ رَبِّي حَتَّىٰ تَوَارَتۡ بِٱلۡحِجَابِ ٣٢

ص ۳۲

وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُكَلِّمَهُ ٱللَّهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِن وَرَآيِٕ حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسُولًا فَيُوحِيَ بِإِذْنِهِۦ مَا يَشَآءُۚ إِنَّهُۥ عَلِيٌّ حَكِيمٌ ﴿٥١﴾ الشورى٥١

وَبَيْنَهُمَا حِجَابٌۚ وَعَلَى ٱلْأَعْرَافِ رِجَالٌ يَعْرِفُونَ كُلًّۢا بِسِيمَىٰهُمْۚ وَنَادَوْاْ أَصْحَٰبَ ٱلْجَنَّةِ أَن سَلَٰمٌ عَلَيْكُمْۚ لَمْ يَدْخُلُوهَا وَهُمْ يَطْمَعُونَ ﴿٤٦﴾ الاعراف ٤٦

وَإِذَا قَرَأْتَ ٱلْقُرْءَانَ جَعَلْنَا بَيْنَكَ وَبَيْنَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْأٓخِرَةِ حِجَابًا مَّسْتُورًا ﴿٤٥﴾ الإسراء ٤٥

وَقَالُواْ قُلُوبُنَا فِيٓ أَكِنَّةٍ مِّمَّا تَدْعُونَآ إِلَيْهِ وَفِيٓ ءَاذَانِنَا وَقْرٌ وَمِنۢ بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ حِجَابٌ فَٱعْمَلْ إِنَّنَا عَٰمِلُونَ ﴿٥﴾ فصلت ٥

كَلَّآ إِنَّهُمْ عَن رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوبُونَ ﴿١٥﴾ المطففين ١٥

قرآن چي د امهات المؤمنين په ارتباط د حجاب يادونه کړې؛ هلته نارينه مؤمنانو ته وايي: کله چي له امهات المؤمنين (د رسول الله صلی الله عليه و سلم له مېرمنو) کوم څه غواړئ نو د حجاب (پردې) له شا ئې وغواړئ، د حجاب له شا ورغبرګ کړئ چي اې د مؤمنانو مورې! دا شيء مي په کار دئ. قرآن فرمايي:

(... وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ ذَلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ ...) الأحزاب ٥٣

... او کله چي (د رسول الله) له مېرمنو څه غواړئ نو د حجاب له آخوا ئې ترې وغواړئ، همدا مو ستاسو او د دوی د زړونو لپاره د زيات پاکوالي باعث دئ،....

دلته دوه خبري توجه ايجابوي:

- که څه هم دا لارښوونه د رسول الله صلی الله علیه و سلم د مېرمنو په اړه ده؛ او هغوی د مؤمنانو لپاره داسي دي لکه د دوی میندي؛ خو د ټولو نامحرمو مېرمنو په اړه باید مراعات شي. د قرآن له دې آیت معلومېږي چې د نورو په اړه ئې هم مراعات ضروري دئ:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهَا ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ﴿٢٧﴾ فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا فِيهَا أَحَدًا فَلا تَدْخُلُوهَا حَتَّى يُؤْذَنَ لَكُمْ وَإِنْ قِيلَ لَكُمُ ارْجِعُوا فَارْجِعُوا هُوَ أَزْكَى لَكُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿٢٨﴾ النور: ٢٧-٢٨

اې مؤمنانو! له خپلو کورونو پرته نورو کورونو ته تر هغه مه ننوځئ چې موافقه (اجازه) وغواړئ او پر خاوندانو (هستوګنو) ئې سلام واچوئ، همدا درته غوره دئ؛ ښایي پند واخلئ؛ او که په هغه کې هیڅوك ونه مومئ نو تر هغه مه ورننوځئ چې اجازه درکړی شي؛ او که درته وویل شي: ستانه شئ؛ نو ستانه شئ؛ همدا درته ښه پاکیزه (طریقه) ده.

یعني د بل کور ته د ننوتلو په وخت کې به دوه خبري په پام کې لرئ: لومړی دا چې د کور د خاوند او هستوګن موافقه او اجازه به ترلاسه کوئ، دلته د استئذان (اجازه غوښتلو) پر ځای د تستأنسوا صیغه کارول شوې چې رضایت او موافقه افاده کوي او معنی ئې دا ده چې د بل کور ته په هغه صورت کې ننوځئ چې هغه ستاسو له ورتلو سره هم موافق وي او هم راضي؛ او اجازې ورکولو ته اړ شوی نه وي؛ داسي نه چې په وار وار او تر هغه دي دروازه ورټکولې وي چې مجبور شوی؛ ور درته پرانیزي او د ننوتلو اجازه درکړي او یا د ده له خوښي او موافقې پرته ورننوځئ. دوهمه دا چې پر اوسېدونکو به سلام اچوئ؛ دا سلام یوازې د معاشرتي آدابو یوه برخه نه ده چې له اخلاقي پلوه ئې مراعات ضروري دئ او یوازې یوه دعاء هم نه ده؛ بلکې

دا هستوگن ته د ځان له لوري د سلامتیا پیغام او د تاوان نه رسولو ډاډ ورکول او له هغه سره ژمنه هم ده؛ له همدې پیغام سره به د بل کور ته ننوځئ، همدا ستاسو لپاره غوره دئ، دا د ډېرو ناخوالو مخنیوی کوي، هم له اخلاقي پلوه او هم له معاشرتي پلوه. خو دې ته مو پام وي چې دا نه یوازې د ټولني د افرادو تر منځ معاشرتي دود او ادب دئ؛ بلکې د ټولني په کچه او د دولت او وګړو تر منځ د یوه قانون او الهي لارښوونې حیثیت لري؛ نه یوازې اشخاص حق نه لري د بل کور ته له اجازې او موافقې پرته ننوځي، د دروازې له چاك او چاود، یا د بام له سر او له کومې لوري د بل د کور منځ ته وګوري، یا خپل کور داسې جوړ کړي چې د بل پر کور مشرِف وي او منځ ئې ترې ولیدی شي؛ بلکې د اسلامي حکومت هیڅ چارواکی حق نه لري د چا کور ته د ده له موافقې او رضایت پرته او د شرعي محکمې له پرېکړې پرته داخل شي؛ که دا د پلټنې په موخه وي او که د کوم مجرم د نیونې په موخه.

د حجاب په اړه سپارښتنه نارینه وو ته شوې؛ نه مېرمنو ته؛ یعني د دې حجاب مراعات به نارینه کوي او دوی به د پردې له شا پرې غږ کوي او د مخامخېدو هڅه به نه کوي؛ له دې وینا په واضح توګه معلومېږي چې د حجاب معنی داسې کومه جامه نه ده چې مېرمنې پرې مکلفې شوې وي.

د قرآن د هیڅ آیت له فحوی او الفاظو نه صراحتاً او نه اشارتاً داسې معلومېږي چې د ښځو مخ، د لاسونو رغوې او د پښو تلې تر بېړیو پورې؛ په عورت کې شامل او پټول ئې لازم وي؛ او همدا د احنافو مذهب دئ؛ د حنفي مذهب اکثر فقهاء او علماء؛ د امام ابوحنیفه رحمه الله په شمول؛ د مېرمنو مخ، لاسونه او پښې په عوراتو کې شامل نه ګڼي؛ ډېر لږ ئې داسې دي چې بېله رأی لري؛ خو د هغوی اختلاف داسې دئ چې وایي: هو؛ دا غړي په عورات کې شامل نه دي؛ خو که د فتنې احتمال وو؛ پټول ئې افضل او لازم دي.

بل لوري ته په قرآن کې داسې لارښوونې مومو چې ښیي د ښځو مخ په

عوراتو کې شامل نه دئ او د رسول الله صلی الله علیه و سلم په حیات کې ښځو مخونه نه پټول؛ بېلګي ئې دا دي:

قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا۟ مِنْ أَبْصَـٰرِهِمْ وَيَحْفَظُوا۟ فُرُوجَهُمْ ۚ ذَٰلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا يَصْنَعُونَ ﴿٣٠﴾ وَقُل لِّلْمُؤْمِنَـٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَـٰرِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا ۖ وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّ ۖ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ ءَابَآئِهِنَّ أَوْ ءَابَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَآئِهِنَّ أَوْ أَبْنَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَٰنِهِنَّ أَوْ بَنِىٓ إِخْوَٰنِهِنَّ أَوْ بَنِىٓ أَخَوَٰتِهِنَّ أَوْ نِسَآئِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَـٰنُهُنَّ أَوِ ٱلتَّـٰبِعِينَ غَيْرِ أُو۟لِى ٱلْإِرْبَةِ مِنَ ٱلرِّجَالِ أَوِ ٱلطِّفْلِ ٱلَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا۟ عَلَىٰ عَوْرَٰتِ ٱلنِّسَآءِ ۖ وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ ۚ وَتُوبُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٣١﴾ النور:۳۰-۳۱

مؤمنانو ته ووایه چي د خپلو سترګو (کارول) راکم کړي او خپل عورت وساتي، دا ورته ډېر غوره دئ؛ یقیناً چي الله په هغه څه ښه خبر دئ چي دوی ئې کوي. او باایمانه ښځو ته ووایه چي د خپلو سترګو (کارول) راکم کړي، خپل فروج وساتي او خپله ګاڼه ښکاره نه کړي؛ مګر هغه ئې چي ښکاره وي او خپل ټیکري دي پر خپل ګرېوان واچوي او خپله ګاڼه دي له خپلو مېړونو، خپلو پلرونو، د خپلو مېړونو له پلرونو، خپلو زامنو، د خپلو مېړونو له زامنو، خپلو وروڼو، وربېرونو، د خوریونو، خپلو ښځو، خپلو وینځو، هغو تر لاس لاندي سړیو چي بې شهوته دي او له هغو ماشومانو پرته چي د ښځو په عورت خبر نه دي؛ بل چا ته نه ښکاره کړي او خپلي پښې دي داسي (پر زمکه) نه وهي چي

هغه ګاڼه ئې معلومه شي چې پټوي ئې او اې مؤمنانو! ټول د الله لوري ته رجوع او توبه وکړئ چې بريالي شئ.

په دې آيت کې څو مهمې لارښوونې زموږ مخې ته ځلېږي:

- زينت د ګاڼې په معنی کارول شوی؛ ځکه ويل شوي: خپلې پښې دې داسې (پر زمکه) نه وهي چې هغه ګاڼه ئې معلومه شي چې پټوي ئې؛ دلته زينت له ګاڼې پرته په بله معنی نشو اخيستی؛ ځکه پر زمکې د پښو په کلکو وهلو سره يوازې د پټې ګاڼې غږ اورېدل کېږي نه بل څه؛ نو تر دې وړاندې برخې کې هم د زينت معنی فقط ګاڼه ده نه بل څه؛ همدا د عبدالله بن عباس په شمول د نورو رأی ده چې وايي: ما ظهر منها يعني رانجه، ګوتې او غوړی، ځينې غاړګی هم په کې شاملوي. خو غاړګی ځکه نه پکې راځي چې مېرمنو ته امر شوی خپل ټيکري (خمرهن) پر ګرېوان واچوي؛ او په دې سره هم غاړه او هم سينه پټېږي او هم غاړګی. د دوی رأی دا ده چې لاس او مخ په ستر کې شامل نه دي؛ نو اړوند ګاڼه او سينګار ئې (لکه رانجه، نکريزي، سره نوکان، ګوتې، غوړی) هم مجاز دي.
- دلته د سترګو په اړه د (يغضوا) صيغه کارول شوې چې کمول افاده کوي، او دې ته په پام سره چې ترې وروسته د عورت (شرم ځای) ساتنه راغلې نو مطلب ئې پردې او نامحرم ته له داسې کتني ډډه کول دي چې شهوت پاروي، لکه پر له پسې او زيات کتل او هغه هم د شهوت په نظر؛ ورپسې ويل شوي چې دا ورته ډېر غوره دئ، يعني همدا کار له اخلاقي پلوه ورته غوره دئ، په ګناه کې له پرېوتو ئې ساتي؛ او د آيت په پای کې ويل شوي چې الله تعالی په هغه څه ښه خبر دئ چې دوی ئې کوي. يعني دا لارښوونې د هغه الله تعالی له لوري دي چې د انسان د کړنو او عملونو د پايلو او نتائجو په اړه بشپړ علم لري، د همدې جامع او کامل علم له مخې ئې دا لارښوونې ورته کړې دي.
- با ايمانه ښځې هم په دې ګمارل شوې چې د خپلو سترګو کتل راکم کړي

او خپل عورت وساتي او خپل زينت څرګند نه کړي، مګر هغه ئې چي څرګند وي. که څه هم په مخکيني آيت کي لارښوونه او حکم ټولو (نارينه وو او ښځو) ته متوجه وو، خو له دې کبله چي ښځو ته ځيني نوري لارښووني ضروري وې نو ځکه مخکنی حکم بيا تکرار شوی او پر هغه سربېره د خپل زينت نه ښودو لارښوونه هم ورته شوې.

- دلته څو پوښتني راولاړېږي: د زينت معنی څه ده؟ آيا مراد ئې ګاڼه او زينتي شيان دي، که د بدن سينګار شوي غړي او که په خپله جمال، ښکلا او ښايست؟ کوم څه ته څرګند زينت ويل شوي او له نه ښودلو مستثنی شوي؟ په دې اړه څو خبري بايد په پام کي ولرو:

- په دې اړه د آيت الفاظ ډېر صريح او واضح دي او ښيي چي له زينت ګاڼه مراد ده. ځکه ويل شوي: (وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ: او خپلي پښې دي داسي (پر زمکه) نه وهي چي هغه ګاڼه ئې معلومه شي چي پټوي ئې)، پر زمکه د پښو په کلکو وهلو سره يوازي پټه ګاڼه څرګندېږي او غږ ئې اورېدل کېږي او د نامحرم توجه جلبوي، نه بل څه، که دلته زينت له ګاڼې پرته په بله معنی نه شو اخيستی نو په مخکينيو کي ئې هم په بله معنی اخيستل بې دليله خبره ده. په دې فقرې کي چي وايي: (وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا: او خپله ګاڼه دي نه څرګندوي، مګر هغه ئې چي څرګنده وي) زينت د ګاڼې په معنی راغلی او له ګاڼې پرته ئې په بلي معنی قطعاً نشو اخيستی، له دواړو په څرګنده توګه معلومېږي چي له زينت مراد ګاڼه ده، ځکه په مخکيني کي (وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا) او په دې کي (مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ) ويل شوي؛ که له (مَا يُخْفِينَ) مراد ګاڼه وي نو له (مَا ظَهَرَ مِنْهَا) هم له ګاڼې پرته بل څه مرادول اشتباه ده. که څه هم زينت له ګاڼې علاوه په نورو معانيو هم راغلی وي. د قرآن په هيڅ آيت کي زينت د انسان د جمال، ښکلا او ښايست په معنی نه دئ راغلی، په مخ، شونډو او

---

سترګو او نورو ښايسته برخو ئې اطلاق نه دئ شوی.

- دا چې ښځو ته لارښوونه شوې چې خپل ټيکري دې پر خپل ګرېوان واچوي او خپله ګاڼه دې له مېږه، پلار، خسر، زوی، پرګټې (د مېړه زوی) ورور، وراره، خوريی، خپلوانو ښځو، خپلو وينځو، هغو تر لاس لاندې سړيو چې بې شهوته دي او له هغو ماشومانو پرته چې د ښځو په عورت خبر نه دي؛ بل چا ته نه څرګندوي؛ دلته څو پوښتنې راولاړېږي: دا کوم زينت دئ چې پر مېړه علاوه پورتنيو ته ئې هم ښوول مانع نه لري؟ او دا کوم زينت دئ چې له خپلوانو او شاوخوا ښځو پرته ئې نورو ښځو ته هم ښودل جائز نه دي؟ آيا د دې زينت اطلاق له ګاڼې پرته په بل څه کولی شو؟ دوه ځوابونه درلودی شو: يو دا چې د بدن ځينې برخې داسې دي چې له مېړه علاوه د ښځې نور خپلوان ئې هم له ليدو نه دي منع شوي، لکه وېښتان، غاړه، مټ، او ګواکې په دې آيت کې په زينت سره همدغو برخو ته اشاره شوې. بل دا چې ښځې له دې منع شوې چې خپله ټوله ګاڼه له مېړه او پورتنيو خپلوانو او نږدې خلکو پرته بل چا ته ونه ښيي. د دې پوښتنو مختصر او يوازينی ځواب دا دئ چې دلته له زينت مراد ګاڼه ده نه بل څه. که د آيت الفاظو ته ځير شو نو په يقين سره ويلی شو چې دوهمه رأيه دقيقه ده، دا ځکه چې زينت په عامه صيغه راغلی د خاصولو لپاره ئې هيڅ موجه دليل نه مومو، په کوم دليل به يوازې څو غړي ترې مرادوو؟ مخ او لاس له پرديو ښځو هم ستر نه دئ او له مخ، لاس او پښې پرته نور غړي خپلوانو نارينه وو ته هم ښودل منع دي. دا به ډېره عجيبه وي چې څوك دلته (نساءهن) داسې تعبير کړي چې ګواکې پرديو ښځو ته خپل جمال ښودل منع دي او خپلو ته ئې ښودل مانع نه لري!! حال دا چې معنی ئې له کوم شك پرته دا ده چې له خپلوانو پرته نورو ښځو ته د خپلو ګاڼو له ښودلو منع شوې، ښځو ته د سينګار او د ګاڼو د کارولو امتياز ورکړی شوی، خو دا د خپل مېړه په وړاندې او د هغه د ارضاء او توجه جلبولو په موخه؛ نه

د پردي نارينه د توجه جلبولو او يا له نورو ښځو سره د مسابقې، رقابت او ځان ښودني لپاره. له داسي ځان ښودنو چي په ټولني کي کومي فتنې راولاړېږي له هيڅ عاقل انسان پټي نه دي، که په يوې ميلمستيا او واده کي ځينو ښځو سينګار کړی وي او رنګ رنګ ګاڼې ئې اچولې وي او په خوا کي ئې داسي مېرمني وي چي د سرو زرو ګاڼې خو پرېږده حتی سمي جامې هم نه لري، په دې سره له يوې خوا د دوی تر منځ جدي کرکه او دښمني راپيدا کېږي، له بلي خوا نوري مېرمني دې ته هڅول کېږي چي خپل مېړونه دې ته اړ کړي چي دوی ته هم همداسي ګاڼې برابري کړي، که له حرامو لارو وي او که له حلالو!! دا يقيناً چي ټولنه د منفي رقابتونو او حسادتونو په لوري بيايي او ډېري فتنې راولاړوي. قرآن د قارون يادونه کوي چي په ګاڼو ئې ځان سينګار کړی خپل قوم ته راووت، ناپوهانو د ده حالت ته په پام سره وويل: کاش موږ هم د ده په څېر وی او همغه څه مو درلودی چي ده ته ورکړی شوي!! پر مېرمنو د ګاڼو ښودلو منفي اغېز تر دې هم مضاعف وي. قرآن د قارون په اړه فرمايي:

فَخَرَجَ عَلَى قَوْمِهِ فِي زِينَتِهِ قَالَ الَّذِينَ يُرِيدُونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا يَا لَيْتَ لَنَا مِثْلَ مَا أُوتِيَ قَارُونُ إِنَّهُ لَذُو حَظٍّ عَظِيمٍ ﴿٧٩﴾ القصص: ٧٩

نو د خپل قوم په وړاندي له خپل زينت (د شأن او شوکت له ګاڼو) سره راووت، هغو چي د دنيوي ژوند په لټه کي ول وئې ويل: کاش زموږ هم دغه حالت وی چي د قارون په برخه شوی! يقيناً چي دی د لويي برخي خاوند دئ.

يعني ولس ته له غولوونکي شأن او شوکت سره، په فاخره جامو کي او په ګاڼو سمبال راووت؛ هغه مهال به واکمنو او شتمنو خاصه ګاڼه کاروله.

د النور سورې د ۳۱ آيت له دريو برخو معلومېږي چي مخ له پټولو مستثنی شوی:

(قُلْ لِلْمُؤْمِنِيْنَ يَغُضُّوا مِنْ اَبْصَارِهِمْ...)،

له ډېر کتلو ډډه کول په هغه صورت کې مطرح کېږي چې مخ لوڅ وي.

**(وَلا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلا مَا ظَهَرَ مِنْهَا....)**

له ما ظهر منها معلومېږي چې د ګاڼې يوه برخه څرګنده وي؛ او همدا له ټولو مستثنی شوې؛ او معنی ئې دا چې د دې څرګندې ګاڼې اړوند غړي هم له ټولو مستثنی شوي؛ ګوتې، غوږې، رانجه او نکريزي او اړوند غړي ئې په دې کې راځي.

**(وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ...)**

که مخ په ستر کې شامل وی نو دلته به حتماً د وجوههن يادونه کېده او هغه هم تر جيوبهن وړاندې.

**(وَلا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِنْ زِينَتِهِنَّ)**

دا ښيي چې د ښځينه وو د زينت يوه برخه پټه او بله ئې څرګنده ده؛ دا له يوې خوا د هغو رأی ردوي چې وايي: د مېرمنو ټول بدن بايد مستور وي؛ او له بلي خوا هغه رأی او روايت ردوي چې د زينت اطلاق پر جامه کوي؛ نو په دې اړه عبد الله بن مسعود رضي الله عنه ته منسوب رأی او روايت صحيح نه دئ؛ دا ځکه چې پر زمکه د پښو کلك وهلو سره يوازې هغه ګاڼه څرګندېږي چې پټه وي.

- که مخ په ستر کې شامل وی نو په دېرشم آيت کې دې حکم ته ضرورت نه وو چې مؤمنانو ته ووايه: خپلې سترګې ټيټې واچوئ؛ پټ مخ ته نه کتل معنی نه لري!! تقريباً ټولو مفسرينو او محققينو همدا مطلب ترې اخيستی.
- د ښځو لپاره د سترګو ټيټ اچول همغه حکم لري چې د نارينه وو لپاره ئې لري؛ په دې دواړو کې په تفکيك او امتياز باور درلودل؛ د دې آيتونو د روحيې خلاف خبره ده. دا يو شان حکم ښيي چې د دواړو مخ لوڅ دئ.
- که څه هم ځينو مفسرينو او فقهاءو د آيت دا فقره (وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ

إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا )؛ داسي تعبير او تفسير کړې چې مراد ئې مخ، لاسونه او پښې دي چې عادتاً او د ضرورت له مخي ښرګند وي؛ او وايي: د دې قرآني وينا له مخي د مېرمنو دا غړي په عوراتو کې شامل نه دي. ځيني نور بيا وايي: له دې مراد هغه جامه ده چې له جلباب (لوی پړوني) بهر پاته وي؛ لکه د کميس لمنه او د پرتوګ پايڅې؛ او ځيني نور بيا وايي: په دې آيت کې د (زينت) له لفظ؛ نه د بدن غړي مراد دي او نه جامه؛ بلکي مراد ئې ګاڼه ده؛ د آيت له الفاظو په ښرګنده توګه معلومېږي چې له زينت مراد ګاڼه ده.

- موږ په هغه صورت کې ادعاء کولی شوی چې مخ هم په خمار سره پټول ضروري دي چې تر (جيوبهن) مخکې د وجوههن ذکر راغلی وی؛ که مراد د مخ پټول وی نو دوه خبري ضروري وې: ۱- بايد په صراحت سره د مخ (وجوههن) يادونه شوې وی، ۲- د مخ په اړه بايد د غطاء (پټول) لفظ راغلی وی نه د يضربن (اچول).

- د (ما ظهر منها) په اړه د دوو مشهورو صحابه وو تر منځ د رأی اختلاف دئ؛ عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وايي: مراد ترې لباس دئ او عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وايي: مراد ئې هغه ګاڼه ده چې پر مخ، ګوتو او غوږونو کارول کېږي. د عبدالله بن عباس له رأيي معلومېږي چې د بدن دا برخې؛ لاسونه او مخ په حجاب کې شاملي نه دي او حتی له ګاڼو سره په (ماظهر منها) کې راځي. که په آيتونو کې لږ په دقت سره غور وکړو نو راته جوته کېږي چې دلته د زينت له لفظ؛ نه مخ مراد دئ، نه لاسونه او نه جامه؛ بلکي هغه ګاڼه مراد ده چې ښځي ئې په مخ او لاسونو کې کاروي؛ لکه ګوتې، رانجه او نکريزې. د عبد الله بن عباس رضي الله عنه له نظره؛ مخ او لاسونه سره له دې چې په رانجه، نکريزو او ګوتې سره مزين شوي وي؛ په ستر کې شامل نه دي. د رسول الله صلی الله عليه و سلم په احاديثو کې هم دغه لارښوونه مومو.

- د مخ پټول په هغه صورت کې فرض ګڼلی شو چې: ۱- د پټولو په اړه ئې د نص الفاظ صراحت ولري، ۲- که دا فرض وی نو د حج په دوران کې به ښځي د يوه فرض په ترک کولو نه مکلف کېدې. څوك چې حج ته د استثنائي حالت

---

نوم ورکوي اشتباه کوي، په حقيقت کې حج معياري حالت دئ، څه چې په حج کې جائز وي په بل وخت کې په اولیٰ درجه جائز دي. د مخ څرګندولو حرمت تر دې هم زيات صريح نص ايجابوي؛ حرام يوازې هغه دي چې الله تعالی حرام کړي وي؛ په ټول قرآن کې د دې حرمت يوه شائبه هم نه تر سترګو کېږي.

که څوك ډېره غلو کوي نو دومره دي ووايي چې مخ پټول مستحب دي؛ هغه هم محيط ته په پام سره؛ نه دا چې فرض او واجب ئې وګڼي او لوڅول ئې تحريم کړي.

دا هم بايد په پام کې ولرو چې د نارينه وو او ښځو د مخامخېدو په وخت کې د سترګو ټيټ اچول غوره کار دئ؛ له ګناه د مخنيوي وسيله ده، خو نامحرم ته کتل او حتی له زنا مخکې ټول ناروا کارونه په صغيره ګناهونو کې راځي.

- د نارينه او ښځې لپاره د فرض حجاب حد همغه دئ چې په حج کې بايد مراعات شي، تر دې زيات ئې په فضائلو او مستحباتو کې نيولی شو چې د مؤمنانو خوښي ته پرېښودل شوي.

- د قرآن له لارښوونو په څرګنده توګه معلومېږي چې د مېرمنو په فرضي جامه کې د نارينه وو د جامې په پرتله دوه شيان زيات دي: خمار (ووړ ټيکری) او جلباب (لوی پړونی)؛ په خمار سره خپل سر او ګرېوان پټوي او په جلباب سره خپله جامه؛ يو په خپل کور کې او بل له کور بهر؛ قرآن جامه په دريو ډولونو وېشلې: د بدن پټولو جامه، د ښايست جامه او د تقوی جامه؛ د مېرمنو لپاره جلباب د تقوی جامه ده چې په دې سره د ښايست او زينت جامه له پرديو پټوي.

- ځيني د کمعلمۍ او له دين د بې خبرۍ له کبله د ديني احکامو په اړه داسې څه وايي چې د دين له دائرې پرې وځي او د ديني لارښوونو ضد خبرې کوي. قرآن وايي: د مېرمنو ځيني غړي په ستر کې شامل نه دي؛ دا استثناء په ټول صراحت سره او په دغو الفاظو بيانوي: وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا ؛

خپل زينت دي نه ښکاره کړي مگر هغه ئې چې ښکاره دي؛ يعني د زينت او گاڼې يوه برخه داسي ده چې د شريعت له مخي ئې ښکارېدا جائز ده؛ هم په خپله گاڼه او هم هغه غړی چې دا مجاز گاڼه پرې کارول شوې وي؛ خو ځيني د همدې ښکاره آيت خلاف وايي: د مېرمنو ټول بدن؛ له کومي استثناء پرته عورت او پټول ئې فرض دي!! په دوی کې ځيني بيا داسي دي چې له ټول بدن يوازي يوه سترگه او ځيني دوه سترگي مستثنی کوي؛ پوښتنه کوو؛ دا استثناء د کوم شرعي دليل او عقلي منطق له مخي؟! او ولي سترگي مستثنی کوئ؟ په داسي حال کې چې سترگي د ښايست له پلوه تر ټولو نورو غړو وړاندي دي؛ په خپلو اشارو سره ډېر ښه او بد پيغامونه لېږلی شي؛ د دې استثناء لپاره نه عقلي دليل لري او نه شرعي؛ دوی د دې رأی د اثبات لپاره دوه روايات وړاندي کوي؛ يو ئې عبد الله بن عباس ته منسوب روايت او بل ئې عائشې رضي الله عنها ته منسوب؛ گواکې ابن عباس ويلي له يوې سترگي پرته د مېرمنو ټول بدن عورت دئ؛ دا په داسي حال کې چې ابن عباس د (إلا ما ظهر منها) په تفسير کې وايي: له ما ظهر مراد مخ او لاس او د دې دواړو غړو اړوند گاڼه ده؛ او همدا ابن عباس رضي الله عنه د هغه مشهور روايت راوي هم دئ چې د خپل ورور فضل بن عباس په اړه ئې ويلي: د رسول الله صلى الله عليه و سلم په وروستي حج او په مِنیٰ کې؛ فضل بن عباس يوې لوڅ مخي ښايسته مېرمني ته کتل چې له رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې پوښتنه کوله؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم د هغه مخ بل لوري ته واړولو. آيا کولی شو او آيا عقل اجازه راکوي چې د دې دواړو (تفسير) او (د مِنیٰ) روايت په خلاف؛ بل داسي رأی او روايت ابن عباس ته منسوب کړو چې له دواړو سره تناقض ولري؟!! روايت هم داسي چې که احياناً تر دې وړاندي بل څه ويل شوي وي؛ نو د هغه ناسخ او مصحح ئې گڼلی شو؛ ځکه دا د رسول الله صلى الله عليه و سلم د ژوند د پای ورځو روايت دئ. اصولاً يوه راوي ته د يوې موضوع په ارتباط دوه متضاد روايات منسوبول؛ مغالطه ده؛ يوازي يو ترې غوره کولی شو؛ هغه به غوره کوو چې د

متن او سند له پلوه ارجح وي او په قرآن کې ورته شاهد مومو؛ د ابن عباس هغه روایت معتبر دئ چي استناد ئې د قرآن پر آیت دئ او ټول مخ له ستر مستثنی کوي. د ستړگو اړوند روایت ئې د مخ په اړه د ده دوو معتبرو روایاتو په شتون کې اصلاً د یادولو او استناد وړ نه دئ.

د دوی له لوري د صحابه وو معروفو شخصیتونو ته د متناقضو آراءو او روایاتو منسوبولو یوه بله بېلگه هم د لوستونکو مخي ته ږدم: وایي: عائشې رضي الله عنها ویلي: کله چي د حجاب آیت نازل شو؛ نو د لومړنیو مهاجرینو مېرمني پاڅېدلې او د خپلو ملابندونو (مروطهن) پیڅي ئې پرې کړې او څان ته ئې خمار ترې جوړ کړ:

عَنْ عَائِشَةَ رَضِىَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: " " يَرْحَمُ اللهُ نِسَاءَ الْمُهَاجِرَاتِ الْأُوَلَ لَمَّا أَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: {وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ} [النور: ٣١] شَقَقْنَ مُرُوطَهُنَّ فَاخْتَمَرْنَ بِهِ " رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

په بل روایت کې دا هم ویل شوي چي گواکې په دې خمار سره ئې خپل مخونه پټ کړل!! د دوی په څواب کې وایو:

الف- په روایت کې دا نشته چي مخونه ئې پرې پټ کړل؛ چا چي په دې روایت استناد کړی؛ هغه له څانه (فَاخْتَمَرْنَ بِهِ) داسي تعبیر او تفسیر کړی چي گواکې مخونه ئې پرې پټ کړل (أي غطين وجوههن).

ب- د خمار یادونه په قرآن کې شوې او ویل شوي چي په دې سره دي خپل جیوب (گرېوان) یعني غاړه او سینه پټه کړي؛ هلته نه یوازي د مخ یادونه نه ده شوې بلکې شیي چي مخ اصلاً په کې شامل نه دئ؛ که شامل وی نو په آیت کې به تر جیوبهن وړاندي حتماً وجوههن راغلی وو.

ج- تاسو په دې وینا سره عائشې رضي الله عنها ته متناقض روایات منسوبوئ؛ په داسي حال کې چي عائشه رضي الله عنها د هغه مشهور روایت

راوي ده چې د حديث ټولو مهمو كتابونو راوړی او وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم اسماء بنت ابوبكر ته وويل: كله چې ښځې پېغلې شي؛ ورته روا نه دي چې له مخ او رغوو پرته بل څه د نامحرم په وړاندي ښكاره كړي. كه درسره ومنو چې ښايي د مهاجرينو (او په يوه روايت د انصارو) مېرمنو به خپل مخونه په خمار سره پټ كړي وي؛ نو په كار خو دا ده چې ووايو: همدغې عائشې رضي الله عنها به دوی ته ويلي وي چې تاسو اشتباه وكړه؛ په آيت كې د مخ پټولو امر نه دئ شوی او رسول الله صلی الله عليه و سلم دا خبره نه ده كړې؛ نه دا چې په تحريف ډوله تكلف سره د مخ ښكاره كولو حرمت ترې جوړ كړو؛ بايد په دې پوه وئ چې الله تعالی ته داسې څه منسوبول چې نه ئې دي ويلي؛ له شرك وروسته تر ټولو ستره گناه ده؛ د حرمت لپاره صريح نص ته ضرورت دئ.

د- عائشه او ابن عباس رضي الله عنهما ته منسوب پورتني متعارض روايات ښيي چې اكثر اختلافي مسائل له دغو متعارضو رواياتو راولاړ شوي؛ بې علمه وگړي د خپلې خوښې او سليقې مطابق روايت ترې غوره كوي؛ پرته له دې چې وگوري كوم يو ئې معتبر او د منلو او غوره كولو وړ دئ.

دوی يو بل متعارض روايت هم عائشې رضي الله عنها ته منسوبوي او غواړئ خپله رأی پرې ثابته كړي:

**عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: «كَانَ الرُّكْبَانُ يَمُرُّونَ بِنَا، وَنَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُحْرِمَاتٌ، فَإِذَا حَاذَوْا بِنَا، أَسْدَلَتْ إِحْدَانَا جِلْبَابَهَا مِنْ رَأْسِهَا عَلَى وَجْهِهَا، فَإِذَا جَاوَزُونَا كَشَفْنَاهُ» مسند احمد.**

له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وئې ويل: په داسې حال كې چې موږ د احرام حالت كې له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره وو؛ قافلې به زموږ خوا ته تېرېدلې؛ كله چې به زموږ څنگ ته ورسېدلې؛ نو زموږ هري يوې به خپل

جلباب له خپل سر پر خپل مخ راکوز کړ او کله چې به له موږ تېر شول؛ مخونه به مو لوڅ کړل.

د دې روايت په اړه بايد دا مطالب په پام کې ولرو:

- د روايت له فحوی معلومېږي چې په خپلې قافلې کې ئې مخونه لوڅ ول؛ خو کله چې د پرديو حاجيانو قافلې د دوی خوا ته نږدې کېدلې؛ خپل مخونه ئې پټول. او په دې سره د هغو رواياتو تأييد کېږي چې د مخ لوڅوالی افاده کوي. د رسول الله صلی الله عليه و سلم قافله د ټولو صحابه وو ګډه قافله وه؛ په هغې کې هم مَحرَم ول او هم نامحرم .
- د يوې موضوع په اړه يوه راوي ته هممهال دوه متضاد روايات منسوبول؛ روايت بې اعتباره کوي؛ ناچار به يو ترې انتخابوو؛ د اعتبار وړ روايات هغه دي چې د قرآن له وينا سره مطابقت ولري؛ نه هغه چې د مخ پټول ترې معلومېږي.

بل روايت دا دئ:

عَنْ أَسْمَاءَ قَالَت: كُنَّا نُغَطِّى وُجُوهَنَا مِنَ الرِّجَالِ، وَكُنَّا نَمْتَشِطُ قَبْلَ ذَلِكَ [فِى الإِحْرَامِ] صحيح ابن خزيمه

له أسماء روايت دئ چې ويلې ئې دي: موږ خپل مخونه له سړيو پټول؛ او تر دې وړاندې مو وېښتان خواره پرېښودل. په يوه روايت کې دا هم راغلي (په احرام کې)

دلته هم د يوې موضوع او يوه شخص په ارتباط د متناقضو او متعارضو رواياتو شاهد يو؛ له يوې خوا هغه روايت چې عائشه رضي الله عنها وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم أسماء ته وويل: مېرمني ته نه ښايي چې له پېغلتوب وروسته له مخ او لاسونو پرته د بدن بله برخه ئې څرګنده وي؛ او په خلاف ئې دا روايت چې أسماء رضي الله عنها وايي: موږ خپل مخونه له سړيو

پټول!! يوازې يو ئې ترې غوره کولی شو؛ د إسنادو له مخې ځکه پرېکړه نشو کولی چې متأسفانه ځينو دواړو ته صحيح ويلي؛ او دا يقيناً چې ډېره عجيبه مغالطه ده؛ دوو متناقضو رواياتو ته هممهاله صحيح ويل!! خو که متن ئې د قرآن په رڼا کې وځېړو؛ او بيا قضاوت وکړو؛ نو په ډاډ سره ويلی شو: د عائشې رضي الله عنها روايت هم په قرآن کې څرګند شاهد لري او هم په خپلې خوا کې صحيح مؤيد روايات؛ او دا بل له دواړه پلوه ستونزمن.

کله چې ما په حديث کې د تحقيق لړۍ پيل کړه؛ لومړۍ او تر ټولو ستره ستونزه چې ورسره مخامخ شوم؛ همدا وه چې ليدل مې د يوې موضوع په ارتباط هممهاله داسې متعارض او متضاد روايات راغلي چې يو ئې يوازې په هغه صورت کې منلی او صحيح ګڼلی شو چې بل ئې لرې پرېږدو؛ حيران شوم چې څنګه متضادو او متناقضو رواياتو ته هممهاله صحيح ويل شوي؛ په سر کې مې داسې انګېرله چې د کتاب مصنف له بېلو بېلو راويانو څه اورېدلي او همدا ئې ځکه صحيح ګڼلي چې راويان ئې ثقه انګېرلي؛ خو وروسته متوجه شوم چې هغه روايات ئې هم صحيح ګڼلي چې د راويانو لړۍ ئې هم تر څلورمې طبقې پورې کاملاً سره ورته خو بيا هم د هغوی تر منځ ژور تناقض او تعارض!! د دغو متعارضو رواياتو شمېر هم لږ نه بلکې تر سلګونو هم زيات. اوس له هغو سره موافق يم چې وايي: د احاديثو کتابونه په جدي توګه تنقيح ته ضرورت لري؛ دا تنقيح بايد د إسنادو او راويانو له مخې نه؛ بلکې د متن له مخې وشي؛ او له همدې لارې د ټولو کتابونو صحيح احاديث په يوه کې راغونډ شي.

په امت کې د اختلاف لوی عامل او اصلي منشأ؛ همدا متعارض او متناقض روايات دي؛ د احاديثو په يوه کتاب کې به؛ د يوې قضيې په ارتباط ګڼ شمېر مکرر، متعارض او متناقض روايات ومومئ، ټولو ته صحيح ويل شوي؛ پرته له دې چې دا زحمت ئې ايستلی او ويلي وي: کوم يو ئې اصح او ارجح دئ؛ دا

پربکړه لوستونکي ته پرېښودل شوې؛ هر چا د خپلې سليقې له مخې يو ترې غوره کړی!! په همدې مبحث کې تاسو درې مهمو شخصيتونو؛ عائشه، أسماء او ابن عباس رضي الله عنهم ته منسوب متناقض روايات وليدل؛ داسي چي تلفيق او تطبيق ئې محال دئ؛ له دې پرته بله چاره نشته چي يو يو به ترې غوره کوو. هغه کتابونه چي مکرر روايات ئې تر نورو زيات دي؛ په همدې تناسب ئې اختلاف زېږولی. په امت کې د اختلاف ختمولو لپاره نن داسي کار ته ضرورت لرو چي عثمان رضي الله عنه د مصحف د مختلفو نسخو د توحيد په ارتباط وکړ؛ د قرآن په اړه د اختلاف راولاړېدو مخه ئې تر قيامت پوري ونيوله؛ دا چي نن څوارلس نيمي پېړۍ وروسته؛ ټول امت واحد او متفق عليه قرآن لري؛ داسي چي په تشکيل (زېر او زبر) کې ئې هم اختلاف نه لرو؛ دا د همغه مبارك اقدام نتيجه ده؛ نن امت همداسي د احاديثو واحد متفق عليه کتاب ته ضروت لري؛ داسي چي ټول احاديث ئې هم د متن له پلوه صحيح وي او هم د إسنادو له پلوه؛ او هر حديث ئې په قرآن کې شاهد ولري. که دا کار وشي نو ټول امت به د صحيح احاديثو داسي کتاب ولري چي حجم به ئې د قرآن په اندازه وي؛ اوس نږدې ٤۳٥ کتابونه لري؛ د ٤۰ حديثونو کتاب؛ تر دېرش زره زياتو رواياتو کتاب؛ په داسي حال کې چي د صحيح او قرآن مطابق رواياتو شمېر به يقيناً دومره نه وي چي د قرآن تر آيتونو ئې شمېر زيات شي؛ د بخاري د اصلي رواياتو شمېر نږدې ۲۲۰۰ دئ؛ هم امام بخاري رحمه الله همدا کافي ګڼلي او هم ئې پلويانو. په دې سره به هغه اختلافات هم پای ته ورسېږي چي نن ئې په تفسيرونو کې شاهد يو؛ د دې اختلاف لوی عامل هم متعارض او متضاد روايات دي.

- د دوی څيني بيا د حجاب په اړه وايي: هو؛ د ښځو مخ او لاسونه په ستر کې شامل نه دي؛ خو که د فساد او فتني احتمال وي نو بيا ئې پټول لازم دي!! اوس د فساد دور دئ؛ نو مېرمني دي يا مخ پټ کړي او يا دي جومات ته نه

ځي!! هغوی ته وایو: د دې معنی دا ده چې تاسو ځان یا بل چا ته د قانون وضع کولو او د حلال او حرام ټاکلو حق ورکوئ؛ په داسې حال کې چې الله تعالی دا حق هیچا ته نه دئ ورکړی؛ (... وَلا يُشْرِكُ فِي حُكْمِهِ أَحَدًا... الكهف: ٢٦: په خپل حکم او پرېکړو کې هیڅوك نه شریکوي)؛ کوم شریعت او قانون چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په ژوند کې راغلی او بشپړ شوی؛ تر قیامته به همدا قانون وي؛ د شرائطو په بدلېدو سره په هغه کې تغییر، تعدیل او تعلیق نشي راتلی؛ خو متأسفانه دوی ځان ته د دې حق ورکوي!!! دا په حقیقت کې د شریعت پر پرېکړي د اعتراض او له خپل لوري او د خپل ذهن مطابق د حلال او حرام پرېکړې صادرول دي؛ هیڅوك دا حق نه لري چې څه پر دین زیات یا څه ترې راکم کړي.

- شریعت موږ ته ویلي چې د نارینه او ښځینه وو لباس به څنګه وي؛ په عام حالت کې به څنګه وي او د حج او احرام په حالت کې څنګه؛ هم ئې د فساد حالت په پام کې نیولی او هم د صلاح؛ هم مکي دور او هم مدني دور؛ آیا څوك حق لري چې ووايي: د حج په دوران کې چې ستره اجتماع وي، په ملیونونو حاجیان اوږه په اوږه د کعبې طواف کوي؛ هم نارینه حاجیان او هم ښځینه؛ نو څوك راپاڅي او ووايي: د دې لپاره چې دلته د فتنې احتمال شته؛ نو مېرمني دي حج ته نه ځي؛ که ځي نو طواف دي نه کوي او که طواف کوي نو مخ او لاسونه دي پټ کړي؟!! که څوك نه د دې خبرو کولو حق لري او نه ئې د ویلو جرأت کولی شي؛ څنګه دا جسارت کوي چې مېرمني او نجونې په جومات، مدرسه، او نورو ورو غونډو کې چې هیڅ یوه ئې د حج له ستري غونډې سره برابري نشي کولی؛ د مخ او لاس پر پټولو مکلف کړي او دې ته شرعي رنګ ورکړي؟!

دوی ته باید ووایو که څوك د ګناه اراده لري نو حجاب ئې نشي مانع کېدی، نه د مېرمني او نه دي سړي؛ که مخ لوڅ وي نو له دې کبله احتیاط کوي چې وپېژندل کېږي؛ اما حجاب دا وېره او احتیاط هم منتفي کوي؛ دا ایمان

او له ايمان زېږېدلې تقوی او حياء ده چي انسان له گناه ساتي.

دې ته بايد متوجه وو چي د نارينه او ښځي لپاره د احرام لباس؛ داسي معيار دئ چي ښيي مسلمان نارينه او مسلمانه ښځه په همدومره لباس مکلف دي، تر دې زيات ئې نه فرض دئ او نه واجب، بلکي د دوی خوښي او ظروفو ته پرېښودل شوی. دا چي د جامې د څرنگوالي، جوړښت، رنگ او شمېر په اړه په ټول قرآن کي هيڅ نه دي ويل شوي؛ بلکي د همغه خمار او جلباب يادونه ئې کړې چي په جاهليت کي رائج وو؛ يوازي د کارولو د څرنگوالي په اړه ئې لارښوونه کړې؛ معنی ئې همدا ده چي دا ټول د مسلمان خپلي خوښي ته پرېښودل شوي. که د حج په څېر ستر عبادت کي، د بيت الله خوا ته، د لکونو خلکو په منځ کي دومره لباس کافي وي؛ نو په نورو وختونو کي په اولیٰ درجه کافي دئ. څوك چي وايي نارينه د سر پر پټولو او ښځه د مخ او لاس پر پټولو مکلف دي؛ په دين کي غلو او بې ځايه سختي کوي او خلك په هغه څه مکلف کوي چي الله تعالی نه دي پرې گمارلي. که د ښځي لپاره مخ او لاسونه پټول ضروري وی نو الله تعالی به د حج په دوران کي پرې مکلفه کړې وه او که د نارينه لپاره سر پټول ضروري وی نو الله تعالی به په حج کي پرې مکلف کړی وو. ښځي به په دې نه گمارل کېدې چي د حج په دوران کي به نه مخ پټوي او نه به لاس پوښي (دستکش) په لاس کوي، نارينه به پر دې نه گمارل کېدل چي سر به نه پټوي او داسي بوټونه به نه پښو کوي چي تر پښو ئې زياتي پښې ورپټې کړي، ښنگري (ښېډۍ) په کي پټې شي. په لوڅ سر، له پکول، خولۍ، پټکي او لونگۍ سره ځمونځ کول يو برابر دي؛ که څه توپير لري نو فقط د ثواب په حد کي؛ او حتی ويلی شو چي که څوك د الله تعالی په وړاندي د خپل عجز او انکسار ښودلو لپاره لوڅ سر ودرېږي؛ نه يوازي گناه ئې نه ده کړې بلکي د ثواب داسي کار ئې کړی چي حاجيان ئې د حج په دوران کي کوي. د احنافو د فقهاءو رأيه همدا ده. متأسفانه داسي کسان هم شته چي ځان ته اهل حديث

وايي؛ او يوازي د بخاري روايات مني؛ خو عملاً بيا د هغو احاديثو هم مخالفت کوي چي بخاري ئې صحيح گڼي؛ وايي: د حج په دوران کې ښځې بايد نقاب پر مخ راخور کړي خو داسي چي له مخ سره به ئې نه لگېږي!! گواکې په دې سره ئې هم پر حديث عمل کړی او هم ئې پر خپل مذهب!! ځيني ئې وايي چي په لوڅ سر لمونځ کول مکروه دي!! که پوښتنه وکړو چي د کوم نص په استناد؟ قرآن خو دا خبره نه ده کړې، په احاديثو کې خو دا خبره نه ده شوې، رسول الله صلی الله عليه و سلم خو هم د حج او عمرې په دوران کې لوڅ سر لمونځ کړی او هم په ځينو نورو وختونو کې، تاسو د څه په استناد دا خبره کوئ؟! داسي څه به ترې واورئ چي حيران به شئ!! وايي: الله تعالی فرمايلي: خُذُواْ زِينَتَكُمۡ عِندَ كُلِّ مَسۡجِدٍ، د دې آيت ترجمه هم داسي کوي: هر جومات ته د تلو په وخت کې خپل زينتي لباس واغوندئ، خو نه د دې آيت ترجمه دغسي ده او نه ئې مطلب دا دئ چي پگړۍ يا خولۍ پر سر کړئ؛ ځکه دلته مسجد د اسم زمان په توگه راغلی نه د اسم مکان، مراد ئې د سجدې او لمانځه وخت دئ نه جومات؛ او مقصد ئې دا دئ چي د هغو خلکو غلطه عقيده ترديد کړي چي وايي په زړو، ځيړو، خيرنو، پينه شوو، وړينو، کرباسي او ملنگي جامو کې لمونځ کول ډېر ثواب لري!! الله تعالی فرمايي چي تر ټولو ښکلې (کښلې) جامې مو د لمانځه لپاره واغوندئ، الهي شريعت موږ ته وايي چي جومات ته د تلو په وخت کې ښې جامې واغوندئ، عطر ووهئ، که د خولو په سبب يا د کوم څه د خوړلو له کبله مو له خولې يا ځان بد بوی تلو نو جومات ته له تگ ډډه وکړئ، ځان پاکيزه او ستره کړئ بيا جومات ته ولاړ شئ. د خُذُواْ زِينَتَكُمۡ معنی او مراد دا دئ؛ نه د خولۍ او پگړۍ پر سر کول. هيڅوك حق نه لري په حلال او حرام کې معمولي او لږ څه زيات يا کم کړي.

ځيني نور وايي: جومات او مدرسې ته د مېرمنو او نجونو تگ د دې لپاره روا نه دئ چي اوس د فساد او فتنو دور دئ؛ دوی ته وايو: مگر تاسو تر

الله تعالی او د هغه تر رسول علیه السلام ډېر پوه او پر دین ئې ډېر غیرتي یئ چي الله تعالی او د هغه رسول اجازه ورکړې؛ خو تاسو ئې نه ورکوئ؛ په داسي حال کي چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم او د صحابه وو لوښي او مېرمني هغه مهال؛ هم جومات ته تللې، هم حج او عمرې ته، هم د ورځنیو کارونو لپاره بهر وتلې، هم د خپلوانو لیدو ته او هم د جهاد سنگرونو ته؛ سره له دې چي هغه مهال نږدې نیمایي مدینه د یهودانو لاس کي وه؛ بازار تر ډېره حده د دوی په واك کي وو، منافقینو، مرجفینو او هغو چي زړونه ئې بیمار وو؛ همدا مسلماني مېرمني ځورولې؛ خو الله تعالی او پیغمبر ئې د دې پر ځای چي دا مېرمني بهر او جومات ته له تگ منع کړي؛ دا تورزړي منافقین او مرجفین ئې وگواښل چي که له دې شرارتونو لاس وانه خلي؛ نو له مدینې به وشړل شي؛ قرآن فرمایي:

لَئِنْ لَمْ يَنْتَهِ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ وَالْمُرْجِفُونَ فِي الْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَا إِلا قَلِيلا۝٦٠ مَلْعُونِينَ أَيْنَمَا ثُقِفُوا أُخِذُوا وَقُتِّلُوا تَقْتِيلا۝٦١ الأحزاب:٦٠- ٦١

که د مدینې منافقین او هغه چي په زړونو کي ئې بېماري ده او مرجفین (د افواهاتو خوروونکي) ډډه ونه کړي؛ حتماً به تا پرې برلاسی کړو چي بیا به دلته ستا مجاورت ونه کړي مگر لږ، لعنت کړی شوي، چي چېري وموندی شي ونیول شي او په ځانگړي وژلو سره ووژل شي.

او تر دې وړاندي آیت کي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته داسي ویل شوي:

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلابِيبِهِنَّ ذَلِكَ أَدْنَى أَنْ يُعْرَفْنَ فَلا يُؤْذَيْنَ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا۝٥٩

الأحزاب: ٥٩

اې نبي! خپلو مېرمنو، خپلو لوڼو او د مؤمنانو مېرمنو ته ووايه چي خپل پړوني پر خپلو ځانونو راتاو کړي؛ همدا دې ته نږدې ده چي وپېژندی شي او ونه ځورول شي او الله مهربان بخښونکی دئ.

په دې آيت کي رسول الله صلی الله عليه و سلم ته سپارښتنه شوې چي: خپلو مېرمنو، خپلو لوڼو او د مؤمنانو مېرمنو ته ووايه: خپل پړوني درباندي راتاو کړئ؛ په دې سره به وپېژندی شئ او د مفسدينو له ځورونو به وساتل شئ. يعني ستاسو جلباب او پړونی ستاسو د شخصيت مُعَرِّف دئ؛ نورو ته دا پيغام لېږي چي تاسو عفيفي، پاك لمني او متقي مېرمني يئ، همدا پړونی به تاسو د هغو مفسدينو له ځورونو خوندي ساتي چي په کوڅه او بازار کي د بدلمنو مېرمنو په لټه کي وي.

گورئ چي الله تعالی؛ مؤمني مېرمني د منافقينو او مرجفينو د شرارتونو له کبله جومات ته له تگ نه دي منع کړي؛ بلکي ورته ويلي ئې دي چي له داسي مناسب پړوني سره ولاړي شي چي منافقين ئې د ځورولو جسارت ونشي کړی.

د منافقينو او مرجفينو له شرارتونو سره سره؛ مسلماني مېرمني؛ هره ورځ پنځه وخته جومات ته تللې او په جمع ئې له نورو سره لمونځونه کول؛ د جمعې او اختر په لمونځونو کي ئې برخه اخيستله؛ په دې اړه روايات دومره زيات دي چي انکار ترې ممکن نه دئ؛ فقهاءو او ائمه وو د احنافو په شمول په جومات کي د دوی ځای مشخص کړی؛ په لومړي صف کي نارينه، ورپسې ماشومان او په وروستيو صفونو کي مېرمني.

متأسفانه هغه چي گمان کوي؛ يا ئې خپله شخصي سليقه داسي ده چي مېرمني بايد مخ او لاسونه پټ وساتي؛ د دې آيت په اړه هم داسي څه وايي چي کولی شو هغه ته د ښکاره آيت تحريفول ووايو؛ وايي: په (يُعْرَفْنَ) کي لا

مقدر او گواکې (لَا يُعْرَفْنَ) ده او معنی ئې دا چې ونه پېژندل شي!! آيت وايي: ستا جلباب تا او ستا شخصيت معرفي کوي او هر چا ته ښيي چې ته باشخصيته متقي او پاك لمنه مېرمن يې؛ خو دوی له ځانه داسي څه په آيت کې په زور ځايوي چې د غلطي رأی لپاره مُسْتَمْسَك ترې جوړ شي او ثابته کړي چې مېرمني بايد داسي جامه ولري چې ونه پېژندل شي!! د خپل پربوتي مزاج په امر؛ د الله تعالی په کلام کې داسي تصرف؛ يا د ډېر جهالت له کبله کېدی شي او يا د ړانده تعصب له کبله؛ له دواړو الله تعالی ته پناه وړو!!

دا هم بايد په پام کې ولرو چې د حجاب اړوند آيت داسي مهال نازل شوی چې په جومات کې د ناستو ډېرو مؤمنو مېرمنو يا سرونه لوڅ ول، يا ئې غاړه او گرېوان؛ د آيت په اورېدو سره فوراً پاڅېدې، ځينو هملته په جومات کې د سر، غاړې او گرېوان پټولو چاره وکړه او ځيني خپلو کورونو ته ولاړې؛ ستونزه ئې حل کړه او بېرته جومات ته راستنې شوې.

همدا د شريعت د تطبيق هغه صحيح او شرعي اسلوب او طريقه ده چې رسول الله صلی الله عليه و سلم په دې او نورو مواردو کې عملي کړې ده. احکام ورو ورو او په تدريج سره نازل شوي او خلك داسي روزل شوي چې په خپله خوښه او له زور او فشار پرته پرې عمل وکړي.

که د حجاب او پوښښ تر نامه لاندي؛ مېرمني جومات، مدرسې او ښوونځي ته له تگ منع او له دين بې خبره او بې علمه پاته شي؛ نو زموږ راتلونکی نسل به له دين بې خبره وي؛ د هر انسان لومړی استاد د ده مور ده؛ شخصيت ئې د مور په غېږ کې جوړېږي؛ يوازي د مؤمني او په دين پوه مور اولاد به مؤمن او په دين پوه روزل کېږي؛ د رسول الله صلی الله عليه و سلم مېرمني د نورو لپاره استاداني وې؛ له ډېرو ئې په سلگونو روايات نقل شوي.

عائشه رضي الله عنها تر ټولو ستره مفسره او په حديث او تفسير کې د نورو لپاره استاده وه. د عبد الله بن عمر او عبد الله بن عباس په څېر د

مشهورو صحابه وو اشتباهات هم دې تصحیح کول. دا علم ئې یا په جومات کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم له خطبو او موعظو زده کړی، یا له هغه سره د حج، عمرې او غزواتو په سفرونو کې، یا له هغو ناستو چې سړي او ښځي د رسول الله صلی الله علیه و سلم کور ته راغلي؛ پوښتني ئې کړې او هغه ځواب ورکړی؛ او یا دې په خپله او په کور کې له پیغمبر علیه السلام زده کړي؛ په جرأت سره ویلی شو چې لږ برخه به ئې په کور کې زده کړې وي؛ دا ځکه چې هر پیغمبر او هر داعي د دعوت په کار کې دومره مصروف او منهمك وي چې په خپل کور کې یوازي دومره وخت تېرولي شي چې د آرام او دمې لپاره ورته ضرورت لري؛ قرآن د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اړه همداسي فرمايي:

إِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِ سَبْحًا طَوِيلًا ﴿٧﴾ المزمل ۷

یقیناً چې تا ته په ورځو کې اوږدې مشغولتیاوي وي.

یعني رسول الله صلی الله علیه و سلم به د ورځي له لوري د دعوت او رسالت په چارو کې دومره زیات مصروف وو چې د شخصي او کورني کارونو لپاره ئې لږ وخت درلود.

له لومړۍ ورځي چې په مدینه کې د پیغمبر علیه السلام په لاس جومات جوړ شو بیا تر هغه چې له دنیا ئې رحلت وکړ؛ مېرمني جومات ته تللې؛ په وار وار ئې فرمایلي: جومات ته د خپلو مېرمنو له تګ ممانعت مه کوئ؛ د حجة الوداع په مهمي او آخري خطبې کې ئې د مېرمنو په اړه سپارښتنه وکړه او وئې فرمایل: د دوی په اړه له الله تعالی ووېرېږئ.

او تاسو پوهېږئ چې هغه مهال جومات یوازي د لمانځه مکان نه وو؛ یوه ستره او اغېزمنه مدرسه هم وه او د جرګو او پرېکړو مهم مرکز هم.

آیا د جومات او مدرسې تر منځ کوم فرق او توپیر شته؟ که مېرمني نه جومات ته ولاړې شي او نه مدرسې ته؛ نو دوی به څنګه روزل کېږي او څنګه

**به له الهي لارښوونو خبرېږي؟!**

**د اختر او جمعې په لمونځونو کې شرکت؛ د امام او خطیب خطبه اورېدل؛ له دې کوم توپیر لري چې په صنف کې د استاد درس واوري؟**

## د جامې په اړه روایات څه وایي؟

**هر مسلمان دا هڅه کوي چې تر قرآن وروسته په دې هم ځان پوه کړي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم به د حجاب په اړه څه ویلي وي؛ دا کار د بلې هرې قضیې په اړه هم کوي؛ دوی باید تل دې ته متوجه وي چې حدیث د قرآن شرح او تفسیر دئ؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم به د حجاب په اړه همغه څه ویلي وي چې قرآن ویلي؛ نه کم نه زیات؛ او د بلې هرې مسئلې په اړه هم دغسې؛ شرح او تفسیر یوازې د مزید وضاحت لپاره وي نه د څه زیاتولو او کمولو لپاره. باور او اعتقاد مو باید دا وي چې هیڅ داسې صحیح حدیث نشته چې په قرآن کې شاهد او منشأ ونه لري او یا د قرآن خلاف وي؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ته منسوب هره هغه وینا غلط انتساب دئ چې له قرآن سره تعارض ولري او په قرآن کې کوم شاهد ونه لري.**

**د قرآن د آیتونو تر څنګ د رسول الله صلی الله علیه و سلم له ارشاداتو هم معلومېږي چې د مېرمنو مخ، لاسونه او پښې په ستر کې نه دي شامل؛ د مُحرِم (حج کوونکي) د لباس د څرنګوالي په اړه د بخاري دې روایت ته ځیر شئ:**

**۱۷۰۷ - عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ قَامَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ مَاذَا تَأْمُرُنَا أَنْ نَلْبَسَ مِنْ الثِّيَابِ فِي الْإِحْرَامِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَلْبَسُوا الْقَمِيصَ وَلَا السَّرَاوِيلَاتِ وَلَا الْعَمَائِمَ وَلَا الْبَرَانِسَ إِلَّا أَنْ يَكُونَ أَحَدٌ لَيْسَتْ لَهُ نَعْلَانِ فَلْيَلْبَسْ الْخُفَّيْنِ وَلْيَقْطَعْ أَسْفَلَ مِنْ الْكَعْبَيْنِ**

وَلَا تَلْبَسُوا شَيْئًا مَسَّهُ زَعْفَرَانٌ وَلَا الْوَرْسُ وَلَا تَنْتَقِبْ الْمَرْأَةُ الْمُحْرِمَةُ وَلَا تَلْبَسْ الْقُفَّازَيْنِ رواه البخاري

له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي: يو سړی پاڅېد او وئې ويل: يا رسول الله! څه امر راته کوې چي په احرام کي به کومه جامه اغوندو؟ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: نه به کميس اغوندي، نه پرتوګونه، نه پټکي، نه چپني، او که څوک پڼې (څپلکي) ونه لري نو موزې دي واغوندي؛ خو داسي دې پرې کړي چي تر ښنګريو (بېډيو) لاندي شي؛ او نه دي داسي جامه اغوندي چي وَرْس (هغه بوټی چي جامې ته سور رنګ ورکوي) او زعفران (هغه بوټی چي جامې ته ژېړ رنګ ورکوي او ښه بوی لري)؛ پرې وهل شوي وي؛ او مُحْرِمه ښځه دي نه نقاب اغوندي او نه لاس پوښي.

د بخاري بل روايت دا دئ:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم. وَعَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَالِمٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم أَنَّ رَجُلاً سَأَلَهُ مَا يَلْبَسُ الْمُحْرِمُ فَقَالَ "لاَ يَلْبَسِ الْقَمِيصَ وَلاَ الْعِمَامَةَ وَلاَ السَّرَاوِيلَ وَلاَ الْبُرْنُسَ وَلاَ ثَوْبًا مَسَّهُ الْوَرْسُ أَوِ الزَّعْفَرَانُ، فَإِنْ لَمْ يَجِدِ النَّعْلَيْنِ فَلْيَلْبَسِ الْخُفَّيْنِ وَلْيَقْطَعْهُمَا حَتَّى يَكُونَا تَحْتَ الْكَعْبَيْنِ". (بخاری: ١٣٤)

په دې روايت کي چي راوي ئې عبد الله بن عمر رضي الله عنهما دئ همغه د مخکني روايت مطلب راغلی؛ يوازي په دومره توپير سره چي د مُحرِمي مېرمني د جامې څرنګوالي ته اشاره نه ده شوې؛ په داسي حال کي چي د دواړو راوي يو تن (عبدالله بن عمر) دئ؛ او د دې معنی دا ده چي بشپړ روايت مخکنی دئ او دا ئې نامکمل.

دا روايتونه په بخاري کي لس ځلي په دغو شمېرو راغلي: ٣٦٦، ١٥٤٢،

۱۸۳۸، ۱۸٤۲، ٥٧٩٤، ٥٨٠٣، ٥٨٠٥، ٥٨٠٦، ٥٨٤٧، ٥٨٥٢، په دوی کې دا توپیرونه تر سترګو کېږي: په ځینو کې د مفرد په صیغه راغلي لاَ يَلْبَسُ الْقَمِيصَ وَلاَ السَّرَاوِيلَ وَلاَ الْبُرْنُسَ وَلاَ ثَوْبًا مَسَّهُ الزَّعْفَرَانُ وَلاَ وَرْسٌ او په ځینو کې د جمع په صیغه لاَ يَلْبَسُ الْقُمُصَ وَلاَ الْعَمَائِمَ وَلاَ السَّرَاوِيلاَتِ وَلاَ الْبَرَانِسَ وَلاَ الْخِفَافَ، إِلاَّ أَحَدٌ لاَ يَجِدُ نَعْلَيْنِ فَلْيَلْبَسْ خُفَّيْنِ په ځینو کې وَلاَ تَلْبَسُوا مِنَ الثِّيَابِ شَيْئًا مَسَّهُ الزَّعْفَرَانُ أَوْ وَرْسٌ او په ځینو کې أَنْ يَلْبَسَ الْمُحْرِمُ ثَوْبًا مَصْبُوغًا بِوَرْسٍ أَوْ بِزَعْفَرَانٍ، په ځینو کې دا هم راغلي لاَ تَتَنَقَّبِ الْمُحْرِمَةُ وَلاَ تَلْبَسِ الْقُفَّازَيْنِ: ښځې دې نه پر مخ نقاب اچوي او نه دې لاس پوښې په لاس کوي، په ځینو کې حَتَّى يَكُونَا تَحْتَ الْكَعْبَيْنِ په ځینو کې حَتَّى يَكُونَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ. دا ټول روایات د مفهوم او معنی له پلوه سره ورته دي؛ خو ځیني ئې مختصر او ځیني ئې جامع دي. تر ټولو جامع ئې ۱۸۳۸ روایت دئ چي په هغه کې د ښځو په اړه هم لارښوونه شوې.

د بخاري مکررو روایاتو په عمومي توګه په ټولو او په ځانګړي ډول دې خاص مورد کې هم ستونزي راولاړي کړې؛ دا لس روایات ئې په حقیقت کې یو روایت دئ؛ إسناد ئې هم په بشپړه توګه سره ورته؛ خو په الفاظو کې ئې توپیرونه شته او د بخاري لوستونکي ته ګرانه ده چي یو ترې غوره کړې او پوه شي چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم اصلي وینا کوم روایت له کومو الفاظو او ترکیب سره په سمه او بشپړه توګه منعکس کړې؛ په ځینو کې ئې دا برخه (لاَ تَتَنَقَّبِ الْمُحْرِمَةُ وَلاَ تَلْبَسِ الْقُفَّازَيْنِ: ښځې دې نه پر مخ نقاب اچوي او نه دې لاس پوښې په لاس کوي،) راغلې او په ځینو کې دا مهمه برخه نه ده راغلې؛ امام بخاري رحمه الله دا هم نه دي ویلي چي د ده له نظره کوم روایت اصح دئ؛ دا مهم او اساسي کار ئې لوستونکو ته پرېښی او همدا د اختلاف باعث شوی؛ هر لوستونکي د خپلي سلیقې مطابق یو ترې غوره کړی؛ چا نقاب او قفازین کارول تحریم کړي او چا جائز او حتی فرض ګڼلي!!!

له دې رواياتو هم په څرګنده معلومېږي چي مېرمني به په احرام کي نه نقاب پر مخ لري او نه به لاس پوښي اغوندي. احنافو همدغه روايات ارجح موندلي. اما اهل حديث د بخاري د ١٨٣٨ او ١٧٠٧رواياتو خلاف مېرمني پر دې ګماري چي پر مخ نقاب او پر لاسونو لاس پوښي واغوندي!!

په احرام کي له نقاب او لاس کښو د مېرمنو ممانعت ښيي چي: تر دې لارښووني وړاندي مېرمنو هم په احرام کي دا دواړه اغوستل او هم له احرام پرته؛ او تر اسلام وړاندي هم د قريشو شتمنو او هغو چي ځان ئې تر نورو يا ډېر عزيز او شريف ګڼلو او يا ډېر دينپال؛ همدا کار کولو؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې د نه اغوستلو سپارښتنه وکړه؛ د دې سپارښتني معنى دا ده چي الله تعالى مېرمني د مخ او لاس په پټولو نه دي ګمارلې؛ که نه نو رسول الله صلى الله عليه و سلم به هيڅکله مېرمني د يوه فرض په ترك كولو او هغه هم د حج په څېر مراسمو کي نه ګمارلې. هغه چي بې ځايه هڅه کوي او غواړي وښيي چي دا حکم منسوخ شوی؛ ادعاء ئې بې دليله ده؛ ځکه د عبد الله بن عباس رضي الله عنه هغه روايت چي د خپل ورور فضل بن عباس په اړه ئې راوړی او ښيي چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم په وروستي حج کي يوې مېرمني چي مخ ئې لوڅ وو ترې پوښتنه وکړه.... رسول الله صلى الله عليه و سلم ځواب ورکړی او هغې ته ئې نه دي ويلي چي خپل مخ پټ کړه؛ او دا د پيغمبر عليه السلام د ژوند د وروستيو شېبو پېښه وه؛ لارښوونه ئې ناسخ کېدی شي خو منسوخ په هيڅ توګه نه.

د احرام په اړه په بخاري کي راغلي روايات په اصل کي يو روايت دئ، د راويانو سلسله ئې هم يوه ده، د حديث په نورو کتابونو کي هم همدا روايت راغلی. بشپړ ئې هغه دئ چي د مېرمنو احرام هم په کي بيان شوی او ويل شوي چي: وَلَا تَنْتَقِبِ الْمَرْأَةُ الْمُحْرِمَةُ وَلَا تَلْبَسْ الْقُفَّازَيْنِ: او مُحْرِمه ښځه دي نه نقاب اغوندي او نه لاس پوښي.

---

٤١٠٤ - عن عائشة: أن أسماءَ بنتَ أبي بكْرٍ دَخَلَت على رسولِ الله - صلَّى الله عليه وسلم - وعليها ثِيَابٌ رِقَاقٌ، فأعْرَضَ عنها رسولُ الله - صلَّى الله عليه وسلم -، وقال: "يا أسماءُ إن المرأةَ إذا بَلَغَتِ المَحِيضَ لم يصلُحْ أن يُرى مِنَها إلا هذا وهذا" وأشار إلى وجهه وكفَّيْهِ. سنن أبي داؤد

له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي خور ئې أسماء بنت ابوبكر په داسي حال کي د رسول الله صلى الله عليه و سلم خوا ته راغله چي نرۍ جامه ئې اغوستې وه؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم مخ ترې واړولو او وئې فرمايل: اې اسماء! کله چي ښځه پېغله شي نو سمه نه ده چي له دې دواړو پرته بل څه ترې وليدل شي؛ مخ او د لاسونو رغوو ته ئې اشاره وکړه.

دا روايت د سنن أبو داؤد په شمول په دغو کتابونو کي هم راغلی: شعب الايمان، السنن الصغير للبيهقي، السنن الكبرى للبيهقي، أبو داؤد ئې په اړه وايي: حسن لغيره، وهذا إسناد ضعيف. سعيد بن بشير وإن كان ضعيفاً لكن يصلح للمتابعة، خَالِدِ بْنِ دُرَيْكٍ لم يُدْرك عائشة. الباني ئې صحيح ګڼي؛

خو په همدې ارتباط ئې بل روايت داسي دئ:

٤٣٧ - حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ دَاوُدَ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ الْجَارِيَةَ إِذَا حَاضَتْ لَمْ يَصْلُحْ أَنْ يُرَى مِنْهَا إِلَّا وَجْهُهَا وَيَدَاهَا إِلَى الْمَفْصِلِ» وهذا سند رجاله ثقات رجال الشيخين إلا أنه مرسل. سنن ابى داؤد

يعني د أبو داؤد له نظره دا روايت که څه هم مرسل دئ خو معتبر او د متابعت وړ دئ؛ او راويان ئې ثقه.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ: شَهِدْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم

الصَّلَاةَ يَوْمَ الْعِيدِ، فَبَدَأَ بِالصَّلَاةِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ، بِغَيْرِ أَذَانٍ وَلَا إِقَامَةٍ، ثُمَّ قَامَ مُتَوَكِّئًا عَلَى بِلَالٍ، فَأَمَرَ بِتَقْوَى اللهِ، وَحَثَّ عَلَى طَاعَتِهِ، وَوَعَظَ النَّاسَ وَذَكَّرَهُمْ، ثُمَّ مَضَى حَتَّى أَتَى النِّسَاءَ، فَوَعَظَهُنَّ وَذَكَّرَهُنَّ، فَقَالَ: " تَصَدَّقْنَ، فَإِنَّ أَكْثَرَكُنَّ حَطَبُ جَهَنَّمَ "، فَقَامَتِ امْرَأَةٌ مِنْ سِطَةِ النِّسَاءِ " سَفْعَاءُ الْخَدَّيْنِ "، فَقَالَتْ: لِمَ يَا رَسُولَ اللهِ؟، قَالَ: " لِأَنَّكُنَّ تُكْثِرْنَ الشَّكَاةَ، وَتَكْفُرْنَ الْعَشِيرَ "، قَالَ: فَجَعَلْنَ يَتَصَدَّقْنَ مِنْ حُلِيِّهِنَّ، يُلْقِينَ فِي ثَوْبِ بِلَالٍ مِنْ أَقْرِطَتِهِنَّ وَخَوَاتِمِهِنّ. مسلم

وهذا الحديث يدل على أن النساء كُنَّ يحضرن الصلاة مكشوفات الوجوه ولذلك استطاع الراوي أن يَصِفَ بعضَهن بأنها سفعاء الخدين.

له جابر بن عبد الله روايت دئ چي د عيد په لمانځه كې له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره حاضر وم؛ لمونځ يې تر خطبې وړاندي وكړ؛ له آذان او اقامت پرته؛ بيا په داسي حال كې ودرېدو چي پر بلال يې تكيه كړې وه؛ نو يې په الهي تقوى وګمارل او د ده اطاعت ته يې وهڅول؛ او خلكو ته يې وعظ او نصيحت وكړ؛ بيا تر هغه لاړو چي مېرمنو ته ورغی او هغوی ته يې وعظ او نصيحت وكړ او وئې ويل: صدقه وركړئ چي يقيناً د مېرمنو ډېری به د دوزخ سوند وي؛ نو يوه مېرمن د مېرمنو له منځنيو پاڅېده؛ چي اننګي يې تور بخون وو او وئې ويل: ولې يا رسول الله؟! وئې فرمايل: د دې لپاره چي تاسو ډېر شكايتونه كوئ او د خپلوانو د ښېګڼو ناسپاسي كوئ؛ راوي وايي: نو دوی لګيا شوې د خپلو ګاڼو په صدقه كولو؛ د بلال په ځادر كې به يې خپلي غوږۍ او ګوتې اچولې.

د الجامع الصحيح للسنن و المسانيد مصنف او نور محققين وايي: دا حديث ښيي چي هغه مهال به مېرمني په داسي حال كې لمانځه ته حاضرېدې چي مخونه به يې لوڅ وو؛ له همدې كبله راوي توانېدلی د هغې مېرمني په

اړه چې پوښتنه ئې کړې وه؛ ووايي: بغورونه (اننګي) ئې توربخون وو (د فقر آثار ئې په مخ کې ليدل کېدل).

**عن ابْنَ عَبَّاسٍ: أَنَّ امْرَأَةً مِنْ خَثْعَمَ اسْتَفْتَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ، وَالْفَضْلُ بْنُ عَبَّاسٍ رَدِيفُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ فَرِيضَةَ اللَّهِ فِي الْحَجِّ أَدْرَكَتْ أَبِي شَيْخًا كَبِيرًا لَا يَسْتَطِيعُ أَنْ يَسْتَوِيَ عَلَى الرَّاحِلَةِ، فَهَلْ يَقْضِي عَنْهُ أَنْ أَحُجَّ عَنْهُ؟ فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «نَعَمْ» ، فَأَخَذَ الْفَضْلُ بْنُ عَبَّاسٍ يَلْتَفِتُ إِلَيْهَا، وَكَانَتِ امْرَأَةً حَسْنَاءَ، فَأَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْفَضْلَ، فَحَوَّلَ وَجْهَهُ مِنَ الشِّقِّ الْآخَرِ مسند احمد**

له ابن عباس روايت دئ چې د خثعم د قبيلې يوې مېرمنې له رسول الله صلى الله عليه و سلم په حجة الوداع کې په داسې حال کې وپوښتل چې فضل بن عباس ئې تر شا وو؛ او وئې ويل: يا رسول الله! د حج فريضه په داسې حال کې زما پلار وموند چې زيات زوړ شوی؛ نشي کولی پر سورلۍ سم سېور شي؛ آيا حج ئې کېږي چې زه ئې پر ځای حج وکړم؟ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم هغې ته وويل: هو؛ راوي وايي: فضل بن عباس هغې ته کتل؛ هغه ښايسته مېرمن وه؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم د فضل مخ بل لوري ته واړولو...

پورتنی روايت چې د مسند احمد، بخاري، مسلم، سنن أبي داؤد، سنن النسائي، سنن الترمذي، المعجم الكبير للطبراني او سنن الدارمي؛ په څېر مهمو کتابونو راوړی شيي چې که د مېرمنو مخ پټول ضروري وی نو رسول الله صلى الله عليه و سلم به د خلکو په وړاندې د دې مېرمنې د لوڅ مخ په اړه سکوت نه کولو او حتماً به ئې هغه د مخ پر پټولو ګمارلې وه؛ او که ئې مخ پټ وو نو ابن عباس به نه وه پېژندلې چې دا ښايسته وه. دا د ابن حزم او د الباني په

شمول د نورو محققينو استدلال دئ.

او دا روايت چي وايي: مېرمني به په حج کې مخ او لاسونه نه پټوي؛ د حديث ټولو مهمو او معروفو کتابونو لکه مسند احمد، بخاري، مسلم، سنن أبي داؤد، سنن النسائي، سنن ابن ماجه، سنن الترمذي، موطأ مالك، السنن الكبرى للبيهقي، المعجم الاوسط، الشرح السنة للبغوي، صحيح ابن خزيمه او مسند ابي عوانه راوړی؛ په څرګنده او واضح توګه ښيي چي د مېرمني مخ او لاسونه په عوراتو کې شامل نه دي.

دوی وايي: له دې ثابتېږي چي د مېرمنو د مخ څرګندېدا عورت (د عار او پېغور خبره) نه ده او پټول ئې لازمي نه دي؛ نه په لمانځه کې او نه له لمانځه بهر؛ او همدا د اکثر علماءو رأيه او وينا ده؛ او همدا د دريو ائمه وو؛ أبو حنيفة، مالك او شافعي رحمهم الله مذهب دئ.

فقهاء په دې هم استدلال کوي چي په ورځنيو معاملاتو؛ لکه شهادت او ګواهي، پېر پلور کې دا ضرورت او حاجت رامنځته کېږي چي مخ څرګند شي؛ او په راکړې ورکړې کې لاسونه ښکاره شي؛ نو ځکه دا په عوراتو کې نه دي نيول شوي.

٦٠٠٢ - عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: أَوْمَأَتِ امْرَأَةٌ مِنْ وَرَاءِ سِتْرٍ بِيَدِهَا كِتَابٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَبَضَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: " مَا أَدْرِى أَيَدُ رَجُلٍ أَمْ يَدُ امْرَأَةٍ؟ " قَالَتْ: بَلْ يَدُ امْرَأَةٍ قَالَ: " لَوْ كُنْتِ امْرَأَةً لَغَيَّرْتِ أَظْفَارَكَ بِالْحِنَّاءِ " شعب الايمان

له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي يوې مېرمني په داسي حال کې چي په لاس کې ئې يوه پاڼه وه؛ د ستر له شا په خپل لاس رسول الله صلى الله عليه و ته اشاره وکړه؛ هغه خپل لاس راتم کړ؛ (مېرمني وويل: يا رسول الله! په خپل لاس مي دا پاڼه درته وړاندي کړه؛ نه دي واخستله)؛ وئې فرمايل: زه پوه نشوم چي

دا د ښځي لاس دئ که د نارینه؛ وئ ویل: د ښځي لاس دئ؛ وئ فرمایل: که ته ښځه یې نو نوکان به دي په نکریزو سره بدل (بل رنګ) کړي وو.

دا روایت په سنن أبو داؤد، مسند احمد، المعجم الأوسط، السنن الکبری للبیهقي، سنن النسائي او ځینو نورو کتابونو کي راغلی.

محققین وایي: په دې حدیث کي ښکاره دلیل دئ چي د مېرمنو لاسونه عورت نه دي؛ دا ځکه چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ورته کتلي او د نوکانو رنګول ئې د مېرمنو یو عادت ګڼلی.

له دې روایت معلومېږي چي د مېرمني لاس بربنډ وو؛ او رسول الله صلی الله علیه و سلم د هغې د لاس پر لوڅوالي نه کوم اعتراض کړی او نه ئې د پټولو امر. باید متوجه وو چي دې مېرمني د پردې له شا لاس اوږد کړی؛ نه دا چي مخ ئې پټ وو.

په پورتنیو نصوصو کي څو مضبوط او انکار نه منونکي دلائل زموږ مخي ته راغلل چي ښیي د مېرمنو مخ او لاسونه په ستر کي شامل نه دي:

١- د النور سورې٣٠ آیت (قُل لِّلۡمُؤۡمِنِینَ یَغُضُّواْ مِنۡ أَبۡصَٰرِهِمۡ) : مؤمنانو ته ووایه چي د خپلو سترګو (کارول) راکم کړي؛ دا ښیي چي د ښځو مخ لوڅ وو.

٢- د النور سورې د ٣١ آیت دا فقره (وَلا یُبْدِینَ زِینَتَهُنَّ إِلا مَا ظَهَرَ مِنْهَا)؛ ښیي چي د مېرمنو د وجود داسي برخي هم شته چي څرګندي وي؛ او د همدې څرګندو برخو په اړه د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما رأی دا ده چي وایي: مراد ئې رانجه، نکریزي، ګوتې او غوږۍ دي؛ او دا ښیي چي د مېرمنو مخ او لاسونه به څرګند وو.

٣- د همدې آیت له دې برخي (وَلا یَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِیُعْلَمَ مَا یُخْفِینَ مِنْ زِینَتِهِنَّ) معلومېږي چي د مېرمنو د زینت یوه برخه پټه ده او د همدې برخي له څرګندولو منع شوي؛ حتی له دې هم باید ډډه وکړي چي پر زمکي د پښو کلك وهلو سره دا ګاڼه جوته او غږ ئې واورېدل شي.

٤- د رسول الله صلى الله عليه و سلم دا حديث: وَلَا تَنْتَقِبْ الْمَرْأَةُ الْمُحْرِمَةُ وَلَا تَلْبَسْ الْقُفَّازَيْنِ: او مُحْرِمه ښځه دي نه نقاب اغوندي او نه لاس پوښي. دا روايت لس ځلي په بخاري کې راغلی او د حديث نورو کتابونو هم رااخيستی.

٥- عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ - رضي الله عنهما - أَنَّهُ قَالَ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى: {وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا} قَالَ: الْكَفُّ، وَرُقْعَةُ الْوَجْهِ: له ابن عباس رضي الله عنه روايت دئ چي د الله تعالى د دې کلام (وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا) په اړه ئې وويل: رغوي او د مخ برخه.

٦- وَعَنْ نَافِعٍ، عَنْ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: الزِّينَةُ الظَّاهِرَةُ: الْوَجْهُ وَالْكَفَّانِ. نافع له ابن عمر روايت کوي چي له ظاهر زينت مخ او دوه رغوي مراد دي.

٧- قال ابن حزم في (المُحَلَّى): " فأمرهن الله تعالى بالضرب بالخمار على الجيوب، وهذا نصٌّ على ستر العورة، والعنق، والصدر، وفيه نصٌّ على إباحة كشف الوجه، لا يمكن غير ذلك: ابن حزم په خپل کتاب (المُحَلَّى) کې وايي: الله تعالى مېرمني په دې وگمارلې چي خپل ټيکري پر گرېوان واچوي؛ او دا د غاړي او سينې د پټولو په اړه څرگند نص دئ او په همدې کې د مخ او رغوو د کشف او لوڅوالي په اړه واضح نص دئ؛ له دې پرته بل څه ويل ممکن نه دي.

٨- وَقَالَ الْأَعْمَشُ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: {وَلا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلا مَا ظَهَرَ مِنْهَا} قَالَ: وَجْهُهَا، وَكَفَّيْهَا، وَالْخَاتَمُ. اعمش له سعيد بن جبير او هغه له ابن عباس روايت کوي چي وئې ويل: له {وَلا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلا مَا ظَهَرَ مِنْهَا} مراد مخ، رغوي او گوتې دي.

٩- ورُوِي عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَعَطَاءٍ، وَعِكْرِمَةَ، وَسَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، وَأَبِي الشَّعْثَاءِ، وَالضَّحَّاكِ، وَإِبْرَاهِيمَ النَّخَعي، وَغَيْرِهِمْ نحوُ ذَلِكَ. او له ابن عمر، عطاء، عکرمه، سعيد بن جبير، ابي شعثاء، ضحاك، ابراهيم نخعي او له ډېرو نورو همدا خبره راغلې.

١٠- طبري ليکي: وَيُحْتَمَلُ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ وَمَنْ تَابَعَهُ أَرَادُوا تَفْسِيرَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا

بِالْوَجْهِ وَالْكَفَّيْنِ، وَهَذَا هُوَ الْمَشْهُورُ عِنْدَ الْجُمْهُورِ، وَيُسْتَأْنَسُ لَهُ بِالْحَدِيثِ الَّذِي رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ فِي سُنَنِهِ: حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ كَعْبٍ الْإِنْطَاكِيُّ، ومُؤَمَّل بْنُ الْفَضْلِ الحَرَّانِي قَالَا: حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ بَشِيرٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ خَالِدِ بْنِ دُرَيك، عَنْ عَائِشَةَ، - رضي الله عنها - أَنَّ أَسْمَاءَ بِنْتَ أَبِي بَكْرٍ دَخَلَتْ عَلَى النَّبِيّ صلى الله عليه وسلم وَعَلَيْهَا ثِيَابٌ رِقَاقٌ، فَأَعْرَضَ عَنْهَا وَقَالَ: " يَا أَسْمَاءُ، إِنَّ اَلْمَرْأَةَ إِذَا بَلَغَتْ الْمَحِيضَ، لم يَصْلُحْ أَنْ يُرَى مِنْهَا إِلَّا هَذَا، وَأَشَارَ إِلَى وَجْهِهِ وَكَفَّيْهِ "

او احتمالاً ابن عباس او هغه چي د ده متابعت ئې کړی؛ غوښتي د ما ظهر منها تفسیر په مخ او رغوو سره وکړي؛ او همدا د جمهور علماءو رأی ده؛ او د دې په تأييد کې هغه حديث راوړي چي أبو داؤد په خپل سنن کې راوړی؛ هغه چي له عائشې رضي الله عنها روايت شوی او وايي: خور ئې أسماء بنت ابوبکر په داسي حال کې د رسول الله صلى الله عليه و سلم خوا ته راغله چي نرۍ جامه ئې اغوستې وه؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم مخ ترې واړولو او وئې فرمایل: اې اسماء! کله چي ښځه پېغله شي نو سمه نه ده چي له دې دواړو پرته بل څه ترې وليدل شي؛ مخ او د لاسونو رغوو ته ئې اشاره وکړه.

۱۱- طبري په خپل تفسیر کې وايي: وكلُّ هذه الآثار والأقوال أو جُلُّها ذَكَرها ابنُ جريج بأسانيدها في (التفسير) ثم اختار قولَ ابن عباس ومن تابعَه، فقال: "وَأَوْلَى الْأَقْوَالِ فِي ذَلِكَ بِالصَّوَابِ: قَوْلُ مَنْ قَالَ: عُنِيَ بِذَلِكَ الْوَجْهُ وَالْكَفَّانِ، يَدْخُلُ فِي ذَلِكَ إِذَا كَانَ كَذَلِكَ الْكُحْلُ، وَالْخَاتَمُ، وَالسِّوَارُ، وَالْخِضَابُ، ... انظر تفسير الطبري.

او دا ټول آثار او اقوال چي ابن جریج له خپلو إسنادو سره په تفسیر کې یاد کړي او بیا ئې د ابن عباس او د ده د اتباعو قول غوره کړی او ويلي ئې دي: په دوی کې صواب او صحت ته نږدې وينا د هغه چا وينا ده چي له دې (ماظهر منها) ئې مخ او رغوي مراد کړي؛ که داسي وي نو په دې کې رانجه، ګوتې، لاسوندي او په نکريزو او بل څه رنګ شوي لاسونه راځي.

وروسته لیکي:

واعلم أن العلماء اتفقوا كما في (مراتب الإجماع) على أن شعر الحرة وجسمها - حاشا وجهها ويديها؛ عورة.... وقد ظهر لك من تفسير الآية الكريمة أنها تدلُّ دلالة دقيقة على أن الوجه والكفين منها ليس بعورة، وذلك ما دلَّت عليه السنة

او پوه شه چي علماءو په دې اتفاق کړی؛ داسي چي توافق ئې د اجماع په حد کي دئ؛ چي د آزادي مېرمني وېښتان او جسم؛ له مخ او لاسونو پرته؛ عورت دئ. او تا ته د (ما ظهر منها) آیت له تفسیر؛ څرگنده شوې چي په دقیقه توگه پر دې دلالت کوي چي مخ او لاسونه عورت نه دي او دا همغه څه دي چي سنت هم پرې دلالت کوي.

همغه چي وایي: اوس د فساد دور دئ نو ځکه باید د مېرمنو مخ پټ وي!! استدلال ئې په ظاهر کي موجه برېښي اما په حقیقت کي ډېري ستونزي لري؛ ځیني ئې دا دئ:

- دا رأی د ټولو مخکنیو نصوصو خلاف ده.

- دا د حلال او حرام په اړه له ځانه احکام صادرول دي؛ که د مخ لوڅوالی د فساد سبب وی نو الله تعالی به د همغه لوڅول په واضح الفاظو تحریم کړی وو.

- په مدینه کي همغه مهال د یهودانو تر څنگ داسي مفسدین، مرجفین او تور زړي هم وو چي مېرمني به ئې جومات ته د تلو او یا له کور د وتلو په وخت کي ځورولې؛ خو الله تعالی د دې پر ځای چي مېرمني بهر ته له تگ منع کړي؛ همدا مفسدین ئې وگواښل او وئې فرمایل:

لَئِنْ لَمْ يَنْتَهِ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ وَالْمُرْجِفُونَ فِي الْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَا إِلا قَلِيلا ﴿٦٠﴾ الأحزاب ٦٠

که منافقین او همغه چي په زړونو کي ئې بېماري ده او د مدینې مرجفین ډېره

ونه کړي حتماً به تا پرې برلاسی کړو چي بیا به دلته ستا مجاورت ونه کړي مګر لږ شانتي.

## آیا د مېرمنو ټول بدن عورت دئ؟

راشئ د هغو ښاغلو دلائل هم وګېړو چي وايي: د مېرمنو ټول بدن؛ له استثناء پرته عورت دئ؛ لومړی دلیل چي دوی پرې استدلال کوي دا آیت دئ:

وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الأُولَى وَأَقِمْنَ الصَّلاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا ﴿٣٣﴾ الأحزاب ٣٣

او په خپلو کورونو کي تم شئ او د مخکيني جاهلیت د دور څرګندېدو په څېر مه څرګندېږئ، لمونځ اقامه کړئ، زکات ورکړئ او د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړئ، الله خو یوازي دا غواړي چي له تاسو اې اهل بیت (کورواله وو)!؛ ناپاکوالی لري وساتي او په ځانګړي پاکولو سره مو پاکي وساتي.

دلته د رسول الله صلی الله علیه و سلم مېرمنو ته ویل شوي چي په خپلو کورونو کي تم شئ، بهر ته هغسي مه وځئ لکه چي د مخکيني جاهلیت په دور کي به ښځي له خپل جلبوونکي سينګار سره بهر وتلې او ځان به ئې پردیو ته ښودو، لمونځ کوئ، زکات ورکوئ او د الله او د هغه د رسول اطاعت کوئ، الله تعالی په دغو لارښوونو سره یوازي دا غواړي چي له تاسو اې کوروالو؛ ناپاکوالی لري وساتي او په ځانګړي پاکولو سره مو پاکي وساتي. یعني د دغو لارښوونو موخه او پایله دا ده چي ستاسو لمن به له ګناهونو پاکه ساتل کېږي او معنوي پاکوالی به مو په برخه کېږي. له دې نېکمرغه فُرصت اعظمي استفاده وکړئ چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم مصاحبت مو په برخه شوی، د هغه د کور واکمني يئ او ستاسو په خپل کور کي او د همدې مهربان

او حکیم لارښود له لوري د قرآن آیتونه او د حکمت خبرې دراورول کېږي، دا الهي آیتونه او د حکمت ویناوې زده او حفظ کړئ.

په دې آیت کې نه د مخ او لاس یادونه شوې، نه د دغو غړو د پټولو، نه د جامې، ټیکري، پړوني او لاس پوښو؛ مطلب ئې فقط دا دئ چې له خپلو کورونو داسې مه وځئ لکه د جاهلیت دور وتل. هغه چې له دې په تکلف او زور سره د ستر، حجاب او مخ پټولو مطلب راباسي؛ یقیناً چې ډېر ناوړه جسارت کوي؛ دا ځکه چې:

الف- حرام هغه دئ چې الله تعالی حرام کړی وي؛ د حرمت په اړه ئې صریح نص ولرو؛ حرمت ئې یقیني وي نه ظني؛ نه مراعات ئې ګناه او د سزا وړ عمل ګڼل شوی وي.

ب- نه یوازې په دې آیت کې بلکې د ټول قرآن په هیڅ آیت کې؛ نه صراحتاً داسې څه مومو چې د مخ او لاسونو پټول ترې معلوم شي او نه اشارتاً.

ج- د دې آیت داسې تفسیر او تعبیر چې په کور کې د مېرمنو دائمي پاته کېدا ترې راوایستل شي؛ نه یوازې د آیت له وروستۍ برخې سره قطعاً اړخ نه لګوي بلکې د صحابه وو د دور له منهج او عمل سره څرګند تعارض او تناقض لري؛ هغه مهال مېرمنې هم هره ورځ جومات ته تللې؛ هم د خپلوانو کورونو ته، هم حج او عمرې ته او هم ئې په غزواتو کې برخه اخیستله؛ او دا ټول د دوی له هغه تفسیر او تعبیر سره مغایرت لري چې د (وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ) په اړه ئې وړاندې کوي.

بل دلیل چې دوی پرې استناد کوي؛ د الأحزاب سورې د ۵۳ آیت دا فقره ده: (... وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ ... او چې کله له دوی څه غواړئ نو د حجاب او پردې له شا ئې وغواړئ)؛ دا آیت قطعاً د مخ پټولو په ارتباط نه دئ؛ اصلاً مېرمنو ته نه دئ راجع؛ معنی ئې قطعاً دا نه ده چې ګواکې مېرمنو ته ویل شوي خپل مخ پټ کړي؛ داسې څه ترې رایستل

ځرګنده مغالطه ده؛ دلته حکم نارينه وو ته راجع دئ؛ نارينه وو ته ويل شوي چي کله د رسول الله صلی الله عليه و سلم له مېرمنو څه غواړئ؛ نو د حجاب له شا ئې وغواړئ؛ او له حجاب مراد يا دروازه ده، يا پر دروازې ځوړنده پرده او يا دېوال؛ يعني کله چي کوم څه له امهات المؤمنين غواړئ؛ نو له بهر پرې غږ وکړئ او ترې وئې غواړئ؛ نه دا چي هڅه وکړئ ور درته پرانيزي او مخامخ څه ترې وغواړئ. دا سپارښتنه او لارښوونه که څه هم په اصل کې د امهات المؤمنين په اړه ده؛ خو د نورو مېرمنو په ارتباط هم بايد مراعات شي؛ د کور حرمت او درناوی دا ايجابوي چي ننوتل په اجازه وي؛ د نارينه په شتون کې وي؛ د نارينه په شتون کې هم له غير ضروري اوږدو ناستو ډډه وشي؛ او که حاد ضرورت دا ايجاب کړي چي د دوست له کور د هغه په غياب کې څه تر لاسه کول غواړي؛ نو د دروازې او پردې له شا دې له مېرمنو وغواړي.

د احزاب سورې ۵۳ آيت همدا لارښوونې زموږ په وړاندې ږدي او وايي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلا أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَى طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ وَلَكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَادْخُلُوا فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوا وَلا مُسْتَأْنِسِينَ لِحَدِيثٍ إِنَّ ذَلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ فَيَسْتَحْيِي مِنْكُمْ وَاللَّهُ لا يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ ذَلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ .... ﴿۵۳﴾

اې هغو چي ايمان ئې راوړی! د پيغمبر کورونو ته تر هغه مه ننوځئ چي اجازه درکړی شي، د داسي خوړو لپاره چي پخېدو ته ئې منتظر نه وئ؛ او کله چي وبلل شئ نو ننوځئ او کله چي خواړه وخورئ خواره شئ، او نه د خبرو تلوسه کوونکي، يقيناً چي ستاسو دا کار پيغمبر ځوروي او هغه له تاسو حياء کوي؛ او الله د حق (له ويلو) حياء نه کوي؛ او کله چي له مېرمنو (ئې) څه غواړئ نو د

حجاب له آخوا ئې ترې وغواړئ، همدا مو ستاسو او د دوی د زړونو لپاره د زيات پاکوالي باعث دئ....

د دوی ځيني په دې آيت هم استناد کوي:

وَٱلْقَوَٰعِدُ مِنَ ٱلنِّسَآءِ ٱلَّٰتِي لَا يَرْجُونَ نِكَاحًا فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ جُنَاحٌ أَن يَضَعْنَ ثِيَابَهُنَّ غَيْرَ مُتَبَرِّجَٰتِۭ بِزِينَةٍۖ وَأَن يَسْتَعْفِفْنَ خَيْرٌ لَّهُنَّۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ۝٦٠ النور ٦٠

او د ښځو هغه پر ځای ناستي (سپين سرې) چي د واده هيله نه لري نو په دې کې هيڅ گناه پرې نشته چي خپلي جامې ايسته کړي (په دې شرط چي) د زينت نه ښکاره کوونکې وي، او که حياء کول وغواړي ورته غوره دئ، او الله ښه اورېدونکی دئ.

يعني هغه سپين سرې زړې ښځي چي د واده هيله او شوق نه لري، تر دې عمر اوښتی وي چي د نکاح شوق وکړي، پر دوی باندي په دې اړه هيڅ گناه نشته چي خپلي داسي جامې لکه ټيکري او پړوني ايسته کړي، په دې شرط چي دا کار به ئې د کوم ضرورت له مخي وي؛ نه د زينت ښودلو په موخه؛ خو که دوی حياء کول وغواړي نو دا ورته غوره دئ؛ دا د هغه الله تعالی لارښوونې دې چي ښه اورېدونکی دئ؛ ښه پوهېږي چي څه درته گټور دي او څه مضر، څه وايئ او څه کوئ؛ په خپلو لارښوونو کې ئې دا ټول مراعات کړي.

د دې آيت په ارتباط بايد څو مطالب په پام کې ولرو:

- په دې آيت کې (ثياب) او (زينت) بېل بېل راغلي؛ يعني چي جامه دلته د زينت په ضمن کې نه ده راغلې؛ زينت گاڼې ته وايي او ثياب جامې ته؛ سپين سرې مېرمني ته د خمار او پړوني نه کارولو رخصت ورکړی شوی خو د گاڼې ښودلو اجازه نه لري.

• دا آیت له دوو مخکنیو آیتونو (۵۸ او ۵۹) سره تړلی دئ؛ او په اصلي مطلب ئې هغه مهال پوهېدی شو چي مخکني په پام کې ولرو؛ په مخکنیو کې راغلي: اې مؤمنانو! حتماً دي هغه کسان درې ځلي (درې وخته) له تاسو اجازه وغواړي چي ستاسو تر لاس لاندي (مریان، وینځي یا خادمان) دي او هغه هم چي لا ځوانۍ ته نه دي رسېدلي: ۱- د سحر له لمانځه وړاندي؛ ۲- هغه مهال چي د غرمې له لوري خپلي جامې باسئ او ۳- د ماخستن تر لمانځه وروسته؛ دا ستاسو د خلوت درې وختونه دي؛ له دې وختونو پرته؛ پر تاسو او پر هغوی کومه گناه نشته؛ په خپلو کې یو پر بل راچورلېدونکي؛ الله همداسي تاسو ته آیتونه بیانوي، او الله باحکمته پوه دئ. او کله چي ستاسو ماشومان ځوانۍ ته ورسېږي نو همغسي دي اجازه غواړي لکه چي تر دوی وړاندینیو اجازه غوښته، الله همداسي خپل آیتونه تاسو ته بیانوي؛ او الله باحکمته پوه دئ.

په همدې پسي متصل او د همدې دریو وختونو په ارتباط د سپین سرو مېرمنو یادونه شوې؛ او دوی ترې مستثنی شوې.

• دلته له ثیاب مراد ټوله جامه نه ده؛ هغه جامه ده چي هر نارینه او ښځینه ئې په خپلې خوني او هغه مهال باسي چي ویدېږي؛ لکه د مېرمنو ټیکری او پړونی؛ سپین سري مېرمني د ضرورت له کبله له دې مستثنی شوې؛ او په عام حالت کې هم رخصت ورکړی شوی؛ خو په دې شرط چي دا کار به ئې د خپلې گاڼې او سینگار ځرگندولو په موخه نه وي؛ او که له دې رخصت او جواز استفاده ونه کړي؛ ورته غوره دئ.

ډېره عجیبه ده چي ځوك له دې آیت په خورا تکلف او زحمت سره دا مطلب راباسي چي ځواني مېرمني به ټول بدن پټ ساتي او هیڅ جامه به له ځان نه لري کوي!!! او دا ځکه چي سپین سري ترې مستثنی شوې؛ گواکې د آیت مخالف مفهوم همدا دئ!!! دا هم عجیبه ده چي دوی له زینت د بدن ښایسته او حساس غړي مرادوي؛ په داسي حال کې چي په همدې آیت کې له

زينت فقط گاڼه مراد ده؛ د دوی ستونزه دا ده چي غواړي په هر صورت کي بايد دا ثابته کړي چي د مېرمنو ټول بدن عورت دئ؛ داسي څرګند نص نه مومي چي دې موخي ته په رسېدو کي ئې مرسته وکړي؛ نو ځکه کله د مخکني په څېر ناسم تأويلونه کوي؛ کله جامه د زينت په معنی نيسي او کله د بدن غړي؛ په داسي حال کي چي دواړه تعبيرونه ئې غلط دي؛ په دې آيت کي خو په واضح توګه ويل شوي چي ثياب او زينت (جامه او ګاڼه) بېل بېل دي.

دوی ته وايو: الله تعالی چي څه حلال يا حرام کړي نو په څرګندو الفاظو سره ئې موږ ته ښودلي؛ داسي چي نه په کي ابهام شته او نه داسي الفاظ کارول شوي چي په ډېر زحمت او تکلف سره ئې په تأويل او معنی پوهېدی شو؛ په دې روايت کي موږ ته همدا لارښوونه شوې:

٥٣٥٥ - عَنِ الشَّعْبِيِّ قَالَ: سَمِعْتُ النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " وَأَوْمَأَ النُّعْمَانُ بِإِصْبَعَيْهِ إِلَى أُذُنَيْهِ إِنَّ الْحَلَالَ بَيِّنٌ وَالْحَرَامَ بَيِّنٌ، وَبَيْنَ ذَلِكَ مُشْتَبِهَاتٌ، لَا يَعْلَمُهَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ، فَمَنِ اتَّقَى الشُّبُهَاتِ، قَدِ اسْتَبْرَأَ لِدِينِهِ، وَعِرْضِهِ، وَمَنْ وَقَعَ فِي الشُّبُهَاتِ، وَقَعَ فِي الْحَرَامِ، كَالرَّاعِي، يَرْعَى حَوْلَ الْحِمَى، يُوشِكُ أَنْ يَقَعَ فِيهِ، أَلَا وَإِنَّ لِكُلِّ مَلِكٍ حِمًى، وَإِنَّ حِمَى اللهِ مَحَارِمُهُ " شعب الايمان

له شعبي روايت دئ چي له نعمان بن بشير مي واورېدل چي رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: او نعمان خپلو غوږونو ته په دوو ګوتو اشاره وکړه او وئې ويل" يقيناً چي حلال څرګند دئ او حرام څرګند دئ؛ او د دوی تر منځ مشتبهات دي؛ چي ډېری خلك نه پرې پوهېږي؛ چا چي له شبهاتو ځان ساتنه وکړه؛ د خپل دين او عزت لپاره ئې ځان ترې ساتلی؛ او څوك چي په شبهاتو کي پرېوت؛ په حرام کي پرېوتی؛ د هغه شپانه په څېر چي خپله رمه د پولي خوا ته

څروي؛ کېدی شي په کې ننوځي؛ هر پاچا د خپل ملك لپاره پولي او حدود لري؛ د الله تعالی حدود د هغه محارم دي.

پوښتنه کوو: آیا په ټول قرآن کې یو داسي آیت راښودلی شئ چي په څرګنده او جوته توګه د مېرمنو د مخ او لاس پټولو حکم ترې معلوم شي او یا د نه څرګندولو نهي؟؛ ستاسو مجبوریت څه دئ چي په ناسمو تأویلونو او تعبیرونو سره له کوم آیت د حرمت حکم راباسئ؟! په داسي حال کې چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي: حلال او حرام په بشپړه توګه څرګند دي. نه یوازي دا بلکي د څرګند آیت خلاف خبره کوئ؛ قرآن وایي: د مېرمنو د بدن یوه برخه له پټولو مستثنی ده (إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا)؛ او تاسو دا نه منئ او وایئ: نه؛ ټول بدن ئې عورت دئ!!!

راشئ هغه روایات هم وڅېړو چي په استناد سره ئې ځیني د مېرمنو مخ پټول ضروري ګڼي:

۱. ځیني عائشې رضي الله عنها ته دا منسوبوي چي کله د رسول الله صلی الله علیه و سلم او ابوبکر رضي الله عنه قبرونو خوا ته عمر رضي الله عنه هم دفن شو؛ نو له دې وروسته به چي کله د رسول الله صلی الله علیه و سلم قبر ته راتله؛ خپل مخ به ئې پټولو؛ چا ترې پوښتنه وکړه چي دا ولې؟ وئې ویل: اوس د دوی په څنګ کې یو نامحرم هم شته؛ ځکه خپل مخ پټوم!!

عن عائشة رضی الله عنها؛ قَالَتْ: فَلَمَّا دُفِنَ عُمَرُ أَخَذْتُ الْجِلْبَابَ فَتَجَلْبَبْتُ بِهِ. قَالَ: فَقِيلَ لَهَا: مَالَكِ وَلِلْجِلْبَابِ؟ قَالَتْ: كَانَ هَذَا زَوْجِى، وَهَذَا أَبِى، فَلَمَّا دُفِنَ عُمَرُ تَجَلْبَبْتُ مسند أبی یعلی. حکم حسین سلیم أسد: إسناده ضعیف

د دوی په ځواب کې وایو:

الف: عائشه هغه څوك ده چي کله ئې واورېدل ابن عمر رضي الله عنه ویلي؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي چي مړي خبري اوري؛ وئې ویل:

"غَفَرَ اللهُ لِأَبِى عَبْدِ الرَّحْمَنِ إِنَّهُ وَهِلَ، إِنَّمَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَاللَّهِ إِنَّهُمْ لَيَعْلَمُونَ الْآنَ أَنَّ الَّذِى كُنْتُ أَقُولُ لَهُمْ حَقًّا"، وَإِنَّ اللَّهَ تَعَالَى يَقُولُ: {إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَى} [النمل: ۸۰] و {وَمَا أَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَنْ فِى الْقُبُورِ} [فاطر: ۲۲]

الله تعالی دي ابو عبد الرحمن (إبن عمر) ته مغفرت وکړي؛ یقیناً چي دی خطأ شوی؛ له شك پرته چي رسول الله صلی الله علیه و سلم وویل: "قسم پر الله چي دوی اوس ښه پوهېږي چي ما څه ورته ویل هغه حق دئ"، او یقیناً چي الله تعالی فرمايي: "إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَى" : النمل: ۸۰؛ ته (اې پیغمبره!) مړو ته څه اورولی نه شې. او فرمايي: "وَمَا أَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَنْ فِي الْقُبُورِ" فاطر: ۲۲: او ته (اې پیغمبره!) هغو ته اوروونکی نه یې چي په قبرونو کې دي.

اما دا دوستان عائشې رضي الله عنها ته داسي څه منسوبوي چي ګواکي هغې له نامحرم مړي ځکه مخ پټ کړی چي ګواکي مړي په قبر کې هم لیدل او هم اورېدل کولی شي!! روایت دا دئ:

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أَدْخُلُ بَيْتِى الَّذِى دُفِنَ فِيهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَبِى فَأَضَعُ ثَوْبِى، وَأَقُولُ إِنَّمَا هُوَ زَوْجِى وَأَبِى، فَلَمَّا دُفِنَ عُمَرُ مَعَهُمْ فَوَاللهِ مَا دَخَلْتُهُ إِلَّا وَأَنَا مَشْدُودَةٌ عَلَىَّ ثِيَابِى، حَيَاءً مِنْ عُمَرَ»

دا روایت دوه تعبیرونه درلودی شي: یو د هغو تعبیر چي وايي: مړي لیدل او اورېدل کولی شي؛ او بل د هغو تعبیر چي وايي: مېرمني باید خپل مخ پټ کړي؛ حتی له مړو هم؛ دا دواړه تعبیرونه د عائشې رضي الله عنها له هغه بل روایت سره ژور تعارض لري؛ دومره چي له دې دواړو یوازي یو صحیح ګڼلی شو؛ دا پرېکړه یوازي د سند له مخي نشو کولی؛ قرآن ته به ئې راجع کوو؛ قرآن موږ ته لارښوونه کړې چي هره اختلافي قضیه د الله تعالی کتاب؛ قرآن ته

راجع کړو؛ د قرآن په رڼا کې هغه روایت معتبر دئ چې عائشې رضي الله عنها په هغه کې د خپلې وینا د صحت ثابتولو لپاره د قرآن پر دوو آیتونو استناد کړی؛ او معنی ئې دا ده چې مړي څه نه اوري او د مړمنو مخ عورت نه دئ.

ب: یو له هغو روایاتو چې د حدیث ټولو مهمو کتابونو راوړی؛ او وایي: د مېرمنو مخ او لاسونه په عوراتو کې نه راځي او مېرمني مکلف شوې چې په احرام کې به نه مخ پټوي او نه لاسونه؛ هغه روایت دئ چې عائشه رضي الله عنها ئې راوي ده. څنگه منئ چې هغه به د خپل روایت خلاف عمل کوي او حتی له مړي به مخ پټوي؟!! روایت دا دئ:

۱۴۴۴۳- حدَّثَنَا ابْنُ فُضَيْلٍ ، عَنِ الأَعْمَشِ ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ ، عَنْ عَايِشَةَ قَالَتْ : تَلْبَسُ الْمُحْرِمَةُ مَا شَاءَتْ مِنَ الثِّيَابِ، إِلاَّ الْبُرْقُعَ وَالْقُفَّازَيْنِ، وَلاَ تَنَتَقِّبُ.

مسند ابن ابی شیبه

له عائشې روایت دئ چې وئې ویل: په احرام کې مېرمني هره هغه جامه اغوستی شي چې خوښه ئې وي؛ مگر برقع (چادرې ته ورته جامه)؛ لاس کښې او نقاب به نه وهي.

۲. د حدیث ځینو کتابونو د اِفْك قضیې په ارتباط یو داسي اوږد روایت راوړی چې په حقیقت کې د گڼ شمېر روایاتو مجموعه ده؛ او وروستني راویان ئې هم بېل بېل؛ په هغه کې دا وینا عائشې رضي الله عنها ته منسوب شوې چې گواکې له یوه نامحرم ئې خپل مخ په دې دلیل پټ کړی چې دا مهال د حجاب حکم نازل شوی وو. دا روایت ډېري ستونزي لري؛ دومره چې د روایت اعتبار تر جدي پوښتنو لاندي راولي؛ اساسي ستونزي ئې دا دي:

الف- په دې روایت کې عائشې رضي الله عنها ته داسي وینا منسوب شوې چې د هغې له معروفې او معتبرې وینا او رأی سره تناقض لري؛ په داسي حال کې د مخ پټول ورته منسوبوي چې دا د خپلې خور اسماء بنت ابوبکر اړوند هغه

روايت راوي ده چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: مېرمنو ته له بلوغ وروسته يوازي د مخ او رغوو څرګندول جائز دي!!!

ب- د افك قضيه د بني المصطلق غزوې په سفر کې رامنځته شوې؛ دا غزوه د احزاب تر جنګ شاوخوا يو کال وړاندي وه؛ د حجاب اړوند حکم؛ د احزاب له جګړي وروسته او د الاحزاب په سوره کې راغلی؛ خو دا روايت د دې خلاف وايي چي عائشې رضي الله عنها د دې لپاره خپل مخ پټ کړی چي د حجاب حکم نازل شوی وو؛ او ګواکې د الأحزاب سورې په ٥٣ آيت ئې استناد کړی: (... وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ ...)؛ په داسي حال کې چي دا آيت تر دې پېښي شاوخوا يو کال وروسته نازل شوی!!!

ج- دا آيت قطعاً د مخ پټولو په ارتباط نه دئ؛ اصلاً مېرمنو ته نه دئ راجع بلکي نارينه وو ته ويل شوي چي کله د رسول الله صلى الله عليه و سلم له مېرمنو څه غواړئ نو د حجاب له شا ئې وغواړئ؛ او له حجاب مراد يا دروازه ده، يا پر دروازې ځوړنده پرده او يا دېوال؛ يعني کله چي کوم څه له امهات المؤمنين غواړئ؛ نو له بهر پرې غږ وکړئ او ترې وئې غواړئ؛ نه دا چي هڅه وکړئ ور درته پرانيزي او مخامخ څه ترې وغواړئ.

د- په روايت کې د سعد بن معاذ رضى الله عنه؛ يادونه شوې؛ هغه د احزاب په جګړي کې ټپي شوی وو او د بني قريظه په اړه له حکميت وروسته له همدې ټپ وفات شو؛ څوك چي وايي: د بني المصطلق غزوه د احزاب تر جنګ وروسته وه؛ نو بيا ئې دا ادعاء غلطه ده چي سعد بن معاذ له دې غزوې وروسته ژوندی وو؛ او د بني المصطلق غزوې اړوند قضيې په ارتباط ئې په جومات کې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وويل: که تور لګوونکی د اوس له قبيلې وي نو سر به ئې غوڅ کړو؛ دا خو يوازي په هغه صورت کې د منلو وړ ده چي د بني المصطلق غزوه د احزاب تر جګړي وړاندي وي؛ خو روايت ئې تر دې وروسته ګڼي!! دا څرګند تعارض دئ؛ او که دا غزوه د احزاب تر

جګړي وروسته وي؛ نو پېښه د سعد بن معاذ له وفات وروسته رامنځته شوې؛ په جومات کې ده ته منسوب وينا به څنګه توجيه کوي؟!! دا تناقضات او تعارضات ښيي چي دا روايت هيڅ اعتبار نه لري.

هغو ته چي وايي: د النور سوره د الأحزاب تر سورې وروسته نازله شوې؛ وايو: په څو دلائلو ويلی شو چي د النور سوره تر الاحزاب وړاندي نازله شوې:

- له دوو رواياتو پرته نور ټول روايات همدا خبره کوي.

- د النور په سوره کي په عامه توګه ويل شوي چي کورونو ته د ننوتلو په وخت کي له هستوګنو اجازه وغواړئ او سلام پرې واچوئ او د الاحزاب په سوره کي ويل شوي چي د رسول الله صلی الله عليه و سلم کور ته له اجازې پرته مه ننوځئ، که بلنه درکړی شوه نو له خوراك وروسته خواره شئ او د رسول الله صلی الله عليه و سلم د خبرو اورېدو تلوسه دي تاسو زيات پاته کېدو ته ونه هڅوي؛ دا کار د رسول الله صلی الله عليه و سلم د اذيت باعث کېږي. هغه لارښوونه عامه او دا خاصه ده، معمولاً عامه لارښوونه تر خاصي وړاندي وي.

- د الاحزاب په سورې کي ويل شوي چي د رسول الله صلی الله عليه و سلم له وفات وروسته به د هغه مېرمني داسي ګڼئ لکه خپلي ميندي او له هغوی سره به نکاح نه کوئ. دا لارښوونه ښيي چي د الاحزاب سوره د رسول الله صلی الله عليه و سلم له رحلت لږ وړاندي نازله شوې، په همداسي وخت کي داسي لارښوونې ته ضرورت وو نه تر دې ډېر وړاندي.

- د النور سورې ۵۳ آيت وايي:

وَأَقْسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَٰنِهِمْ لَئِنْ أَمَرْتَهُمْ لَيَخْرُجُنَّ ۖ قُل لَّا تُقْسِمُواْ ۖ طَاعَةٌ مَّعْرُوفَةٌ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿٥٣﴾ النور: ٥٣

په خپلو کلکو قسمونو سره ئې د الله په نامه لوړه وکړه چي که امر ورته

وکړې نو حتماً به د جهاد لپاره ووځي؛ ووایه: لوړه مه کوئ، پېژندل شوی اطاعت دئ (ستاسو دنده)، يقيناً چي الله په هغه څه ښه پوهېږي چي تاسو ئې کوئ.

له دې آيت په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي دا سوره په هغو کلونو کې نازله شوې چي د بدر او احد له جګړو پرته نوري نښتي د مسلمانانو او د دوی د دښمنانو تر منځ نه وې شوې او لا د منافقينو هغه خصلت عملاً نه وو جوت شوی چي د نښتو په وخت کې د مسلمانانو له ملګرتيا او په جګړو کې له برخي اخيستو ډډه کوي؛ د احد له ماتي وروسته ډېر پټ دښمنان راڅرګند شول او د مسلمانانو خلاف ئې خصمانه فعاليتونه پيل کړل؛ د بني المصطلق قبيلې هم دغه مهال د شرارت اراده وکړه؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم ترې خبر شو او پر هغوی ئې د ناڅاپي بريد پرېکړه وکړه؛ همدا وضعيت د احزابو په لوی بريد منتج شو؛ ټولو مخالفينو په ګډه پر مدينې بريد وکړ؛ منافقين هم جري شوي وو او دښمنانو ته ئې پټ پيغامونه لېږل؛ او چي کله به د دوی پر تحرکاتو او مشکوکو ټماسونو نيوکه کېدله؛ دوی به قسمونو ته پناه وړله او ويل به ئې: که رسول الله صلی الله عليه و سلم ورته امر وکړي نو حتماً به د جهاد لپاره ووځي؛ له دې معلومېږي چي د النور سوره د احزاب تر سورې وړاندي نازله شوې.

- کوم روايت چي وايي د الاحزاب سوره تر النور وړاندي نازله شوې په هغه کې داسي خبري تر سترګو کېږي چي د روايت اعتبار ته کلکه صدمه رسوي، لکه دا چي وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم له هغه ځا په جومات کې او د مسلمانانو په وړاندي شکايت وکړ چي دا افتراء ئې جوړه کړې وه، په ځواب کې ئې سعد بن معاذ رضی الله عنه وويل: يا رسول الله! که دا د اوس له قبيلې وي نو موږ به ئې سر غوڅ کړو او که د خزرج د قبيلې وي نو هغه څه به ورسره کوو چي ته ئې امر وکړې. دا په داسي حال کې چي سعد بن معاذ رضی

الله عنه د الاحزاب په غزوې کې ټپي شوی وو او د همدې ټپ له کبله لږ وروسته وفات شو!! که سعد بن معاذ رضی الله عنه دا خبره کړې وي نو معنی ئې دا ده چي دا غزوه تر الاحزاب او د سعد بن معاذ رضی الله عنه تر وفات وړاندي وه. معنی ئې دا چي عائشې رضي الله عنها ته منسوب شوې دا ادعاء ناسمه ده چي وايي: هغې له يوه نامحرم شخص خپل مخ ځکه پټ کړ د أحزاب په سوره د حجاب حکم راغلی وو.

دا روايت او ژباړه ئې د رسالې په پای کې راوړم؛ يوازي د هغو لپاره چي غواړي له ژباړي سره ئې تر نظر تېر کړي.

ځيني په دې روايت استناد کوي او وايي: په کور کې د مېرمنو لمونځ تر مسجد غوره او افضل دئ:

٥٧٠ - حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، أَنَّ عَمْرَو بْنَ عَاصِمٍ، حَدَّثَهُمْ قَالَ: حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ مُوَرِّقٍ، عَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «صَلَاةُ الْمَرْأَةِ فِي بَيْتِهَا أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهَا فِي حُجْرَتِهَا، وَصَلَاتُهَا فِي مَخْدَعِهَا أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهَا فِي بَيْتِهَا» سنن ابی داؤد

له عبد الله بن مسعود روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: د مېرمني لمونځ په خپلي خوني کې تر حجرې ئې غوره دئ، او لمونځ ئې د خوني منځ وړې کوټې کې تر خوني ئې غوره دئ.

د دې روايت په اړه څو خبري په پام کې ولرئ:

- ابن خزيمه د دې روايت په اړه وايي:

١٧٥) بَابُ اخْتِيَارِ صَلَاةِ الْمَرْأَةِ فِي بَيْتِهَا عَلَى صَلَاتِهَا فِي الْمَسْجِدِ، إِنْ ثَبَتَ الْخَبَرُ، فَإِنِّي لَا أَعْرِفُ .... وَلَا هَلْ سَمِعَ قَتَادَةُ خَبَرَهُ مِنْ مُوَرِّقٍ، عَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ أَمْ لَا. بَلْ كَأَنِّي لَا أَشُكُّ أَنَّ قَتَادَةَ لَمْ يَسْمَعْ مِنْ أَبِي الْأَحْوَصِ، لِأَنَّهُ

أَدْخَلَ فِي بَعْضِ أَخْبَارِ أَبِي الْأَحْوَصِ بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَبِي الْأَحْوَصِ مُوَرِّقًا، وَهَذَا الْخَبَرُ نَفْسُهُ أَدْخَلَ هَمَّامٌ وَسَعِيدُ بْنُ بَشِيرٍ بَيْنَهُمَا مُوَرِّقًا صحيح ابن خزيمه

يعني ابن خزيمه د دې روايت د إسنادو په اړه جدي ملاحظات لري؛ وايي: كه احياناً دا روايت او خبر ئې ثابت وي؛ ... ... نو زه له دې واقف نه يم چي آيا قَتَادَةُ دا خبر له مُوَرِّقٍ اورېدلی که نه؛ بلکي داسي چي په دې کې شك نه لرم چي قَتَادَةَ له أَبِي الْأَحْوَصِ څه نه دي اورېدلي؛ دا ځکه چي ده د أَبِي الْأَحْوَص په ځينو رواياتو کې د ده او أَبِي الْأَحْوَصِ تر منځ مُوَرِّقً داخل کړی؛ يعني چي کله ئې ويلي روايت ئې مخامخ له أَبِي الْأَحْوَص اورېدلی او کله دا چي د مورق له لاري ئې له ابي الأحوص اورېدلي.

- أبو داؤد د دې روايت خلاف دا روايت هم راوړی:

٢٠٠٦ - حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ قَالَ: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا تَمْنَعُوا النِّسَاءَ الْمَسَاجِدَ بِاللَّيْلِ» فَقَالَ ابْنُهُ: بَلَى، وَاللَّهِ لَنَمْنَعُهُنَّ، يَتَّخِذْنَهُ دَغَلًا، فَرَفَعَ يَدَهُ فَلَطَمَهُ، فَقَالَ: أُحَدِّثُكَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَقُولُ هَذَا مسند ابى داؤد و معجم الكبير للطبرانى رقم (١٣٤٧٢)

له ابن عمر روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: مېرمني د شپې له لوري جوماتونو ته له تګ مه منع کوئ؛ زوی ئې وويل: نه؛ و الله چي حتماً به ئې منع کوو؛ غواړي له دې تګ د دوکې په توګه استفاده وکړي؛ نو لاس ئې پرې پورته کړ او څپېړه ئې ورکړه او وئې ويل: زه د رسول الله صلى الله عليه و سلم حديث درته وايم او ته دا خبره کوې!!

يعني عبد الله بن عمر خپل زوی د دې خبري له کبله رټلی او په څپېړې ئې وهلی چي جومات ته د مېرمنو له تګ سره ئې مخالفت کړی او ويلي ئې وو:

کېدی شي مېرمني له دې تگ د غلطو موخو لپاره استفاده وکړي.

همدا راز ابن عمر د خپل پلار له قول وايي:

١٥١ - حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ الْوَاسِطِيُّ قَالَ: نا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ قَالَ: نا إِسْمَاعِيلُ بْنُ مُسْلِمٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنْ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا تَمْنَعُوا النِّسَاءَ الْمَسَاجِدَ» مسند البزار

ابن عمر له خپل پلار عمر رضي الله عنهما روايت کوي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: مېرمني جوماتونو ته له تگ مه منع کوئ.

١٥٤ - حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى بْنُ حَمَّادٍ النَّرْسِيُّ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ عُمَرُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَمْنَعُوا إِمَاءَ اللَّهِ مَسَاجِدَ اللَّهِ» مسند أبى يعلى

له ابن عمر روايت دئ چي عمر رضي الله عنه ويلي: رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: د الله بندگاني مېرمني د الله له جوماتونو مه منع کوئ.

له دې رواياتو معلومېږي چي د عمر رضي الله عنه په اړه دا وينا سمه نه ده چي جومات ته د ښځو له تگ سره يا مخالف وو او يا ئې ممانعت کړی.

- عبد الله بن مسعود ته منسوب روايت د صحابه وو له عملي منهج سره مغايرت لري؛ ځکه تل او د رسول الله صلی الله عليه و سلم تر رحلت پوري مېرمني د پنځه لمونځونو لپاره؛ شپه او ورځ جومات ته تللې. که رسول الله صلی الله عليه و سلم دوی ته ويلي وی چي لمونځ ئې په کور کې تر جومات افضل دئ؛ نو يوه به هم جومات ته د لمانځه لپاره نه وه تللې.

ځيني په دې روايت هم په ناسمه توگه استناد کوي:

**عَنِ عَائِشَةَ قَالَتْ لَقَدْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم يُصَلِّي الْفَجْرَ، فَيَشْهَدُ مَعَهُ نِسَاءٌ مِنَ الْمُؤْمِنَاتِ مُتَلَفِّعَاتٍ فِي مُرُوطِهِنَّ ثُمَّ يَرْجِعْنَ إِلَى بُيُوتِهِنَّ مَا يَعْرِفُهُنَّ أَحَدٌ.** (بخاري:٣٧٢)

له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم به چي د سهار لمونځ کاوو یو شمېر مسلماني مېرمني به هم په داسي حال کي چي ځانونه به يې پخپلو ټيکريو کي نغښتي وو؛ لمانځه ته راتللې؛ له لمانځه وروسته به بېرته خپلو کورونو ته تللې او هيچا به نه پېژندلې چي څوک دي.

دا روايت هم په بخاري کي درې ځلي نور په دغو شمېرو ٥٧٨، ٨٦٧، ٨٧٢ او له دغو توپيرونو سره راغلی: په یوه کي مُتَلَفِّعَاتٍ فِي مُرُوطِهِنَّ، په بل کي مُتَلَفِّعَاتٍ بِمُرُوطِهِنَّ، په یوه کي ثُمَّ يَرْجِعْنَ إِلَى بُيُوتِهِنَّ مَا يَعْرِفُهُنَّ أَحَدٌ، په بل کي يُصَلِّي الصُّبْحَ بِغَلَسٍ فَيَنْصَرِفْنَ نِسَاءُ الْمُؤْمِنِينَ، لاَ يُعْرَفْنَ مِنَ الْغَلَسِ، أَوْ لاَ يَعْرِفُ بَعْضُهُنَّ بَعْضًا او په بل کي فَيَنْصَرِفُ النِّسَاءُ مُتَلَفِّعَاتٍ بِمُرُوطِهِنَّ، مَا يُعْرَفْنَ مِنَ الْغَلَسِ او په بل کي مَا يَعْرِفُهُنَّ أَحَدٌ، له دې توپيرونو سره سره د رواياتو مطلب يو دئ او هغه دا چي مسلماني مېرمني به جومات ته تللې، د سحر په لمانځه کي به يې هم برخه اخيسته، رسول الله صلی الله علیه و سلم به د سحر لمونځ په داسي وخت کي کاوو چي تر لمانځه وروسته به هم لا دومره تياره وه چي مېرمني به نه پېژندل کېدې.

له دې روايت دوه تعبيرونه شوي: يو دا چي مېرمني به په ټيکريو کي داسي پټې وې چي چا به نه پېژندلې او بل دا چي دومره تياره به وه چي دوی به نه پېژندل کېدې. لومړی تعبير په دې دليل کمزوری او ناسم دئ چي خبره د سحر د تيارې (غلس) ده؛ نه په جامه کي د پټېدو څرنګوالی؛ له روايت؛ دا مطلب نشي اخيستل کېدی چي د ښځو مخونه به پټ وو؛ بلکي په خلاف د دې ښيي چي د دوی مخونه به لوڅ وو خو د تيارې له کبله نه پېژندل کېدې.

لومړی ادعاء به په هغه صورت کې صحیح ګڼل کېده چې د (غلس: تیاره) یادونه نه وی شوې یا د سحر له لمانځه پرته د ټولو لمونځونو یا د ورځي د کوم لمانځه یادونه شوې وی.

پر دې ټولو خبرو سربېره؛ په جماعت سره د مېرمنو د لمانځه په ارتباط؛ په قرآن کې څرګند آیتونه موږ؛ لکه چې د مریمې علیها السلام په اړه راغلي:

يَا مَرْيَمُ اقْنُتِي لِرَبِّكِ وَاسْجُدِي وَارْكَعِي مَعَ الرَّاكِعِينَ ﴿٤٣﴾ آل عمران: ٤٣

اې مریمې! خپل رب ته تسلیم اوسه، سجده کوه او له رکوع کوونکو (لمونځ کوونکو) سره یو ځای رکوع (لمونځ) کوه.

او قرآن وایي: د مؤمنو مېرمنو لپاره؛ د فرعون مېرمن او مریم علیهما السلام غوره اسوه او بېلګي دي چې باید د هغوی متابعت وکړي:

وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا لِلَّذِينَ آمَنُوا امْرَأَتَ فِرْعَوْنَ إِذْ قَالَتْ رَبِّ ابْنِ لِي عِنْدَكَ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ وَنَجِّنِي مِنْ فِرْعَوْنَ وَعَمَلِهِ وَنَجِّنِي مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿١١﴾ وَمَرْيَمَ ابْنَتَ عِمْرَانَ الَّتِي أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيهِ مِنْ رُوحِنَا وَصَدَّقَتْ بِكَلِمَاتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهِ وَكَانَتْ مِنَ الْقَانِتِينَ ﴿١٢﴾ التحریم : ١١-١٢

او الله د مؤمنانو لپاره د فرعون د مېرمني مثال بیان کړی چې وئې ویل: اې زما ربه! ما ته په خپلې خوا کې په جنت کې یو استوګنځی جوړ کړه او له فرعون او د ده له عمل مي وژغوره او له دغه ظالم قوم مي وژغوره. او د عمران لور مریمې (مثال) چې د خپل عورت ساتنه ئې وکړه، نو موږ له خپلې روح یوه روح په کې پو کړه، د خپل رب ویناوې او د هغه کتابونه ئې رښتیني وګڼل، او د غاړه ایښودونکو له ډلې وه.

همدا راز قرآن ټولو مؤمنانو (سړیو او مېرمنو) ته د جماعت په اړه داسې لارښوونه کړې:

وَأَقِيمُوا الصَّلاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ﴿٤٣﴾ البقرة ٤٣

او لمونځ قائم کړئ، زکات ورکړئ او له رکوع کوونکو سره یو ځای رکوع وکړئ.

دلته خطاب عام دئ؛ نارینه او ښځینه دواړه احتوی کوي؛ دواړو ته ویل شوي: له لمونځ کوونکو سره یو ځای په جماعت لمونځ وکړئ؛ تفاوت یوازې دومره دئ چي جومات ته تګ او په جمع لمونځ پر نارینه وو لازم او مېرمنو ته مستحب دئ؛ همغسي لکه چي جهاد پر نارینه وو فرض دئ؛ خو پر مېرمنو فرض نه دئ؛ مګر د نفیر عام وخت کي؛ خو که وغواړي کولی شي په غزواتو کي شرکت وکړي.

که څه هم دا آیت د بني اسرائیلو په ارتباط راغلی؛ خو معنی ئې دا ده چي مونږ ته وښیي: مخکني امتونه هم جومات ته په تګ ګمارل شوي وو.

د اختر لمونځونو کي د شرکت په اړه مېرمنو ته د رسول الله صلی الله علیه و سلم دا سپارښتنه هم په پام کي ولرئ:

عن أُمّ عَطِيَّةَ أنها سَمِعتِ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَقُولُ " يَخْرُجُ الْعَوَاتِقُ وَذَوَاتُ الْخُدُورِ، أَوِ الْعَوَاتِقُ ذَوَاتُ الْخُدُورِ وَالْحُيَّضُ، وَلْيَشْهَدْنَ الْخَيْرَ وَدَعْوَةَ الْمُؤْمِنِينَ، وَيَعْتَزِلُ الْحُيَّضُ الْمُصَلَّى". قَالَتْ حَفْصَةُ فَقُلْتُ الْحُيَّضُ فَقَالَتْ أَلَيْسَ تَشْهَدُ عَرَفَةَ وَكَذَا وَكَذَا. (بخاري:٣٢٤)

له ام عطیه رضي الله عنها روایت دئ چي وایي: له رسول الله صلی الله علیه و سلم مي اورېدلي چي وئې فرمایل: "نوې رسېدلې ښځي او ستري یا په پرده کي ناستي ښځي او حائضې ښځي دي وځي او د خیر په کارونو (د عید لمونځ) او د مسلمانانو په دعاء کي دي ګډون کوي، خو حائضې ښځي دي له مصلی ګوښه ودرېږي"؛ حفصه وایي: ومي ویل: آیا حائضې ښځي هم؟ دې وویل: آیا حائضې ښځي عرفات او...او... ته نه حاضرېږي؟!

دا روايت له بخاري علاوه په دغو مهمو كتابونو كې راغلی: صحيح ابن خزيمه، سنن إبن ماجه، سنن أبي داؤد، مسند احمد، مسند إسحاق بن راهويه، معجم الكبير للطبراني، السنن الكبری للبيهقي، مسند أبي حنيفه، السنن الكبری للنسائي؛ او ډېرو نورو كتابونو كې؛ په بخاري كې شپږ ځلي نور په دغو شمېرو ٣٥١، ٩٧١، ٩٧٤، ٩٨٠، ٩٨١، ١٦٥٢او له دغو توپيرونو سره راغلی: په يوه كې يَخْرُجُ الْعَوَاتِقُ وَذَوَاتُ الْخُدُورِ (وينځي؛ خدور جمع خِدْر: هغه ځای چې وينځې په كې اوسېدې، أَوِ الْعَوَاتِقُ ذَوَاتُ الْخُدُورِ وَالْحُيَّضُ، وَلْيَشْهَدْنَ الْخَيْرَ وَدَعْوَةَ الْمُؤْمِنِينَ، په بل كې أُمِرْنَا أَنْ نُخْرِجَ الْحُيَّضَ يَوْمَ الْعِيدَيْنِ وَذَوَاتِ الْخُدُورِ، فَيَشْهَدْنَ جَمَاعَةَ الْمُسْلِمِينَ وَدَعْوَتَهُمْ او په بل كې كُنَّا نُؤْمَرُ أَنْ نَخْرُجَ يَوْمَ الْعِيدِ، حَتَّى نُخْرِجَ الْبِكْرَ مِنْ خِدْرِهَا، حَتَّى نُخْرِجَ الْحُيَّضَ فَيَكُنَّ خَلْفَ النَّاسِ، فَيُكَبِّرْنَ بِتَكْبِيرِهِمْ، وَيَدْعُونَ بِدُعَائِهِمْ يَرْجُونَ بَرَكَةَ ذَلِكَ الْيَوْمِ وَطُهْرَتَهُ، په يوه كې دا هم راغلي قَالَتِ امْرَأَةٌ يَا رَسُولَ اللهِ، إِحْدَانَا لَيْسَ لَهَا جِلْبَابٌ. قَالَ لِتُلْبِسْهَا صَاحِبَتُهَا مِنْ جِلْبَابِهَا، لكه چې گورئ په دغو روايتونو كې راغلي چې مېرمنو ويلي: موږ ته به امر كېدو چې د عيد د لمانځه لپاره ووځو، پېغلې، زړې او حتی حائضې به هم وتلې، په خپل ټاكلي ځای كې به ودرېدې، په لمانځه كې به ئې برخه اخيستله، حائضې به له مصلی بهر په يوه گوښه كې وې او دا صحنه به ئې ليدله، يوې مېرمنې له رسول الله صلی الله عليه و سلم پوښتنه كړې وه چې كه څوك جلباب ونه لري او د همدې لپاره د عيد لمانځه ته ونه وځي څه گناه پرې شته؟ ورته وئې فرمايل: خپلې خورلڼې دې جلباب ورواغوندي.

جومات ته د مېرمنو په تگ او د عيد لمانځه په څېر لويو غونډو كې د دوی شركت كې ډېر لوی حكمت او مصلحت مضمر دئ، د همدې لپاره رسول الله صلی الله عليه و سلم هغوی ته امر او تأكيد كولو چې حتماً په دغو غونډو كې برخه واخلي؛ حتی كه په حيض كې وي؛ له داسې غونډو انسان ډېر زيات متأثره كېږي. ډېره عجيبه ده چې د داسې څرگندو نصوصو په شتون كې ځينې

---

خلك جومات ته د ښځو تلل ناروا ګڼي!! حفصه بنت سيرين وايي زما د خور مېره له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره په دولسو غزواتو کې برخه اخيستې وه چې په شپږو کې ئې زما خور هم ورسره وه، هغوی به مريضان او زخميان تداوي کول.

## په جهاد کې د مېرمنو شرکت

له پورتني روايت او ګڼ شمېر نورو رواياتو دا خبره هم معلومېږي چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم او صحابه وو مېرمنو په جهاد کې شرکت کولو؛ ځينو ئې د زخميانو درملنه کوله؛ ځينو اوبه راوړلې او ځينو ئې توري وهلې؛

٢٥٣١ - حَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلَامِ بْنُ مُطَهِّرٍ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْزُو بِأُمِّ سُلَيْمٍ، وَنِسْوَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ لِيَسْقِينَ الْمَاءَ، وَيُدَاوِينَ الْجَرْحَى» سنن ابى داؤد

له انس بن مالك روايت دئ چې وئې ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم داسي وو چې کله به غزواتو ته تللو؛ نو ام سليم او ورسره د انصارو ځيني مېرمني به ئې له ځان سره بېولې؛ د دې لپاره چې خلك خړوب او زخميان تداوي کړي.

أخرجه مسلم (١٨١٠)، وأبو داود (٢٥٣١)، والترمذي (١٥٧٥) واللفظ له، والنسائي في ((السنن الكبرى)) (٧٥٥٧)

د احد په جګړي کې د نسيبه په نامه يوې مېرمني؛ چې د ام عماره په نامه يادېده؛ د زخميانو په درملنه لګيا وه؛ کله چې ئې وليدل؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم يوازي پاته شوی او د قريشو تر بريدونو لاندي دئ؛ توره ئې واخيستله او تر پايه ئې له رسول الله صلى الله عليه و سلم دومره دفاع وکړه

چي څو ځایه ټپي شوه؛ ویل شوي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم په همدې اړه فرمايلي: ما چي به کوم لوري ته هم مخ واړولو نو ام عماره به مي ليدله چي له ما ئې دفاع کوله!! همدې ام عماره په ځينو نورو جنګونو کې هم شرکت کړی؛ په يوې جګړې کې ئې لاس هم قطع شوی؛ آيا په پټ مخ داسي کارونه کېدی شي؟!

## احناف د مېرمنو د جامې او ستر په اړه څه وايي؟

راشئ وګورو چي د افغان ولس د غوڅ اکثريت منلی مذهب؛ حنفي مذهب او درونددامام أبو حنيفه رحمه الله، معروف فقهاء او علماء ئې د مېرمنو د جامې او ستر په اړه څه وايي؟ په خلاصه توګه ويلی شو چي د حنفي مذهب؛ تر اتيا سلنه زيات فقهاء او علماء په دې رأی دي چي د مېرمنو مخ، لاسونه، اړوند ګاټې ئې؛ د رانجو او نکريزو په شمول، او د پښو تلي ئې؛ په ستر او عورت کې شامل نه دي؛ له پاتي برخي ئې ډېری هغه دي چي وايي: که څه هم دا غړي په ستر کې شامل نه دي؛ خو که وضعيت داسي وي چي څرګندول ئې د فتنې سبب کېږي؛ پټول ئې افضل دي؛ خو نه د فرض او واجب په توګه بلکي په استحبابي توګه. يو وړوکی ټولګی ئې شاذ نظر لري او د فتنې د احتمال په صورت کې او حتی په هر حالت کې ئې څرګندول تحريموي!!

د حنفي مذهب د علماءو د رأی خلاصه داسي ده:

- په دې اړه د محققينو اجماع ده چي د مېرمنو مخ عورت نه دئ.
- پر دې ئې هم اجماع ده چي پټول ئې واجب نه دي.
- په دې کې ئې اختلاف دئ چي پټول ئې مندوب دئ (د ثواب وړ کار دئ او نه پټول ئې ګناه نه ده) او که مستحب دي؟
- په دې هم متفق دي چي کتل ورته جائز دي؛ مشروط په دې چي د شهوت له مخي نه وي. خو که د نکاح په موخه وي دا هم جائز ګڼي.

- ځينو متأخرينو ئې ويلي: د مخ پټول د فتنې له وېرې واجب دي.
- د متأخرينو؛ د ګوتو په شمېر وړوکې ټولګي ئې د مخ لوڅول تحريم کړي.

د احنافو هغه معروف او درانه علماء او فقهاء چې د مېرمنو مخ او لاسونه په ستر کې شامل نه بولي؛ دلته ئې د څلوېښتو شخصيتونو نومونه او د اړوند کتاب جلد او صفحه ستاسو مخې ته ږدو:

۱-امام أبو حنيفة (د وفات کال ۱۵۰هـ)

۲- قاضي أبو يوسف (د وفات کال ۱۸۲هـ)

۳- محمد بن الحسن الشيباني (د وفات کال ۱۸۹هـ) د المبسوط کتاب ج۳ ص٥٦ کې او په کتاب الأصل ( ج۲/ ص۲۳٥-۲۳٦) کې ليکي: أما المرأة الحرة ... لا بأس أن ينظر إلى وجهها وإلى كفها وهذا قول أبي حنيفة: خو پروا ئې نشته چې د آزادي مېرمني مخ او لاسونو ته وګوري؛ او همدا د ابوحنيفه قول دئ.

٤- الطحاوي (د وفات کال ۳۲۱هـ) په شرح معاني الآثار ج۱ ص٤٧٥ او مختصر الفقهي ج۲ ص٥٥٩ کې او ليکي وهذا كله قول أبي حنيفة و أبي يوسف و محمد رحمة الله عليهم أجمعين): او دا د امام ابوحنيفه، امام أبو يوسف او امام محمد رحمة الله عليهم قول دئ.

٥- أبو منصور الماتريدي (د وفات کال ۳۳۳هـ) په خپل تفسير ج۷ ص٥٤٥ کې

٦-القدوري الحنفي (د وفات کال ٤۲۸هـ) په خپل مختصر ص۲٤۱ کې

۷-السغدي الحنفي (د وفات کال ٤٦۱هـ) په النتف في الفتاوى ج۱ ص۲۸۰ کې

۸-السرخسي (د وفات کال ٤۸۳هـ) په المبسوط ج۱۰ ص۱٥۲ کې

۹-أبو المظفر السمعاني (د وفات کال ٤۸۹هـ) په خپل تفسير ج۳ ص٥۲۱ کې

۱۰- زمخشري (د وفات کال ٥۳۸هـ) په خپل تفسير الكشاف ج۳ ص۲۲۹-

٢٣١ کې

١١-علاء الدين سمرقندي (د وفات کال ٥٤٠هـ) په تحفة الفقهاء ج٣ ص٣٣٤ کې

١٢-ظهير الدين بن أبي حنيفة (د وفات کال ٥٤٠هـ) په الفتاوى الولوالجية ج٢ ص٣٢٢ کې

١٣-الكرابيسي (د وفات کال ٥٧٠هـ) په الفروق ج١ ص٣٤٧ کې

١٤-الكاساني (د وفات کال ٥٨٧هـ) په بدائع الصنائع ج٥ ص١٢١-١٢٣ کې

١٥-الأوزجندي الفرغاني الحنفي (د وفات کال ٥٩٢هـ) په فتاوى قاضي خان ج٢ ص٣٩١ کې

١٦-المرغيناني (د وفات کال ٥٩٣هـ) په بداية المبتدي ج١ ص٢٢٢ او د الهداية په شرح بداية المبتدي ج٤ س٣٦٨ کې

١٧-أبو المعالي بن مازة البخاري الحنفي (د وفات کال ٦١٦هـ) په المحيط البرهاني ج٥ ص٣٣٤-٣٣٥ کې

١٨-يوسف السجستاني (د وفات کال ٦٣٨هـ) په منية المفتي کې د ابن نجم المصري له كتاب شرح الأشباه والنظائر ج٣ ص٤١٧ رانقلوي او وايي: په دې کې د ټولو اجماع ده چې مريی کولی شي خپلې مولا او مالکې ته وګوري؛ او هغې ته کتل داسي دي لکه د پردي کتل د هغې مخ او لاسونو ته.

١٩-ابن عبدالقادر الرازي الحنفي (د وفات کال ٦٦٦هـ) په تحفة الملوك ج١ ص٢٣٠ کې.

٢٠-ابن مودود الموصلي الحنفي (د وفات کال ٦٨٣هـ) په متن المختار للفتوى او الاختيار لتعليل المختار ج٤ ص١٥٦ کې.

٢١-علي بن زكريا المنبجي الحنفي (د وفات کال ٦٨٦) په اللباب في الجمع بين السنة والكتاب ج٢ ص٦٤٩ کې

---

٢٢-النسفي الحنفي (د وفات كال ٧١٠هـ) په كنز الدقائق ج١ ص٦٠٩ كي

٢٣-الزيلعي الحنفي (د وفات كال ٧٤٣هـ) په تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق للنسفي ج٦ ص١٧ كي

٢٤-البابرتي (د وفات كال ٧٨٦هـ) په العناية شرح الهداية للمرغيناني ج١ ص٢٥٩ كي.

٢٥-عبيدالله المحبوبي الحنفي (د وفات كال ٧٤٧هـ) په النقاية ج٥ ص٩٨ كي.

٢٦-الأندربتي الدهلوي (د وفات كال ٧٨٦هـ) په الفتاوى التتارخانية ج١٨ ص٩٥ كي.

٢٧-العبادي الحدادي الحنفي (د وفات كال ٨٠٠هـ) په الجوهرة النيرة شرح مختصر القدوري ج٢ ص٢٨٣ كي.

٢٨-بدر الدين العيني (د وفات كال ٨٥٥هـ) په البناية شرح الهداية للمرغيناني ج١٢ ص١٢٨ كي.

٢٩-العلامة ملا خسرو (د وفات كال ٨٨٥هـ) په درر الحكام شرح غرر الأحكام ج١ ص٥٩ كي.

٣٠-إبراهيم الحلبي (د وفات كال ٩٥٦هـ) په متن ملتقى الأبحر ج١ ص١٢٢ كي او په متن ملتقى الأبحر في الحج ج١ ص٤٢١ كي.

٣١-أبو السعود (د وفات كال ٩٨٢هـ) په خپل تفسير ج٦ ص١٧٠ كي.

٣٢-ملا علي قاري (د وفات كال ١٠١٤هـ) په فتح باب العناية بشرح النقاية ج١ ص٢١٧ كي.

٣٣- ابن الشلبي الحنفي (ت١٠٢١هـ) د تبيين الحقائق للزيلعي شرح كنز الدقائق للنسفي ج٦ ص١٧ په حاشيه كي.

٣٤-الشرنبلالي الحنفي (د وفات كال ١٠٦٩هـ) د درر الحكام لملا خسرو ج١ ص٣١٤؛ په حاشيه كي او د نور الإيضاح متن ص٥٣ كي، او په مراقي الفلاح شرح

نور الإيضاح باب الحج ج۱ ص۲۸۰ کې.

۳۵-الشهاب الخفاجي (د وفات کال ۱۰٦۹هـ) د بيضاوي تفسير ج٦ ص۳۷۲ په حاشيه کې ليکي: "د أبو حنيفة په مذهب کې مخ، دواړه رغوي او دواړه پښې مطلقاً عورت نه دي.

۳٦-الفتاوى الهندية (چې جمع کول ئې نږدې ۱۱۰۰هـ کال کې وو) په اول جلد ۲۳۵ صفحه کې.

۳۷-أحمد ملا جيون اللكنوي (د وفات کال ۱۱۳۰هـ) په التفسيرات الأحمدية ص۸۸ کې.

۳۸-الطوري (د وفات کال ۱۱۳۸هـ) د بحر الرائق لابن نجيم المصري شرح كنز الدقائق للنسفي؛ تکمله ج۸ ص۲۱۸ کې.

۳۹-الآلوسي (د وفات کال ۱۲۷۰هـ) په تفسير روح المعاني ج۹ ص۳۳۵-۳٤۱ کې.

٤۰-التهانوي (د وفات کال ۱۳۹٤هـ) په إعلاء السنن ج۲ ص۱٦٤ کې ليکي: (د يادو احاديثو له مخې ثابته ده چې د آزادې مېرمنې؛ ټول بدن په استثناء د مخ او دواړو رغوو؛ په دې دليل عورت دي چې وينځې ترې مستثنی شوې او همدا د احنافو مذهب دئ.

متأسفانه ځيني داسې دي چې د خپلې شخصي سليقې او مزاج خلاف؛ هيڅ رأی او دليل؛ نه مني که څه هم دا د قرآن صريح او څرګند آيت او د رسول الله صلى الله عليه و سلم صحيح حديث، د صحابه وو، ائمه وو، فقهاءو او معتبرو درنو علماءو رأی او فتوی وي؛ په هر صورت کې د خپل هوس او سليقې متابعت کوي؛ خو لټه کوي داسې رأی او فتوی د کوم کتاب په متن او حاشيه کې پيدا کړي چې خپل تبر ته لاستی ترې جوړ کړي؛ که څه هم نه دا کتاب د اعتبار وړ وي او نه ئې ليکونکی؛ هم ئې رأی شاذ او مرجوح او هم ئې مفتي د افتاء له اهليت بې برخې؛ د سلفيت او حنفيت ادعاء به کوي خو په

عمل کې به نه یوازې حنفي او سلفي نه وي بلکې هر څه به ئې د خپلې ادعاء خلاف وي!!

## دوه ضمني يادوني

لومړی: کله هم چې ما د عائشې رضي الله عنها د برائت مربوط آیتونه لوستلي، له بل مې اوربېدلي او یا د عائشې رضی الله عنها په اړه د څه ویلو په دوران کې دا آیتونه راپه یاد شوي؛ نو بې اختیاره مې اوښکې بهېدلې، نه یوازې د دې لپاره چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په داسې پاك لمنې مېرمنې تور لګول شوی چې په انساني تاریخ کې د هغې سیال او مثال لږ تر سترګو کېږي، له مریم علیها السلام، آسیه رضی الله عنها او خدیجه رضی الله عنها وروسته د نړۍ هیڅ مېرمن د هغې لوړ معنوي، اخلاقي او علمي مقام ته نشي رسېدی، بلکې د دې لپاره چې د ستر عرش مالك رب د یوه نېك او مخلص بنده له حیثیت او عزت په داسې الفاظو دفاع کړې، د دې پر پت او عزت ئې لفظي تېری دومره جدي نیولی او نه یوازې تور لګوونکي ئې د ستر عذاب مستحق ګڼلي بلکې مؤمنان ئې هم سخت تنبیه کړي چې د دې تور په وړاندې ئې ولې مناسب غبرګون نه دئ ښودلی. دا دفاع ئې د خپل عظیم او تلپاته کتاب قرآن برخه ګرځولې چې تر قیامته پورې ئې خلك لولي او ګوري چې الله تعالی په څومره زړه راښکونکو الفاظو له هغې دفاع کړې!! د عائشې رضی الله عنها لوړ شخصیت نه یوازې په دغو آیتونو کې له ورایه ځلېږي بلکې هر هغه څوك د دې پر لوړ شخصیت او اوچت علمي مقام پوهېدی شي چې د روایاتو کتابونه پرانېزي او وګوري چې نږدې په هرې پاڼې کې ئې دې ته منسوب روایات تر سترګو کېږي، یقیناً چې هغه له رسول الله صلی الله علیه و سلم وروسته نه یوازې د مسلمانو مېرمنو لپاره د دین په رموزو پوه لارښوده او معلمه وه بلکې د نارینه وو لپاره ئې هم د یوه هوښیار او حساس استاد حیثیت درلود، دا عادي او تصادفي خبره مه ګڼئ چې ولې منافقینو د خپلو تبلیغاتو لپاره عائشه

رضی الله عنها په نښه کړې؛ دا په خپله د دې مقام او منزلت او د دعوت په چارو کې د دې ونډه او اغېز په ګوته کوي.

دوهم: نامناسبه ئې مه ګڼئ چې دلته د النور سورې په ارتباط د یوې جالبي رؤیا یادونه وکړم: د ۱۳۹۰ کال د حمل په یوویشتمه د دې مبارکې سورې تفسیر بشپړ شو؛ ما معمولاً د هرې سورې د معرفي په اړه هغه مهال څه لیکل چې د سورې تفسیر مي بشپړ کړی وو؛ او په مطالبو ئې ښه پوه شوی وم؛ په دې ورځ ډېر خوښ وم چې د الله تعالی په فضل سره د دې سورې تفسیر بشپړ شو، دومره لکه چې الله تعالی د یوه ستر کار تر سره کولو سعادت راپه برخه کړی وي، د دې سورې د تفسیر تر پیلولو وړاندې ډېر وارخطا او هیبت وهلی وم، د سورې د ځینو برخو دقیق تفسیر راته ګران برېښېدو، د مفسرینو تر منځ هغو ژورو اختلافاتو هم وېرولی وم چې په تفاسیرو کې مي په دې اړه تر سترګو کېدل، د متعارضو آراءو او روایاتو له منځه د ارجح غوره کول هم راته آسان کار نه برېښېدو، خو کله چې د دې سورې له تفسیر فارغ شوم؛ داسي احساس مي کولو لکه چې د زړه سلول سلول مي د ایمان په رڼا روښانه او تږوله سینه مي له علم ډکه شوې وي. ماخستن شو، لمونځ مي وکړ او ویده شوم، د شپې مي خوب لیدو چې د مېوو په یوه باغ کې یم، د یوې جګې ونې سر ته په الوتو سره لوړ ولاړ شم، پرته له دې چې پر تنې ئې وخېژم، د ونې په سر کې کله یوې او کله بلې څانګې ته لاس کړم، په یوه لاس څانګه ونیسم او په بل لاس مېوه راشکوم او خورم ئې، خو داسي لکه په هوا کې چې ولاړ وم او لاس مي هسې د ونې په نرۍ څانګې پورې تم کړی وي، د ونې په سر کې یوه داسي وړه څانګه راوشکوم چې له توتانو ډکه وي، خو د انګور د وږي په څېر لویه او ډکه وي، خولې ته ئې رانږدې کړم، څو ډکې ډکې خولې ترې وخورم او ډېر خوند ترې واخلم، خو له لاسه مي لاندې پرېوځي او پر زمکه ئې د لګېدو غږ هم واورم، له ځان سره ووایم چې ښه ده بل څوك به ئې وخوري، بیا د ونې

د سر ځانګي چي له توتانو ډکي وې په زور سره وخوځوم چي توت ئې وڅنډم او خلك ئې وخوري، له همغه ځای لاندي وګورم، د پخو خښتو څو لوړ لوړ دېوالونه مي تر سترګو شي خو دا ونه دومره لوړه وي چي دا دېوالونه ډېر واړه واړه په نظر راشي، هيبت راباندي راشي او له ځان سره ووايم: د راختو په څېر د هوا له لاري په الوتو کوز شم که د وني پر تنې، په همدې حالت کي له خوبه راويښ شوم؛ همغه وخت مي د خوب د تعبير په اړه فکر وکړ او دې نتيجې ته ورسيدم: په قرآن کي پاکيزه وينا او کلمه له هغي جګي وني سره تشبيه شوې چي جرړي ئې په زمکي کي ژوري تللې وي او ځانګي ئې د آسمان په غېږ کي لوړي شوې وي او په هر موسم کي خپله مېوه ورکوي، د قرآن هر جزء د سورې په نامه ياد شوی او دېوال ته هم سور ويل شوي، د دواړو بنسټ يو دئ، د قرآن د لېږلو لپاره د نزول اصطلاح کارول شوې چي له بره لاندي لېږل افاده کوي، د دغي سورې د تفسير له پيلولو وړاندي زه هيبت وهلی غوندي وم او ګمان مي کولو چي د ځينو آيتونو د تفسير په اړه به له داسي ستونزو سره مخامخ شم چي ترې وتل به راته ګران وي، همغسي لکه په خوب کي چي د راکوزېدو په ارتباط هيبت راباندی راغی، دغو مطالبو ته په پام سره د خوب تعبير دا دئ: د النور د سورې عظمت او لوړ والی د قرآن د ځينو سورتونو په پرتله داسي دئ لکه هغه جګه ونه او هغه جګ جګ دېوالونه چي ما ته د وني له سره ډېر ټيټ او واړه معلومېدل، د دې مبارکې سورې د جګو جګو ځانګو خوندوري مېوې هم زما په برخه شوې او هم مي نورو ته راوڅنډلې.

## نتيجه او تتمه

په داسي حال کي چي د مېرمنو د لباس په اړه د قرآن لارښووني صراحت لري؛ د النور سورې۳۰ آيت دا فقره (قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ)، د ۳۱ آيت دا فقره (وَلا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلا مَا ظَهَرَ مِنْهَا)؛ او دا فقره (وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ)؛ په څرګنده توګه ښيي چي مخ او لاسونه په عوراتو کي

شامل نه دي؛ په همدې اړه د رسول الله صلی الله علیه و سلم احادیث همدا خبره کوي؛ اړوند احادیث ئې داسي دي چي د إسنادو له پلوه ډېر مشهور ګڼل کېږي؛ لومړني راویان ئې پنځه مشهور صحابه لکه ام المؤمنین عائشه، عبد الله بن عباس، عبد الله بن عمر، انس بن مالك، جابر بن عبد الله رضي الله عنهم دي؛ د احادیثو په کتابونو کې ډېر لږ دومره مشهور روایات مومو چي لومړني راویان ئې پنځه مشهور صحابه وي؛ او روایت هم داسي چي په قرآن کې ښرګند شاهد ولري؛ پر دې ټولو علاوه د رسول الله صلی الله علیه و سلم له دور تر نن پوري؛ د مُحْرِمو مېرمنو د احرام لباس داسي وو او دئ چي د مخ، رغوو او پښو پټول په کې نشته؛ او دا په تواتر سره تر ننه؛ له یوه نسل بل ته انتقال شوی دود او سنت دئ؛ آیا عجیبه نه ده چي څوك سره له دې ټولو؛ بله رأی وړاندي کړي او پر خپلي غلطي رأی اصرار او ټینګار وکړي؟!!

هیله ده د هغو په څېر نشو چي قرآن ئې په اړه فرمایي: ځیني داسي دي چي که له آسمان؛ او د الله تعالی له لوري؛ مخامخ دوی ته کوم کتاب هم راشي؛ او هغه د خپلي غلطي رأی او ناسمي سلیقې خلاف ومومي؛ نو نه ئې مني:

وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتَابًا فِي قِرْطَاسٍ فَلَمَسُوهُ بِأَيْدِيهِمْ لَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ هَذَا إِلا سِحْرٌ مُبِينٌ ﴿٧﴾ الأنعام ۷

او که مو په کاغذ کې (لیکلی) کوم داسي کتاب پر تا نازل کړی وی چي لاس ئې پرې راکاږلی، نو دغو کافرانو به ویل: دا خو له ښرګند سحر پرته بل شيء نه دئ!!

یعني څوك چي د حق او حقیقت منلو ته ذهناً او عملاً چمتو نه وي؛ نه یوازي په دلائلو نه قانع کېږي؛ بلکي که له آسمان داسي کتاب هم ورته راشي چي په کاغذ کې لیکلی وي، د دوی د سترګو په وړاندي له آسمان راکوز شي او

دوی ته په لاس کې ورکړی شي؛ نو سره له دې به وايي: دا له سحر او دوکې پرته بل څه نه دئ!!

وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِم بَابًا مِّنَ السَّمَاءِ فَظَلُّوا فِيهِ يَعْرُجُونَ ﴿١٤﴾ لَقَالُوا إِنَّمَا سُكِّرَتْ أَبْصَارُنَا بَلْ نَحْنُ قَوْمٌ مَّسْحُورُونَ ﴿١٥﴾ الحجر: ١٤- ١٥

او که د آسمان کومه داسې دروازه مو ورته پرانیستې وی چې دوی په کې لوړ ختلی؛ نو حتماً به ئې ویلي وو: زموږ سترګې بې سده کړی شوې؛ بلکې موږ هغه وګړي يو چې کوډې پرې شوې.

يعني هغه چې د يوه حقيقت منلو او د خپلې غلطې رأی پرېښودو ته ذهناً چمتو نه وي؛ نه په دلائلو قانع کېږي او نه د معجزو په ليدو سره؛ مخکينيو له پيغمبرانو عليهم السلام معجزې غوښتلې؛ د معجزو غوښتنه ئې هسې پلمه وه، د معجزو په ليدو سره ئې هم ايمان نه دئ راوړی، حتی که د آسمان کومه داسې دروازه ورته پرانيزو چې دوی په وازو سترګو په کې لوړ وخېژي؛ نه يوازې ايمان به رانه وړي بلکې وايي به: زموږ سترګې بې سده شوې، غلط شوي يو، دا به هسې کوم خوب وي نه په ويښه بر تلل؛ بلکې وايي به: پر موږ کوډې شوې.

په تېرو څوارلس نيمو پېړيو کې په مليونونو مېرمنې حج ته تللې؛ داسې چې په احرام کې به ئې مخ، لاسونه او پښې پټې نه وې؛ او همدا د ډېرو فقهاءو او ائمه وو رأی ده؛ د دريو معروفو او منل شوو امامانو؛ امام ابوحنيفه، امام شافعي او امام مالك په شمول؛ او په يوه روايت امام احمد حنبل هم؛ چې پلويانو ئې پرې عمل کړی؛ او اړوند روايات ئې د امام بخاري، امام مسلم، أبو داؤد، نسائي او أحمد رحمهم الله؛ په څېر محدثينو په خپلو کتابونو کې راوړي؛ د اهل تشيع رأی هم دغه ده؛ په ټول امت کې يوازې ځيني سلفيان د نورو خلاف شاذ نظر لري؛ په داسې حال کې چې دوی د بخاري په رواياتو د استناد

دعوی کوي؛ خو دلته د بخاري په یوه نیمګړي روایت استناد کوي!! اما په بخاري کې چې د ستر په اړه کوم مکرر روایات راغلي؛ تر ټولو اصح ئې هغه دئ چې د مېرمنو مخ او لاسونه له عوراتو مستثنی کوي؛ مشهور مفسرین لکه قرطبي او طبري، مخکني او اوسني محققین لکه ابن حزم او علامه الباني؛ دا ټول وايي چې د مېرمنو مخ او د لاسونو رغوي په عوراتو کې شامل نه دي؛ آیا عجیبه نه ده چې څوک دې ټولو ته له اعتناء پرته؛ وايي یا انګيري چې مخ او لاسونه هم په ستر کې شامل دي؟!! او آیا د هغو په اړه هم تر دې ډېر حیرت او تعجب نه دئ په کار چې داسي بې دلیله رأی مني؟!!

که څوك قرآن مني نو قرآن مېرمني د مخ پر پټولو نه دي ګمارلې؛ که څوك رسول الله صلی الله علیه و سلم مني نو هغه نه دي ویلي چې مېرمني به په احرام، لمانځه او له لمانځه بهر خپل مخ او لاسونه پټوي؛ بلکې امر ئې کړی چې په احرام کې به د مېرمنو مخ او لاسونه لوڅ وي؛ همداسي لکه چې نارینه وو ته ئې ویلي چې په احرام کې به ئې سر لوڅ وي. که څوك حنفي مذهب وي نو امام أبو حنیفه ویلي چې د مېرمنو مخ، لاس او پښې په ستر کې شامل نه دي؛ او همدا د احنافو د ټولو مخکنیو فقهاءو او علماءو اجماعي رأی ده.

## په پای کې یو عقلي دلیل

د دې موضوع په اړه؛ د قرآنی لارښووني د مزید تأیید او تشریح لپاره دا عقلي دلیل هم ستاسو مخي ته ږدم:

په ډېریو ژوو؛ حیواناتو او مرغانو کې نارینه تر ښځینه زیات رنګین او ښایسته وي او ښځینه ئې ساده او سنګینه؟ حتماً به په دې کې کوم ستر الهي حکمت وي؛ راشئ وګورو چې دا حکمت به څه وي؛ او آیا لازمه ده چې په انسانانو کې هم د لباس په ارتباط دا اصل او حکمت په پام کې ونیول شي؟

د ژوو جنسي جوړښت داسي دئ چې نارینه ئې د جنسي مادې (مني)

کڅوړه لري؛ دا يې جنسي نږدې والي او ضرورت رفع کولو ته هڅوي؛ عملاً ګورو چي تل نارينه په ښځينه پسي درومي؛ اما په مقابل کي يې ښځينه داسي نه وي؛ د نارينه همدا ځانګړتيا هغه له بل سره نزاع ته هڅوي؛ د ډېرى ژوو تر منځ اکثر جګړي د نارينه وو تر منځ وي؛ او منشأ او عامل يې اکثراً همدا وي؛ کورنى چرګ يې يو مثال دئ؛ لس مېرمني به ساتي او پالي؛ نه به دى له مېرمنو سره جنګېږي او نه يې مېرمني په خپلو منځونو کي؛ خو چي بل چرګ يې خوا ته راشي؛ جګړه پيل شي؛ داسي چي دواړه په کي زخمي زخمي شي؛ ګورو چي تل نارينه ښځينه ته د نږدېکت هڅه کوي، اما مېرمن يې آرام او ځان لري لري کوي!! ځيني نارينه د ښځينه د جلبولو په ارتباط داسي حرکات کوي چي نڅا ته ورته وي؛ او په ترڅ کي يې خپل ټول ښايست څرګندوي؛ د فطرت تقاضى همدا ده چي نارينه بايد ښايسته او رنګين وي چي ښځينه جلب او نږدېکت ته چمتو کړي؛ که ښځينه يې ډېري ښايسته او رنګيني وى نو نارينه به لا زيات تحريك کېدو او په نتيجه کي به يې اوسنى فطري تعادل له منځه تلو او د نارينه وو تر منځ به شخړي او جګړي لا زياتېدې؛ دا نن په غربي هېوادو کي د جنائي پېښو او قتلونو لويه برخه؛ له جنسي تېريو سره تړاو لري؛ د متحده ايالاتو د ۲۰۲۱ کال په خپور شوي راپور کي راغلي چي په تېر کال کي په ټولي امريکا کي نږدې ۵۰۰۰۰ وګړي د جنايي پېښو له کبله وژل شوي؛ د دې پېښو ډېرى يې له جنسي تېريو سره تړاو لري؛ تاريخ شهادت ورکوي چي په کوم هېواد کي جنسي انحرافات زيات او عام شوي؛ د قتلونو کچه هم لوړه شوې. اسلام چي د نارينه او ښځينه جامو په اړه کومه لارښوونه لري؛ د دوى دا فطري جوړښت او د جنسي شذوذ بدي پايلي په پام کي نيول شوې. خپل مېړه ته هر راز سينګار کولى شي او دا سينګار يې د ثواب کار ګڼل شوى؛ اما د پردي په وړاندي د داسي محدوديتونو په مراعات ګمارل شوې چي د فتنو د مخنيوي لپاره ضروري دي؛ خِمار يې په کور کي او جلباب يې په بهر کي د همدې لپاره دئ.

دا ئې څو تصویرونه چې د نارینه او ښځینه مرغانو او حیواناتو تر منځ د ښایست له پوره څرګند توپیر راښیي:








## د إفك پېښي اړوند روايت

راشئ د دې پېښي اړوند هغه روايت له نظره تېر کړو چي ځيني ئې په يوې برخي استناد کوي او غواړي دا ثابته کړي چي مېرمني د مخ پر پټولو گمارل شوې؛ او گواکي عائشې رضي الله عنها ځکه د يوه نامحرم په وړاندي خپل مخ پټ کړی؛ چي د أحزاب سورې کي د مخ پټولو حکم راغلی!! دا روايت په بخاري کي د ابن شهاب الزهري له لوري روايت شوی؛ که څه هم دا روايت ډېري ستونزي لري او دومره اوږد دئ چي په وړې رسالې کي ئې راوړل مناسب نه برېښي؛ خو ما د دې لپاره راوړی چي همدا د هغو لپاره مهم مستمسك او سند دئ چي غواړي ثابته کړي مېرمني د مخ پر پټولو گمارل شوې دي!!

راوي ئې زهري دئ او د روايت په پيل کي وايي: له عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّب، عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاص اللَّيْثِيِّ او عُبَيْدِ الله بْنِ عَبْدِ الله بْنِ عُتْبَةَ مي د رسول الله صلى الله عليه و سلم د مېرمني عَائِشې رضی الله عنها هغه روايات تر لاسه کړی چي د تور لگوونکو د هغي وينا په اړه دي چي دوی کړې وه او الله تعالى هغې ته برائت ورکړ، د دوی هر يوه د حديث يوه برخه راته ويلې، ځيني ئې تر ځينو نورو زيات پوهېدل او په وړاندي به ئې عکس العمل مضبوط وو، (ښه به ئې حفظ کړی وو)، د دوی له هر يوه مي هغه روايت ذهن ته سپارلی چي دوی له عائشې رضی الله عنها ما ته ويلی، د ځينو وينا د ځينو نورو تصديق کوي، دوی داسي گمان کړی چي عائشې رضی الله عنها دغه خبره کړې؛ د الزهري له دې وينا معلومېږي چي د دې روايت بېلي بېلي برخي ئې له گڼ شمېر راويانو تر لاسه کړې، له ځينو ئې ډېر څه او له ځينو ئې لږ برخه؛ ټولي خبري ئې په ذهن کي حفظ کړې؛ له ليکلو پرته؛ او په پای کي ئې گډ روايت په دې بڼي کي ترتيب کړی:

عن عُرْوَةُ عَنْ عَايِشَةَ رضى الله عنها أَنَّ عَايِشَةَ رضى الله عنهازَوْجَ النَّبِيِّ

صلى الله عليه و سلم قَالَتْ كَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم إِذَا أَرَادَ أَنْ يَخْرُجَ أَقْرَعَ بَيْنَ أَزْوَاجِهِ، فَأَيَّتُهُنَّ خَرَجَ سَهْمُهَا خَرَجَ بِهَا رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم مَعَهُ، قَالَتْ عَائِشَةُ فَأَقْرَعَ بَيْنَنَا فِي غَزْوَةٍ غَزَاهَا، فَخَرَجَ سَهْمِي، فَخَرَجْتُ مَعَ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم بَعْدَ مَا نَزَلَ الْحِجَابُ، فَأَنَا أُحْمَلُ فِي هَوْدَجِي وَأُنْزَلُ فِيهِ فَسِرْنَا حَتَّى إِذَا فَرَغَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم مِنْ غَزْوَتِهِ تِلْكَ وَقَفَلَ، وَدَنَوْنَا مِنَ الْمَدِينَةِ قَافِلِينَ آذَنَ لَيْلَةً بِالرَّحِيلِ، فَقُمْتُ حِينَ آذَنُوا بِالرَّحِيلِ، فَمَشَيْتُ حَتَّى جَاوَزْتُ الْجَيْشَ، فَلَمَّا قَضَيْتُ شَأْنِي أَقْبَلْتُ إِلَى رَحْلِي، فَإِذَا عِقْدٌ لِي مِنْ جَزْعِ ظَفَارِ قَدِ انْقَطَعَ فَالْتَمَسْتُ عِقْدِي وَحَبَسَنِي ابْتِغَاؤُهُ وَأَقْبَلَ الرَّهْطُ الَّذِينَ كَانُوا يَرْحَلُونَ لِي، فَاحْتَمَلُوا هَوْدَجِي، فَرَحَلُوهُ عَلَى بَعِيرِي الَّذِي كُنْتُ رَكِبْتُ، وَهُمْ يَحْسِبُونَ أَنِّي فِيهِ، وَكَانَ النِّسَاءُ إِذْ ذَاكَ خِفَافًا لَمْ يُثْقِلْهُنَّ اللَّحْمُ، إِنَّمَا تَأْكُلُ الْعُلْقَةَ مِنَ الطَّعَامِ فَلَمْ يَسْتَنْكِرِ الْقَوْمُ خِفَّةَ الْهَوْدَجِ حِينَ رَفَعُوهُ، وَكُنْتُ جَارِيَةً حَدِيثَةَ السِّنِّ، فَبَعَثُوا الْجَمَلَ وَسَارُوا، فَوَجَدْتُ عِقْدِي بَعْدَ مَا اسْتَمَرَّ الْجَيْشُ، فَجِئْتُ مَنَازِلَهُمْ، وَلَيْسَ بِهَا دَاعٍ وَلاَ مُجِيبٌ، فَأَمَمْتُ مَنْزِلِي الَّذِي كُنْتُ بِهِ وَظَنَنْتُ أَنَّهُمْ سَيَفْقِدُونِي فَيَرْجِعُونَ إِلَيَّ فَبَيْنَا أَنَا جَالِسَةٌ فِي مَنْزِلِي غَلَبَتْنِي عَيْنِي فَنِمْتُ، وَكَانَ صَفْوَانُ بْنُ الْمُعَطَّلِ السُّلَمِيُّ ثُمَّ الذَّكْوَانِيُّ مِنْ وَرَاءِ الْجَيْشِ، فَأَدْلَجَ فَأَصْبَحَ عِنْدَ مَنْزِلِي، فَرَأَى سَوَادَ إِنْسَانٍ نَائِمٍ، فَأَتَانِي فَعَرَفَنِي حِينَ رَآنِي، وَكَانَ يَرَانِي قَبْلَ الْحِجَابِ، فَاسْتَيْقَظْتُ بِاسْتِرْجَاعِهِ حِينَ عَرَفَنِي فَخَمَّرْتُ وَجْهِي بِجِلْبَابِي، وَالله مَا كَلَّمَنِي كَلِمَةً وَلاَ سَمِعْتُ مِنْهُ كَلِمَةً غَيْرَ اسْتِرْجَاعِهِ، حَتَّى أَنَاخَ رَاحِلَتَهُ فَوَطِئَ عَلَى

يَدَيْهَا فَرَكِبْتُهَا فَانْطَلَقَ يَقُودُ بِى الرَّاحِلَةَ حَتَّى أَتَيْنَا الْجَيْشَ، بَعْدَ مَا نَزَلُوا مُوغِرِينَ فِى نَحْرِ الظَّهِيرَةِ، فَهَلَكَ مَنْ هَلَكَ، وَكَانَ الَّذِى تَوَلَّى الإِفْكَ عَبْدَ الله بْنَ أُبَيٍّ ابْنَ سَلُولَ فَقَدِمْنَا الْمَدِينَةَ، فَاشْتَكَيْتُ حِينَ قَدِمْتُ شَهْرًا، وَالنَّاسُ يُفِيضُونَ فِى قَوْلِ أَصْحَابِ الإِفْكِ، لاَ أَشْعُرُ بِشَىْءٍ مِنْ ذَلِكَ، وَهْوَ يَرِيبُنِى فِى وَجَعِى أَنِّى لاَ أَعْرِفُ مِنْ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم اللُّطْفَ الَّذِى كُنْتُ أَرَى مِنْهُ حِينَ أَشْتَكِى، إِنَّمَا يَدْخُلُ عَلَيَّ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم فَيُسَلِّمُ ثُمَّ يَقُولُ « كَيْفَ تِيكُمْ ». ثُمَّ يَنْصَرِفُ، فَذَاكَ الَّذِى يَرِيبُنِى، وَلاَ أَشْعُرُ حَتَّى خَرَجْتُ بَعْدَ مَا نَقَهْتُ، فَخَرَجَتْ مَعِى أُمُّ مِسْطَحٍ قِبَلَ الْمَنَاصِعِ، وَهْوَ مُتَبَرَّزُنَا، وَكُنَّا لاَ نَخْرُجُ إِلاَّ لَيْلاً إِلَى لَيْلٍ، وَذَلِكَ قَبْلَ أَنْ نَتَّخِذَ الْكُنُفَ قَرِيبًا مِنْ بُيُوتِنَا، وَأَمْرُنَا أَمْرُ الْعَرَبِ الأُوَلِ فِى التَّبَرُّزِ قِبَلَ الْغَائِطِ، فَكُنَّا نَتَأَذَّى بِالْكُنُفِ أَنْ نَتَّخِذَهَا عِنْدَ بُيُوتِنَا فَانْطَلَقْتُ أَنَا وَأُمُّ مِسْطَحٍ، وَهْىَ ابْنَةُ أَبِى رُهْمِ بْنِ عَبْدِ مَنَافٍ، وَأُمُّهَا بِنْتُ صَخْرِ بْنِ عَامِرٍ خَالَةُ أَبِى بَكْرٍ الصِّدِّيقِ، وَابْنُهَا مِسْطَحُ بْنُ أُثَاثَةَ، فَأَقْبَلْتُ أَنَا وَأُمُّ مِسْطَحٍ قِبَلَ بَيْتِى، قَدْ فَرَغْنَا مِنْ شَأْنِنَا، فَعَثَرَتْ أُمُّ مِسْطَحٍ فِى مِرْطِهَا فَقَالَتْ تَعِسَ مِسْطَحٌ. فَقُلْتُ لَهَا بِئْسَ مَا قُلْتِ أَتَسُبِّينَ رَجُلاً شَهِدَ بَدْرًا قَالَتْ أَىْ هَنْتَاهُ، أَوَلَمْ تَسْمَعِى مَا قَالَ قَالَتْ قُلْتُ وَمَا قَالَ فَأَخْبَرَتْنِى بِقَوْلِ أَهْلِ الإِفْكِ فَازْدَدْتُ مَرَضًا عَلَى مَرَضِى، فَلَمَّا رَجَعْتُ إِلَى بَيْتِى وَدَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم تَعْنِى سَلَّمَ ثُمَّ قَالَ « كَيْفَ تِيكُمْ ». فَقُلْتُ أَتَأْذَنُ لِى أَنْ آتِىَ أَبَوَيَّ قَالَتْ وَأَنَا حِينَئِذٍ أُرِيدُ أَنْ أَسْتَيْقِنَ الْخَبَرَ مِنْ قِبَلِهِمَا، قَالَتْ فَأَذِنَ لِى رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم فَجِئْتُ أَبَوَيَّ فَقُلْتُ لأُمِّى يَا

أُمَّتَاهْ، مَا يَتَحَدَّثُ النَّاسُ قَالَتْ يَا بُنَيَّةُ، هَوِّنِى عَلَيْكِ فَوَالله، لَقَلَّمَا كَانَتِ امْرَأَةٌ قَطُّ وَضِيئَةً عِنْدَ رَجُلٍ يُحِبُّهَا وَلَهَا ضَرَائِرُ إِلاَّ كَثَّرْنَ عَلَيْهَا. قَالَتْ فَقُلْتُ سُبْحَانَ الله وَلَقَدْ تَحَدَّثَ النَّاسُ بِهَذَا قَالَتْ فَبَكَيْتُ تِلْكَ اللَّيْلَةَ حَتَّى أَصْبَحْتُ لاَ يَرْقَأُ لِى دَمْعٌ، وَلاَ أَكْتَحِلُ بِنَوْمٍ حَتَّى أَصْبَحْتُ أَبْكِى فَدَعَا رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم عَلِيَّ بْنَ أَبِى طَالِبٍ، وَأُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ - رضى الله عنهما - حِينَ اسْتَلْبَثَ الْوَحْىُ، يَسْتَأْمِرُهُمَا فِى فِرَاقِ أَهْلِهِ، قَالَتْ فَأَمَّا أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ فَأَشَارَ عَلَى رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم بِالَّذِى يَعْلَمُ مِنْ بَرَاءَةِ أَهْلِهِ، وَبِالَّذِى يَعْلَمُ لَهُمْ فِى نَفْسِهِ مِنَ الْوُدِّ، فَقَالَ يَا رَسُولَ الله، أَهْلَكَ، وَمَا نَعْلَمُ إِلاَّ خَيْرًا، وَأَمَّا عَلِيُّ بْنُ أَبِى طَالِبٍ فَقَالَ يَا رَسُولَ الله، لَمْ يُضَيِّقِ اللَّهُ عَلَيْكَ وَالنِّسَاءُ سِوَاهَا كَثِيرٌ، وَإِنْ تَسْأَلِ الْجَارِيَةَ تَصْدُقْكَ، قَالَتْ فَدَعَا رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم بَرِيرَةَ فَقَالَ « أَىْ بَرِيرَةُ، هَلْ رَأَيْتِ عَلَيْهَا مِنْ شَىْءٍ يَرِيبُكِ ». قَالَتْ بَرِيرَةُ لاَ وَالَّذِى بَعَثَكَ بِالْحَقِّ، إِنْ رَأَيْتُ عَلَيْهَا أَمْرًا أَغْمِصُهُ عَلَيْهَا أَكْثَرَ مِنْ أَنَّهَا جَارِيَةٌ حَدِيثَةُ السِّنِّ، تَنَامُ عَنْ عَجِينِ أَهْلِهَا، فَتَأْتِى الدَّاجِنُ فَتَأْكُلُهُ فَقَامَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم فَاسْتَعْذَرَ يَوْمَئِذٍ مِنْ عَبْدِ الله بْنِ أُبَيٍّ ابْنِ سَلُولَ، قَالَتْ، فَقَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم وَهْوَ عَلَى الْمِنْبَرِ « يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِينَ مَنْ يَعْذِرُنِى مِنْ رَجُلٍ، قَدْ بَلَغَنِى أَذَاهُ فِى أَهْلِ بَيْتِى، فَوَالله مَا عَلِمْتُ عَلَى أَهْلِى إِلاَّ خَيْرًا، وَلَقَدْ ذَكَرُوا رَجُلاً، مَا عَلِمْتُ عَلَيْهِ إِلاَّ خَيْرًا، وَمَا كَانَ يَدْخُلُ عَلَى أَهْلِى إِلاَّ مَعِى ». فَقَامَ سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ الأَنْصَارِىُّ، فَقَالَ يَا رَسُولَ الله أَنَا أَعْذِرُكَ مِنْهُ، إِنْ كَانَ مِنَ الأَوْسِ، ضَرَبْتُ عُنُقَهُ، وَإِنْ كَانَ مِنْ

إِخْوَانِنَا مِنَ الْخَزْرَجِ، أَمَرْتَنَا، فَفَعَلْنَا أَمْرَكَ، قَالَتْ فَقَامَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ وَهْوَ سَيِّدُ الْخَزْرَجِ، وَكَانَ قَبْلَ ذَلِكَ رَجُلاً صَالِحًا، وَلَكِنِ احْتَمَلَتْهُ الْحَمِيَّةُ فَقَالَ لِسَعْدٍ كَذَبْتَ، لَعَمْرُ الله لاَ تَقْتُلُهُ، وَلاَ تَقْدِرُ عَلَى قَتْلِهِ، فَقَامَ أُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ وَهْوَ ابْنُ عَمِّ سَعْدٍ، فَقَالَ لِسَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ كَذَبْتَ، لَعَمْرُ الله لَنَقْتُلَنَّهُ، فَإِنَّكَ مُنَافِقٌ تُجَادِلُ عَنِ الْمُنَافِقِينَ، فَتَثَاوَرَ الْحَيَّانِ الأَوْسُ وَالْخَزْرَجُ حَتَّى هَمُّوا أَنْ يَقْتَتِلُوا، وَرَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم قَايِمٌ عَلَى الْمِنْبَرِ، فَلَمْ يَزَلْ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يُخَفِّضُهُمْ حَتَّى سَكَتُوا وَسَكَتَ، قَالَتْ فَمَكُثْتُ يَوْمِى ذَلِكَ لاَ يَرْقَأُ لِى دَمْعٌ وَلاَ أَكْتَحِلُ بِنَوْمٍ، قَالَتْ فَأَصْبَحَ أَبَوَاىَ عِنْدِى - وَقَدْ بَكَيْتُ لَيْلَتَيْنِ وَيَوْمًا لاَ أَكْتَحِلُ بِنَوْمٍ وَلاَ يَرْقَأُ لِى دَمْعٌ - يَظُنَّانِ أَنَّ الْبُكَاءَ فَالِقٌ كَبِدِى، قَالَتْ فَبَيْنَمَا هُمَا جَالِسَانِ عِنْدِى وَأَنَا أَبْكِى، فَاسْتَأْذَنَتْ عَلَيَّ امْرَأَةٌ مِنَ الأَنْصَارِ، فَأَذِنْتُ لَهَا، فَجَلَسَتْ تَبْكِى مَعِى، قَالَتْ فَبَيْنَا نَحْنُ عَلَى ذَلِكَ دَخَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم فَسَلَّمَ ثُمَّ جَلَسَ قَالَتْ وَلَمْ يَجْلِسْ عِنْدِى مُنْذُ قِيلَ مَا قِيلَ قَبْلَهَا، وَقَدْ لَبِثَ شَهْرًا، لاَ يُوحَى إِلَيْهِ فِى شَأْنِى، قَالَتْ فَتَشَهَّدَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم حِينَ جَلَسَ ثُمَّ قَالَ « أَمَّا بَعْدُ يَا عَايِشَةُ، فَإِنَّهُ قَدْ بَلَغَنِى عَنْكِ كَذَا وَكَذَا، فَإِنْ كُنْتِ بَرِيئَةً فَسَيُبَرِّئُكِ اللَّهُ، وَإِنْ كُنْتِ أَلْمَمْتِ بِذَنْبٍ فَاسْتَغْفِرِى الله وَتُوبِى إِلَيْهِ، فَإِنَّ الْعَبْدَ إِذَا اعْتَرَفَ بِذَنْبِهِ ثُمَّ تَابَ إِلَى الله تَابَ اللَّهُ عَلَيْهِ ». قَالَتْ فَلَمَّا قَضَى رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم مَقَالَتَهُ، قَلَصَ دَمْعِى حَتَّى مَا أُحِسُّ مِنْهُ قَطْرَةً، فَقُلْتُ لأَبِى أَجِبْ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم فِيمَا قَالَ. قَالَ وَالله مَا أَدْرِى مَا أَقُولُ لِرَسُولِ

الله صلى الله عليه و سلم فَقُلْتُ لأُمِّى أَجِيبِى رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم. قَالَتْ مَا أَدْرِى مَا أَقُولُ لِرَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم قَالَتْ فَقُلْتُ وَأَنَا جَارِيَةٌ حَدِيثَةُ السِّنِّ لاَ أَقْرَأُ كَثِيرًا مِنَ الْقُرْآنِ، إِنِّى وَالله لَقَدْ عَلِمْتُ لَقَدْ سَمِعْتُمْ هَذَا الْحَدِيثَ حَتَّى اسْتَقَرَّ فِى أَنْفُسِكُمْ، وَصَدَّقْتُمْ بِهِ فَلَئِنْ قُلْتُ لَكُمْ إِنِّى بَرِيئَةٌ وَاللَّهُ يَعْلَمُ أَنِّى بَرِيئَةٌ لاَ تُصَدِّقُونِى بِذَلِكَ، وَلَئِنِ اعْتَرَفْتُ لَكُمْ بِأَمْرٍ، وَاللَّهُ يَعْلَمُ أَنِّى مِنْهُ بَرِيئَةٌ لَتُصَدِّقُنِّى، وَالله مَا أَجِدُ لَكُمْ مَثَلاً إِلاَّ قَوْلَ أَبِى يُوسُفَ قَالَ ( فَصَبْرٌ جَمِيلٌ وَاللَّهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَى مَا تَصِفُونَ ) قَالَتْ ثُمَّ تَحَوَّلْتُ فَاضْطَجَعْتُ عَلَى فِرَاشِى، قَالَتْ وَأَنَا حِينَئِذٍ أَعْلَمُ أَنِّى بَرِيئَةٌ، وَأَنَّ الله مُبَرِّئِى بِبَرَاءَتِى، وَلَكِنْ وَالله مَا كُنْتُ أَظُنُّ أَنَّ الله مُنْزِلٌ فِى شَأْنِى وَحْيًا يُتْلَى، وَلَشَأْنِى فِى نَفْسِى كَانَ أَحْقَرَ مِنْ أَنْ يَتَكَلَّمَ اللَّهُ فِىَّ بِأَمْرٍ يُتْلَى، وَلَكِنْ كُنْتُ أَرْجُو أَنْ يَرَى رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم فِى النَّوْمِ رُؤْيَا يُبَرِّئُنِى اللَّهُ بِهَا، قَالَتْ فَوَالله مَا رَامَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم وَلاَ خَرَجَ أَحَدٌ مِنْ أَهْلِ الْبَيْتِ حَتَّى أُنْزِلَ عَلَيْهِ، فَأَخَذَهُ مَا كَانَ يَأْخُذُهُ مِنَ الْبُرَحَاءِ حَتَّى إِنَّهُ لَيَتَحَدَّرُ مِنْهُ مِثْلُ الْجُمَانِ مِنَ الْعَرَقِ، وَهْوَ فِى يَوْمٍ شَاتٍ مِنْ ثِقَلِ الْقَوْلِ الَّذِى يُنْزَلُ عَلَيْهِ، قَالَتْ فَلَمَّا سُرِّىَ عَنْ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم سُرِّىَ عَنْهُ وَهْوَ يَضْحَكُ، فَكَانَتْ أَوَّلُ كَلِمَةٍ تَكَلَّمَ بِهَا « يَا عَائِشَةُ، أَمَّا اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ فَقَدْ بَرَّأَكِ ». فَقَالَتْ أُمِّى قُومِى إِلَيْهِ. قَالَتْ فَقُلْتُ وَالله، لاَ أَقُومُ إِلَيْهِ، وَلاَ أَحْمَدُ إِلاَّ الله عَزَّ وَجَلَّ. وَأَنْزَلَ اللَّهُ ( إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالإِفْكِ عُصْبَةٌ مِنْكُمْ لاَ تَحْسِبُوهُ ) الْعَشْرَ الآيَاتِ كُلَّهَا، فَلَمَّا أَنْزَلَ اللَّهُ هَذَا فِى بَرَاءَتِى قَالَ أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ رضى الله

عنه وَكَانَ يُنْفِقُ عَلَى مِسْطَحِ بْنِ أُثَاثَةَ لِقَرَابَتِهِ مِنْهُ، وَفَقْرِهِ وَالله لاَ أُنْفِقُ عَلَى مِسْطَحٍ شَيْئًا أَبَدًا بَعْدَ الَّذِى قَالَ لِعَايِشَةَ مَا قَالَ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ ( وَلاَ يَأْتَلِ أُولُو الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ أَنْ يُؤْتُوا أُولِى الْقُرْبَى وَالْمَسَاكِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ فِى سَبِيلِ الله وَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُوا أَلاَ تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ) قَالَ أَبُو بَكْرٍ بَلَى، وَالله إِنِّى أُحِبُّ أَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لِى، فَرَجَعَ إِلَى مِسْطَحٍ النَّفَقَةَ الَّتِى كَانَ يُنْفِقُ عَلَيْهِ، وَقَالَ وَالله لاَ أَنْزِعُهَا مِنْهُ أَبَدًا. قَالَتْ عَايِشَةُ وَكَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يَسْأَلُ زَيْنَبَ ابْنَةَ جَحْشٍ عَنْ أَمْرِى، فَقَالَ « يَا زَيْنَبُ مَاذَا عَلِمْتِ أَوْ رَأَيْتِ ». فَقَالَتْ يَا رَسُولَ الله، أَحْمِى سَمْعِى وَبَصَرِى، مَا عَلِمْتُ إِلاَّ خَيْرًا. قَالَتْ وَهْىَ الَّتِى كَانَتْ تُسَامِينِى مِنْ أَزْوَاجِ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم فَعَصَمَهَا اللَّهُ بِالْوَرَعِ، وَطَفِقَتْ أُخْتُهَا حَمْنَةُ تُحَارِبُ لَهَا فَهَلَكَتْ فِيمَنْ هَلَكَ مِنْ أَصْحَابِ الإِفْكِ. بخاری و مسند أبی یعلی

عائشه رضی الله عنها وايي: د رسول الله صلی الله علیه و سلم عادت دا وو چي کله به ئې د سفر اراده وکړه نو د خپلو مېرمنو تر منځ به ئې پچه واچوله او د چا په نامه چي به پچه وختله هغه به ئې ورسره بېوله؛ په يوې غزا (بني المصطلق بل نوم ئې المريسيع) کي ئې زموږ تر منځ پچه واچوله چي زما په نامه وختله نو زه ورسره ولاړم، دا له هغه وروسته وو چي د حجاب حکم نازل شوی وو، زه په کجاوه کي وړل کېدلم او بيا به ئې له همدې کجاوې سره کوزولم، نو ولاړو تر هغه چي رسول الله صلی الله علیه و سلم له دې غزا فارغ او بېرته ستون شو او مدينې ته نږدې شوو، يوه شپه ئې د کاروان د حرکت بږغ وکړ، زه د دوی له اعلان سره سم پاڅېدم او له لښکر آخوا تېره شوم، د حاجت له تر سره کولو وروسته خپلې کجاوې ته ستنه شوم، متوجه شوم چي زما هار چي

د یماني مرغلرو وو شلېدلی (لوېدلی) دئ، نو د خپل هار په لټه کې شوم، د هار لټې وځنډولم، هغه ډله چې زما کجاوه به ئې پورته کوله راغلې او هغه ئې پورته کړې او زما پر اوښ ئې بار کړې او ګمان ئې کړی چې زه په کجاوه کي یم، هغه وخت به د ښځو وزن کم وو، غوښې به درنې کړې نه وې، لږ خواړه به ئې خوړل، نو کله چې ئې کجاوه پورته کړې د هغې سپکوالي ته نه دي متوجه شوي، هغه مهال ډېره کمعمره وم، دوی اوښ پاڅولی او خوځېدلي، ما خپل آمیل له هغه وروسته وموند چې لښکر روان شوی وو، د کاروان مېني ته راغلم خو هلته نه غږ کوونکی وو او نه ځواب ورکوونکی، نو خپل مخکیني ځای ته راغلم، ګمان مي کاوو چې دوی به ژر زما په نشتوالي پوه شي او زما لوري ته به راستانه شي، نو په داسي حال کې چې ناسته وم سترګي مي ورغلې او ویده شوم، صفوان بن معطل السلمي ذکواني په لښکر پسي له شا راروان وو (رسول الله صلی الله علیه و سلم په همدې دندي ګمارلی وو) او سهار زما ځای ته رارسېدلی وو، د ویده انسان سیوری ئې تر سترګو شوی وو، زما خوا ته راغلی، زه ئې پېژندلې یم، ځکه د حجاب تر حکم وړاندي ئې زه لیدلې وم، زما په لیدو سره ئې استرجاع وکړه (إنا لله و إنا إليه راجعون ئې وویل) او په همدې سره زه راویښه شوم، ما په خپل جلباب (پړوني) مخ پټ کړ، په الله قسم چې نه ئې له ما سره خبره کړې او نه مي له استرجاع پرته له ده بله کلمه اورېدلې، تر هغه چې خپل اوښ ئې راوست او په مخکنۍ پښو ئې چو کړ او زه پرې سپره شوم، روان شوو، اوښ ئې تر پړي نیولی وو او ترې مخکې روان وو، تر هغه چې لښکر ته ورسېدو چې په ټکنده غرمه کي ئې اړولي وو، (همدلته فتنه شروع شوه)، څوک چې تباه کېدو هغه تباه شو، او چا چې د دې دروغجن تور ذمه په غاړه واخیستله عبدالله بن ابي بن سلول وو، مدینې ته ورسېدو، له رسېدو وروسته زه یوه میاشت ناروغه شوم او خلک د تور لګوونکو په خبري کې بوخت ول، زه له دې ټولو بې خبره وم، خو د خپل مرض په حال کي دې خبري په شک کي اچولم چې دا ځل له رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه لطف او مهرباني

نه وینم چي تر دې وړاندي به ئې د مرض په حال کي راباندي درلوده، کله چي به راغی سلام به ئې واچاوو او وبه ئې فرمایل: دا څنګه ده؟ بیا به ولاړ، دغي خبري په شك کي اچولم، خو له افک (دروغجن تور) تر هغه نه وم خبره چي جوړه شوم او راووتم، ام مسطح راسره یو ځای کنډوالو ته ووتلو، دا مو صحرا ته د وتلو ځای وو، موږ به صرف یوه شپه بله شپه وتلو، دا تر هغه د وړاندي وخت خبره ده چي موږ کورونو ته نږدې تشی جوړي کړو، صحرا ته تېرېدو کي زموږ حال همغسي وو لکه د پخوانیو بانډه چیانو، موږ به له دې ځورېدو چي کورونو ته نږدې دا کار وکړو، نو زه او ام مسطح سره رواني شوو، هغه د ابي رهم بن عبد مناف لور او مور ئې د صَخْرِ بْنِ عَامِر لور او د ابوبکر صدیق رضی الله عنه خاله وه، زوی ئې مِسْطَح بن اثاثه وو، زه او ام مسطح له صحرا ببرته د کور په لوري رارواني شوو، د ام مسطح پښه په خپل ټکري کي بنده شوه او ولوېده او وئې ویل: مسطح دي خوار شي، ما ورته وویل: ناوړه خبره دي وکړه، آیا داسي چا ته ښکنځلي کوې چي د بدر غزا کي ئې شرکت کړی؟ هغې راته وویل: اې خواره کی! آیا اورېدلي دي نه دي چي څه ئې ویلي؟ وائې: ورته ومي ویل: څه ئې ویلي؟ بیا ئې د افک د خاوندانو خبره راته وکړه، پدې سره مي مرض تر وړاندي زیات شو، نو کله چي کور ته ستنه شوم او رسول الله صلی الله علیه و سلم راغی، سلام ئې راکړ او وئې فرمایل: دا څنګه ده؟ ما ورته وویل: آیا اجازه راکوې چي د مور پلار کره مي ولاړه شم، وایي: دغه وخت زما نیت دا وو چي د دې خبري حقیقت له دوی دواړو معلوم کړم، رسول الله صلی الله علیه و سلم اجازه راکړه او زه د پلار کره ولاړم، مور ته مي وویل: مورې! دا خلک څه وایي؟ مور مي وویل: لورې! غم مه کوه، په الله تعالی قسم داسي ګلالی ښځه به کمه پیدا شي چي خاوند ته هم ګرانه وي او بني هم ولري او بیا دا ډول خبري ورپسي ونه شي، ما وویل: سبحان الله! آیا خلکو داسي خبري کړې دي؟

---

عائشه رضی الله عنها وايي: هغه شپه مي سهار کړه؛ پرته له دې چې اوښکي مي تم شي او خوب مي سترگو ته راشي، تر هغه چې سهار شو او ما ژړل؛ چې وحي وځنډېده نو رسول الله صلی الله علیه و سلم علي بن ابي طالب رضی الله عنه او اسامه بن زيد رضی الله عنه وروغوښتل او له دوی دواړو سره ئې له خپلي مېرمني د بېلتون په اړه مشوره کوله، اسامه رضی الله عنه د هغي پوهي له مخي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د اهل د برائت په اړه ئې درلوده او د هغه محبت له کبله چې په خپل زړه کي ئې ورسره درلود وويل: يا رسول الله! هغه (عائشه) رضی الله عنها ستا مېرمن ده، قسم په الله چې موږ له ښېگڼي پرته بل څه ندي ترې ليدلي، خو علي بن ابي طالب رضی الله عنه وويل: يا رسول الله! الله تعالی دربانديي تنگي نه ده راوستې او له دې پرته نوري ښځي هم ډېري دي، او پدې اړه له وينځي پوښتنه وکړه هغه به رښتيا درته ووايي. نو رسول الله صلی الله علیه و سلم بريره رضی الله عنها راوغوښته او ورته وئې فرمايل: آيا تا له عائشې رضی الله عنها داسي څه ليدلي چې په شک کي دي واچوي؟ بريره رضی الله عنها وويل: قسم په هغه ذات چې ته ئې په حقه رالېږلی يې ما هيڅ د شک وړ څه ندي ترې ليدلي، له دې پرته مي بل داسي کار نه دئ ترې ليدلی چې هغه کشره نجلۍ ده، د خپلي کورنۍ لامده وړه به پر ځای پرېږدي، ويده به شي، څاروي به راشي او هغه به وخوري. نو رسول الله صلی الله علیه و سلم په همدې ورځ پاڅېد او د عبدالله بن ابي بن سلول په اړه ئې شکايت وکړ او په داسي حال کي چې پر منبر وو وئې فرمايل: اې مسلمانانو! د هغه سړي په وړاندي به څوک ما معذور وگڼئ (که په خلاف ئې څه وکړم) چې ماته ئې زما د کورنۍ په اړه اذيت رارسېدلی، قسم په الله تعالی چې ما له خپلي مېرمني له نېکي پرته بل څه ندي ليدلي او دې خلکو په داسي يوه سړي تور لگولی چې ما له خير پرته بل څه ندي ترې ليدلي او هغه هيڅکله له ما پرته زما کور ته نه دئ ننوتی.

نو سعد بن معاذ انصاري رضی الله عنه پاڅېد او وئې ویل! یا رسول الله! زه دي له دې سړي بې غمه کوم، که هغه د اوس د قبیلې وي نو سر به ئې غوڅ کړو او که زموږ د ورونو خزرج له قبیلې وي نو هغه څه به ورسره وکړو چي ته ئې د کولو امر راته وکړې، پدې خبرو پسي سعد بن عباده رضی الله عنه چي د خزرج قبیلې سردار او تر دې وړاندي صالح انسان وو خو دلته قومي تعصب پرې غالب شو، پاڅېد او سعد بن معاذ رضی الله عنه ته ئې په خطاب کې وویل: دروغ وایې: قسم په الله که ئې ووژنې او داسي کولی هم نه شې؛ دلته اسید بن حضیر رضی الله عنه (د سعد بن معاذ د تره زوی) پاڅېد او سعد بن عباده رضی الله عنه ته ئې وویل: قسم په الله چي ته دروغ وایې؛ په والله چي وژنو به ئې؛ ته منافق یې او د منافقانو ملاتړ کوې؛ پدې سره دواړه قبیلې (اوس او خزرج) سره ببري شوې، نږدې وه چي لاس سره واچوي، په داسي حال کې چي رسول الله صلی الله علیه و سلم پر منبر ولاړ وو، د دوی د آرامولو هڅه ئې کوله، تر هغه چي ټول چوپ شول؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم هم چوپ شو. ما دا ورځ هم داسي تېره کړه چي نه مي اوښکي ودرېدې او نه مي خوب سترګو ته راغی، سهار مي مور او پلار راته راغلل په داسي حال کې چي ما دوې شپې او یوه ورځ ژړلي وو، نه مي اوښکي ودرېدلې وې او نه مي خوب سترګو ته راغلی وو، داسي مي انګېرله چي له ژړا به مي زړه وچوي. عائشه رضی الله عنها وایي: په داسي حال کې چي مور او پلار مي را سره ناست وو او ما ژړل یوې انصاري مېرمني د ننوتو اجازه وغوښته، ما اجازه ورکړه، هغه راغله او کښېناسته او له ما سره ئې ژړا پیل کړه، په همدې حالت کي رسول الله صلی الله علیه و سلم راغی او کښېناست، له هغي ورځي رادېخوا نه وو راسره کښېنستی چي دا خبري شوې وې، په داسي حال کې چي یوه میاشت تېره شوې وه، او زما په اړه کومه وحي نه وه ورته شوې، وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم له کښېناستو سره سم تشهد ووایو بیا ئې وویل: اې عائشې! ستا په اړه ما ته داسي خبري رارسېدلې دي، که چېري ته برئ او بې ګناه

يې نو الله تعالی به حتمًا تا ته برائت درکړي او که په رښتيا گناه درنه شوې وي نو له الله تعالی مغفرت وغواړه، توبه وباسه، ځکه بنده چي په گناه اعتراف وکړي او توبه وباسي الله تعالی ئې توبه قبلوي. رسول الله صلی الله علیه و سلم چي خبري خلاصي کړې، ناڅاپي مي اوښکي وچي شوې، داسي چي يو څاڅکی مي هم نه احساسولو، پلار ته مي وويل: زما له خوا رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د هغه د وينا ځواب ورکړه! پلار مي وويل: قسم په الله چي زه نه پوهېږم رسول الله صلی الله علیه و سلم ته څه ووايم؛ بيا مي مور ته وويل: ته رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ځواب ورکړه؛ هغې هم وويل: و الله که پوهېږم چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته څه ووايم؛ عائشه رضی الله عنها زياتوي: زه لا کشره وم او قرآنکريم مي هم ډېر نه وو لوستی، خو عرض مي وکړ: قسم په الله تعالی چي زه دومره پوهېدلې يم چي تاسو هغه خبري اورېدلې دي چي خلک ئې لاندي باندي کوي او همغه خبره ستاسو زړه ته لوېدلې او رښتيا ئې بولئ، نو که زه درته ووايم چي زه برئ او بې گناه يم او خدای عالم دئ چي زه برئ يم، خو تاسو به زما دا خبره نه منئ او که په داسي څه اعتراف درته وکړم چي الله شاهد دئ زه ترې پاکه او برئ يم تاسو به ئې منئ؛ قسم په الله تعالی چي زما او ستاسو مثال د يوسف علیه السلام د پلار دئ چي ويلي ئې وو: (فصبر جميل والله المستعان على ما تصفون: نو ښکلی صبر به کوم او له الله په هغه څه کې مرسته غوښتل کېږي چي تاسو ئې بيانوئ) (يوسف:۱۸).

بيا مي مخ واړاوو او پر خپل بستر پر اړخ پرېوتم، او زه ښه پوهېدم چي بې گناه يم او الله تعالی به مي د برائت او پاکۍ تصديق کوي، خو په الله قسم چي دا گمان مي نه کولو چي الله تعالی به زما په اړه داسي وحي (په قرآن کې) نازله کړي چي تل به ئې تلاوت کېږي، ځان تر دې ډېر ووړ راته معلومېدو چي الله تعالی به زما په اړه داسي څه وايي چي تلاوت به ئې کېږي، خو دا هيله مي

وه چي رسول الله صلی الله علیه و سلم به په خوب کې داسي رؤیا وویني چي الله تعالی به په هغې سره زما د برائت تصدیق وکړي؛ وایي: په الله قسم چي رسول الله صلی الله علیه و سلم لا له خپل ځای نه وو خوځېدلی او لا له خوني هیڅوک نه وو وتلی چي پر رسول الله صلی الله علیه و سلم وحي نازله شوه، او د تکلیف همغه حالت پرې راغی چي د وحي د نزول په مهال به پرې راتلو، داسي چي په سړې ورځ کي به داسي خولې پرې راغلې چي د مرغلرو په څېر به څڅېدې، د هغي وحي د دروندوالی له کبله چي پر ده به نازلېده؛ او کله چي له رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه حالت لري شو؛ په داسي حال کې ترې لري شو چي خندل ئې او دا ئې لومړنۍ وینا وه: "اې عائشې! الله تعالی برائت درکړ"، مور مي راته وویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ودرېږه، ما وویل: قسم په الله که ورته ولتېږم او له الله تعالی پرته د بل هیچا شکر نه کوم، او الله تعالی دا آیتونه نازل کړل: (إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالإِفْكِ عُصْبَةٌ مِنْكُمْ لا تَحْسَبُوهُ ....) ټول لس آیتونه؛ نو کله چي الله تعالی زما د برائت په اړه دا آیتونه نازل کړل؛ پلار مي ابوبکر رضی الله عنه چي تر دې وخته ئې له مسطح بن اثاثه سره د خپلوۍ او د ده د فقر له کبله مرسته کوله؛ وویل: قسم په الله چي له دې وروسته به مسطح ته هیڅ څه نه ورکوم، د ده د هغي خبري له کبله چي د عائشې رضی الله عنها په اړه ئې کړې وه، نو الله تعالی دا آیت نازل کړ: "وَلاَ يَأْتَلِ أُولُو الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ أَنْ يُؤْتُوا أُولِي الْقُرْبَى وَالْمَسَاكِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ فِي سَبِيلِ الله .... او ستاسو فضلمن او وسمن دي له دې لوړه نه کوي چي خپلوانو، مسکینانو او د الله د لاري مهاجرینو ته څه ورکړي؛ او حتماً دي عفو وکړي او مخ دي واړوي (سترګي دي پرې پټې کړي)؛ آیا دا نه خوښوئ چي الله تاسو ته بخښنه وکړي؟ او الله مهربان بخښونکی دئ. النور: ۲۲

نو ابوبکر رضی الله عنه وویل: ولي نه؛ قسم په الله چي دا خوښوم چي الله تعالی مغفرت راته وکړي؛ نو له مسطح سره ئې همغه مرسته بېرته پیل کړه

چې تر دې وړاندې يې ورسره کوله او وئې ويل: و الله چې هيڅکله به ئې تري ونه سپموم.

عائشه رضی الله عنها وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم له زینب بنت جحش رضی الله عنها هم زما په اړه پوښتنه وکړه او ورته وئې فرمايل: اې زينب! ته له څه خبره يې او څه دي ليدلي دي؟؛ هغې ورته وويل: يا رسول الله! خپل غوږ او سترګي ساتم، ما له نېکي او خير پرته بل څه ندي ليدلي؛ عائشه رضی الله عنها وايي: او دا همغه مېرمن وه چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په مېرمنو کې ئې له ما سره سيالي او بنتوب کاوو، خو الله تعالی هغه د خپلي تقوی له برکته وساتله او خور ئې حمنه چې د دې لپاره جنګېده د هغه څه له کبله تباه شوه چې تور لګوونکې ئې له کبله تباه شول.

دا روايت په بخاري کې اولس (۱۷) ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۲۵۹۳، ۲٦۳۷، ۲٦٦۱، ۲٦۸۸، ۲۸۷۹، ٤۰۲٥، ٤١٤١، ٤٦٩۰، ٤٧٤٩، ٤٧٥٧، ٥۲۱۲، ٦٦٦۲، ٦٦٧٩، ۷۳٦۹، ۷۳۷۰، ۷٥۰۰، ۷٥٤٥

د پورتني روايت په اړه څو خبري بايد په پام کې ولرو:

۱- په دې روايت کې ويل شوي چې ګواکې عائشې رضي الله عنها د صَفْوَانُ بْنُ الْمُعَطَّلِ السُّلَمِي په ليدو سره خپل مخ په جلباب پټ کړی؛ او دا ځکه چې ګواکې تر دې وړاندې د احزاب سوره کې د حجاب حکم نازل شوی وو؛ دلته څو پوښتني راولاړېږي:

الف- د ډېری محققينو له نظره د بني المصطلق غزوه چې دا پېښه په کې رامنځته شوې؛ د احزاب تر غزوې وړاندې په څلورم يا پنځم هجري کال کې وه؛ د احزاب سوره تر دواړو غزواتو وروسته نازله شوې؛ او د حجاب اړوند آيت هم په دغي سوري کې راغلی؛ نو دا ادعاء سمه نه ده چې عائشې رضي الله عنها د حجاب حکم ته په پام سره خپل مخ پټ کړی.

ب- د حجاب په اړوند آيت کې اصلاً د مخ پټولو په اړه هيڅ څه نه مومو؛

حکم مېرمنو ته نه بلکې نارینه وو ته متوجه دئ او هغوی ته ویل شوي چي کله د رسول الله صلی الله علیه و سلم له مېرمنو څه غواړئ نو د حجاب له شا ئې وغواړئ؛ او دلته د حجاب معنی دقیقاً او فقط دروازه، د دروازې په سر پرده او دېوال دئ نه کومه جامه، ټیکری یا پړونی.

۲- دا روایت له شپږمي طبقې وروسته راویانو نقل شوی؛ سمه نه ده چي ووایو؛ عائشې رضي الله عنها ویلي؛ محتاطانه وینا دا ده چي ووایو: په شپږمي، اومي، اتمي او نهمي طبقې کي راویانو د دې روایت بېلي بېلي برخي عائشې رضي الله عنها ته منسوب کړې؛ په راویانو کي ئې داسي هم شته چي علماء رجال ئې یا ضعیف ګڼي او یا وایي: غلطېدو. روایات هم داسي چي تر منځ ئې کافي توپیرونه او تعارضات ګورو. پر نورو سربېره یو جدي توپیر ئې دا دئ چي په ځینو کي د سعد بن معاذ پر ځای د اسید بن حضیر نوم اخیستل شوی او په ځینو کي د دواړو نومونه. دا موضوع له دې کبله د پام وړ ده چي سعد بن معاذ رضی الله عنه د احزاب په جګړې کي ټپي شوی وو او د بني قریظه په اړه له حکمیت وروسته له همدې ټپ وفات شو، که څوك ادعاء کوي چي د بني المصطلق غزوه د احزاب له غزوې وروسته وه؛ ادعاء ئې ځکه ناسمه ده چي دا مهال سعد بن معاذ ژوندی نه وو؛ نو د روایت دا خبره سمه نه ده چي هغه په جومات کي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وویل: که تور لګوونکی د اوس له قبیلې وي نو سر به ئې غوڅ کړو.

۳- په روایت کي ویل شوي چي دا پېښه د حجاب د حکم له نازلېدو وروسته رامنځته شوې، دا خبره ښیي چي ګواکي دا پېښه به د احزاب له جګړې وروسته وي، حال دا چي بل لوري ته په روایت کي د سعد بن معاذ یادونه شوې چي ښیي پېښه د احزاب تر جنګ وړاندي او هغه مهال وه چي دی لا ژوندی وو!! یعني د دې روایت یوه برخه بله برخه په بشپړه توګه ردوي؛ او دې ادعاء ته هیڅ مجال نه پرېږدي چي عائشې رضي الله عنها دې د احزاب سورې د کوم آیت له مخي خپل مخ پټ کړی وي.

٤- د دې روايت ستره ستونزه دا ده چې عائشې رضي الله عنها ته داسي وينا منسوبوي چې د هغې له بل مشهور روايت سره ژور تناقض لري؛ هغه روايت چې د دې د خور اسماء رضي الله عنها په اړه په کې راغلي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته وويل: ښځو ته روا نه ده چې له پېلغتوب وروسته ئې له مخ او رغوو پرته د بدن بله برخه څرگنده شي. اصولاً له متناقضو ويناوو او رواياتو يوازي يو غوره کولی شو؛ هغه چې هم د إسنادو له پلوه تر بل غوره وي او هم د متن له پلوه اصح او ارجح؛ دا روايت د هغه په وړاندي هيڅ وزن نه لري؛ د مخ پټولو وينا لپاره نه په قرآن کې څرگند شاهد مومو او نه تلويحي اشاره؛ اما د قرآن وينا په دې اړه صريح ده چې مخ په عوراتو کې نه راځي؛ د قرآن دا برخي په څرگنده توگه پر همدې دلالت کوي چې مخ لوڅ وي او له پټولو مستثنی شوی:

**(قُلْ لِلْمُؤْمِنِيْنَ يَغُضُّوا مِنْ اَبْصَارِهِمْ...)**، النور: ۳۱

**(وَلا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلا مَا ظَهَرَ مِنْهَا....)** النور: ۳۱

**(وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ)** النور: ۳۱

**(وَلا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِنْ زِينَتِهِنَّ)** النور: ۳۱

له لومړي معلومېږي چې مخونه لوڅ ول؛ دوهم وايي چې د مېرمنو د بدن يوه برخه څرگنده وي، درېيم وايي چې په ټيکري سره دي گرېوان پټ کړي؛ د گرېوان يادونه شوې خو د مخ نه، له څلورم معلومېږي چې د گاڼې يوه برخه پټه او بله څرگنده ده؛ څرگنده ئې د مخ او لاسونو اړوند گاڼه ده.

سُبْحَانَكَ اللهُمَّ بِحَمْدِكَ نَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، نَسْتَغْفِرُكَ وَنَتُوبُ إِلَيْكَ

# فهرست

**عنوان** **صفحه**


تمهید ---------- ۱
د لباس په اړه د قرآن لارښووني څه دي؟ ---------- ۷
خمار ---------- ۱۱
جلباب ---------- ۱۲
حجاب ---------- ۱٤
د جامې په اړه روایات څه وایي؟ ---------- ۳۹
آیا د مېرمنو ټول بدن عورت دئ؟ ---------- ٥۱
په جهاد کې د مېرمنو شرکت ---------- ۷۰
احناف د مېرمنو د جامې او ستر په اړه څه وایي؟ ---------- ۷۱
دوه ضمني یادونې ---------- ۷٦
نتیجه او تتمه ---------- ۷۸
په پای کې یو عقلي دلیل ---------- ۸۱
د إفك پېښې اړوند روایت ---------- ۸٤

**د کتاب له متن:**

د قرآن له لارښوونو، د رسول الله صلی الله علیه و سلم له احادیثو، د صحابه وو له ویناوو او منهج، د ائمه وو، فقهاءو، مفسرینو او محققینو له آراءو په ښکاره توګه معلومیږي چې په حج کې د نارینه او ښځینه حاجیانو د احرام جامه معیاري ده؛ او مسلمان په همدومره جامه مکلف شوی؛ په احرام کې د نارینه لپاره یو لونګ او څادر کافي دئ، نه به سر پټوي او نه پښې تر ښنګریو پوري؛ دا جامه به ئې نه ګنډل شوې وي او نه په ورس او زعفران معطره او رنګینه شوې؛ او مېرمني به نه پر مخ نقاب اچوي او نه به لاس پوښي (دست کشي ) اغوندي؛ له احرام بهر او له دې لازمي حد آخوا، د نارینه او ښځینه جامې هر څه په فضائلو او مستحباتو کې راځي او د انسان خوښي، ظروفو او شرائطو ته پرېښودل شوي؛ هغه چې له دې پرته بله رأی لري؛ د خپلې رأی د اثبات لپاره هیڅ دروند او د منلو وړ دلیل نه لري؛ نه په قرآن کې کوم شاهد؛ نه کوم موثق او معتبر صحیح حدیث؛ نه د مشهورو صحابه وو کومه وینا او منهج، نه د ائمه وو، فقهاءو، مفسرینو او محققینو له آراءو او اقوالو کوم مضبوط قول او سند. تفصیل به ئې په رسالې کې وګورئ.


د میثاق ایثار نشراتي اداره

کابل - دارالامان

Tel: ۰۷۷۰۴۰۱۰۱۷